

# نجم القرآن

## د قرآن کریم اسانه ترجمه او تفسیر

ډاکټر محمد عثمان نظامي

سپاره نمبر 5

# بسم الله الرحمن الرحيم

۞ وَٱلۡمُحۡصَنَٰتُ مِنَ ٱلنِّسَآءِ إِلَّا مَا مَلَكَتۡ أَيۡمَٰنُكُمۡۖ كِتَٰبَ ٱللَّهِ عَلَيۡكُمۡۚ وَأُحِلَّ لَكُم
مَّا وَرَآءَ ذَٰلِكُمۡ أَن تَبۡتَغُواْ بِأَمۡوَٰلِكُم مُّحۡصِنِينَ غَيۡرَ مُسَٰفِحِينَۚ فَمَا ٱسۡتَمۡتَعۡتُم بِهِۦ
مِنۡهُنَّ فَـَٔاتُوهُنَّ أُجُورَهُنَّ فَرِيضَةٗۚ وَلَا جُنَاحَ عَلَيۡكُمۡ فِيمَا تَرَٰضَيۡتُم بِهِۦ مِنۢ بَعۡدِ
ٱلۡفَرِيضَةِۚ إِنَّ ٱللَّهَ كَانَ عَلِيمًا حَكِيمٗا ٢٤

۞ وَٱلۡمُحۡصَنَٰتُ او (حرامې شويدي په تاسو باندې) واده شوي ښځې(چې د بل چا په نکاح کې وي) مِنَ ٱلنِّسَآءِ د ښځو څخه إِلَّا مګر (حرامې نه دي) مَا هغه مَلَكَتۡ أَيۡمَٰنُكُمۡۖ چې تاسو يې مالکان شئ (چې ستاسو وينځې شي) كِتَٰبَ ٱللَّهِ (دا) د الله تعالى حکم دی عَلَيۡكُمۡۚ په تاسو باندې وَأُحِلَّ او حلالې شوي دي لَكُم تاسو ته مَّا هغه(نورې تولې ښځې) وَرَآءَ ذَٰلِكُمۡ چې علاوه د دې(حرامو شوو ښځو)څخه دي(يعنى دا کومې ښځې چې الله تعالى تاسو ته حرامې کړې دي،پرته د دې څخه نورې تولې ښځې الله تعالى تاسو ته حلالې کړيدي،خو په دې شرط ) أَن تَبۡتَغُواْ چې تاسو غواړئ هغوی(ايجاب او قبول کوئ) بِأَمۡوَٰلِكُم په خپلو مالونو سره(مهر ورکوئ) مُّحۡصِنِينَ (او بايد) محصنين اوسئ(يعنى نيت او قصد مو د دوامداره نکاح کولو ، پاکۍ،اولاد او د نسل بقاء وي) غَيۡرَ داسې نه چې مُسَٰفِحِينَۚ مسافحين اوسئ(يعنى چې نيت او مقصد مو صرف په مؤقتي ډول د شهوت او هوس پوره کول وي او نه درسره د اولاد غم وي او نه درسره د نسل فکر وي) فَمَا نو هغه(ښځې) ٱسۡتَمۡتَعۡتُم چې تاسو فايده واخلئ(يعنى چې تاسو د جنسي نيزديکت دپاره استفاده وکړئ) بِهِۦ په

دغه(مهر سره) مِنْهُنَّ د هغوی څخه فَـَٔاتُو نو ورکړئ هُنَّ
هغوی ته أُجُورَ مهرونه هُنَّ د هغوی فَرِيضَةً تاکل شوي(چې
تاسو د نکاح په وخت کې مقرر کړيدي،ځکه چې د جنسي نيزديکت څخه
وروسته د ټول مهر ورکول واجبيږي) وَلَا او نشته جُنَاحَ ګناه
عَلَيْكُمْ په تاسو باندې فِيمَا په هغه(مهر)کې تَرَٰضَيْتُم چې راضي
شئ تاسو بِهِۦ په هغې(مهر)سره(يعنى که څه زيات او کم پکې وکړئ)
مِنۢ بَعْدِ وروسته د ٱلْفَرِيضَةِ مقررولو(ټاکلو) څخه (د نکاح په وخت
کې) إِنَّ ٱللَّهَ بيشکه الله تعالى كَانَ دی عَلِيمًا ښه پوه حَكِيمًا
(او) د حکمت خاوند.٢٤

وَمَن لَّمْ يَسْتَطِعْ مِنكُمْ طَوْلًا أَن يَنكِحَ ٱلْمُحْصَنَٰتِ ٱلْمُؤْمِنَٰتِ فَمِن مَّا مَلَكَتْ
أَيْمَٰنُكُم مِّن فَتَيَٰتِكُمُ ٱلْمُؤْمِنَٰتِ ۚ وَٱللَّهُ أَعْلَمُ بِإِيمَٰنِكُم ۚ بَعْضُكُم مِّنۢ بَعْضٍ ۚ
فَٱنكِحُوهُنَّ بِإِذْنِ أَهْلِهِنَّ وَءَاتُوهُنَّ أُجُورَهُنَّ بِٱلْمَعْرُوفِ مُحْصَنَٰتٍ غَيْرَ
مُسَٰفِحَٰتٍ وَلَا مُتَّخِذَٰتِ أَخْدَانٍ ۚ فَإِذَآ أُحْصِنَّ فَإِنْ أَتَيْنَ بِفَٰحِشَةٍ فَعَلَيْهِنَّ نِصْفُ مَا
عَلَى ٱلْمُحْصَنَٰتِ مِنَ ٱلْعَذَابِ ۚ ذَٰلِكَ لِمَنْ خَشِىَ ٱلْعَنَتَ مِنكُمْ ۚ وَأَن تَصْبِرُوا۟ خَيْرٌ
لَّكُمْ ۗ وَٱللَّهُ غَفُورٌ رَّحِيمٌ ٢٥

وَمَن او څوک لَّمْ يَسْتَطِعْ چې طاقت نلري(چې وسه نلري) مِنكُمْ
د ستاسو څخه طَوْلًا مالي أَن يَنكِحَ د نکاح کولو ٱلْمُحْصَنَٰتِ د
ازادو ٱلْمُؤْمِنَٰتِ مؤمنانو(ښځو سره يعنى چې وينځې نه وي) فَمِن مَّا
نو (نکاح دې وکړي) د هغو وينځو سره مَلَكَتْ أَيْمَٰنُكُم چې تاسو يې
مالکان شوي يئ(چې ستاسو وينځې شوي دي) مِّن فَتَيَٰتِكُمُ ٱلْمُؤْمِنَٰتِ ۚ
ستاسو د مؤمنو وينځو څخه(يعنى که د ازادو مؤمنو ښځو سره د نکاح
کولو وسه نلري نو د مؤمنو وينځو سره دې نکاح وکړي) وَٱللَّهُ او الله
تعالى أَعْلَمُ ښه عالم دی بِإِيمَٰنِكُم ۚ ستاسو په ايمان باندې

بَعْضُكُم ځيني ستاسو مِّنۢ بَعْضٍۚ د ځينې (نورو)نه دي(تاسو يو د بل د
جنس نه يئ) فَٱنكِحُو نو تاسو نكاح وكړئ هُنَّ د هغو (وينځو)سره
بِإِذْنِ په اجازه أَهْلِهِنَّ د مالكانو د هغوى وَءَاتُو او وركړئ تاسو
هُنَّ هغوى ته أُجُورَ مهرونه هُنَّ د هغوى بِٱلْمَعْرُوفِ د
رواج سره سم مُحْصَنَٰتٍ (په دې شرط چې) پاكې وي غَيْرَ
مُسَٰفِحَٰتٍ بد كارې(زناكارې) نه وي وَلَا او نه مُتَّخِذَٰتِ
نيوونكې وي أَخْدَانٍۚ د پټو يارانو(ياربازه نه وي) فَإِذَآ بيا كله چې
أُحْصِنَّ هغوى واده شوي(بيا كله چې هغوى نكاح وكړه) فَإِنْ نو كه
چيرته أَتَيْنَ هغوى وكړه بِفَٰحِشَةٍ بدكارې (زنا) فَعَلَيْهِنَّ نو په
دوى باندې نِصْفُ نيمايې مَا هغه(جزا ده) عَلَى ٱلْمُحْصَنَٰتِ
چې په ازادو ښځو باندې ده مِنَ ٱلْعَذَابِۚ د عذاب ذَٰلِكَ دا(د
وينځو سره د نكاح كولو آسانې) لِمَنْ هغه چاته ده خَشِيَ چې هغه
ويريږي ٱلْعَنَتَ د ګناه نه مِنكُمْۚ ستاسو ځيني وَأَن او كه
تَصْبِرُوا۟ تاسو صبر وكړئ خَيْرٌ غوره دى لَّكُمْۗ تاسو ته وَٱللَّهُ
او الله تعالى غَفُورٌ بښوونكئ رَّحِيمٌ (او)رحيم دى.(25)

يُرِيدُ ٱللَّهُ لِيُبَيِّنَ لَكُمْ وَيَهْدِيَكُمْ سُنَنَ ٱلَّذِينَ مِن قَبْلِكُمْ وَيَتُوبَ عَلَيْكُمْۗ وَٱللَّهُ عَلِيمٌ
حَكِيمٌ ٢٦

يُرِيدُ اراده لري ٱللَّهُ الله تعالى لِيُبَيِّنَ چې بيان كړي لَكُمْ تاسو
ته(احكام خپل) وَيَهْدِيَكُمْ او وښايي تاسو ته سُنَنَ لارې(طريقې)
ٱلَّذِينَ د هغو(نيكانو) مِن قَبْلِكُمْ چې ستاسو نه پخوا وو وَيَتُوبَ او
مهرباني وكړي عَلَيْكُمْۗ په تاسو باندې وَٱللَّهُ او الله تعالى عَلِيمٌ
ښه عالم دى حَكِيمٌ د حكمت خاوند دى.(٢٦)

وَٱللَّهُ يُرِيدُ أَن يَتُوبَ عَلَيۡكُمۡ وَيُرِيدُ ٱلَّذِينَ يَتَّبِعُونَ ٱلشَّهَوَٰتِ أَن تَمِيلُواْ مَيۡلًا عَظِيمًا ٢٧

وَٱللَّهُ او الله تعالی يُرِيدُ اراده لري أَن چې يَتُوبَ مهرباني وکړي عَلَيۡكُمۡ په تاسو باندې وَيُرِيدُ او اراده لري(او غواړي) ٱلَّذِينَ هغه(خلک) يَتَّبِعُونَ چې هغوی پیروي کوي(تابعداري کوي) ٱلشَّهَوَٰتِ د خواهشاتو أَن چې تَمِيلُواْ کاږه شئ تاسو(د حق د لارې نه) مَيۡلًا په کږیدلو عَظِيمًا (ډېرو) لویو(یعنی د حق د لارې نه ډېر زیات کاږه شئ) ٢٧

يُرِيدُ ٱللَّهُ أَن يُخَفِّفَ عَنكُمۡۚ وَخُلِقَ ٱلۡإِنسَٰنُ ضَعِيفًا ٢٨

يُرِيدُ اراده لري ٱللَّهُ الله تعالی أَن چې يُخَفِّفَ عَنكُمۡۚ آساني راولي په تاسو باندې وَخُلِقَ او پیدا شوئ دی ٱلۡإِنسَٰنُ انسان ضَعِيفًا کمزوری(٢٨)

يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ لَا تَأۡكُلُوٓاْ أَمۡوَٰلَكُم بَيۡنَكُم بِٱلۡبَٰطِلِ إِلَّآ أَن تَكُونَ تِجَٰرَةً عَن تَرَاضٖ مِّنكُمۡۚ وَلَا تَقۡتُلُوٓاْ أَنفُسَكُمۡۚ إِنَّ ٱللَّهَ كَانَ بِكُمۡ رَحِيمًا ٢٩

يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ای هغو (خلکو) ءَامَنُواْ چې ایمان یې راوړئ دی (ای مؤمنانو) لَا تَأۡكُلُوٓاْ تاسو مه خورئ أَمۡوَٰلَكُم مالونه ستاسو(د یو بل مالونه) بَيۡنَكُم په خپل منځ کې بِٱلۡبَٰطِلِ په ناحقه سره(په ناروا سره ) إِلَّآ مګر(پرته د هغو مالونو نه) أَن چې تَكُونَ وي هغه(مال) تِجَٰرَةً د تجارت عَن تَرَاضٖ په رضا(او خوښه) مِّنكُمۡۚ د ستاسو وَلَا تَقۡتُلُوٓاْ او تاسو مه وژنئ أَنفُسَكُمۡۚ خپل ځانونه(یو بل مه وژنئ) إِنَّ بیشکه ٱللَّهَ الله تعالی كَانَ دی بِكُمۡ په تاسو باندې رَحِيمًا (ډېر) مهربان.(٢٩)

وَمَن يَفْعَلْ ذَٰلِكَ عُدْوَٰنًا وَظُلْمًا فَسَوْفَ نُصْلِيهِ نَارًا ۚ وَكَانَ ذَٰلِكَ عَلَى ٱللَّهِ يَسِيرًا
٣٠

وَمَن او څوک يَفْعَلْ چې هغه کوي ذَٰلِكَ دا(په ناروا سره يو د بل مال خوړل او يو بل وژل) عُدْوَٰنًا په سرکشۍ(او تيري) وَظُلْمًا او په ظلم فَسَوْفَ نو زر به نُصْلِيهِ مونږ داخل کړو هغه نَارًا ۚ اور ته وَكَانَ او دی ذَٰلِكَ دا (کار) عَلَى ٱللَّهِ الله تعالی ته يَسِيرًا (ډېر) آسان ٣٠

إِن تَجْتَنِبُواْ كَبَآئِرَ مَا تُنْهَوْنَ عَنْهُ نُكَفِّرْ عَنكُمْ سَيِّـَٔاتِكُمْ وَنُدْخِلْكُم مُّدْخَلًا كَرِيمًا
٣١

إِن که تَجْتَنِبُواْ تاسو ځانونه وساتئ كَبَآئِرَ د غټو ګناهونو نه مَا هغه(ګناهونه) تُنْهَوْنَ چې تاسو منع کيږئ عَنْهُ د هغو(ګناهونو) نه نُكَفِّرْ (نو)مونږ به لرې کړو عَنكُمْ ستاسو نه سَيِّـَٔاتِكُمْ ستاسو(واړه) ګناهونه وَنُدْخِلْكُم او مونږ به داخل کړو تاسو مُّدْخَلًا كَرِيمًا ډېر د عزت ځای ته.(٣١)

وَلَا تَتَمَنَّوْاْ مَا فَضَّلَ ٱللَّهُ بِهِۦ بَعْضَكُمْ عَلَىٰ بَعْضٍ ۚ لِّلرِّجَالِ نَصِيبٌ مِّمَّا ٱكْتَسَبُواْ ۖ وَلِلنِّسَآءِ نَصِيبٌ مِّمَّا ٱكْتَسَبْنَ ۚ وَسْـَٔلُواْ ٱللَّهَ مِن فَضْلِهِۦٓ ۗ إِنَّ ٱللَّهَ كَانَ بِكُلِّ شَىْءٍ عَلِيمًا ٣٢

وَلَا تَتَمَنَّوْاْ او تاسو ارمان مه کوئ(خواهش مه کوئ) مَا د هغه شی فَضَّلَ چې غوره کړې دي ٱللَّهُ الله تعالی بِهِۦ په هغه(شی)باندې بَعْضَكُمْ ځينې ستاسو عَلَىٰ بَعْضٍ ۚ په ځينو(نورو) باندې(په دې کې د الله تعالی حکمت دی چې انسانان يې يو د بل څخه مختلف پيدا کړي دي،څوک پاچا څوک ګدا،څوک خايسته څوک بدرنګ،څوک قوی او

څوک کمزوری،څوک مالدار څوک غریب.نو تاسو داسې مه کوئ چې د چا بنګله وګورئ،نو وایئ چې کاشکې چې دا سې بنګله څما هم وه،که د چا ښه موټر وګورئ،نو وایئ چې کاشکې چې دا موټر څما وو،که کوم پهلوان وګورئ نو وایئ چې کاشکې زه هم داسې پهلوان وم،که د ځان ښځه څوک ښایسته وګورې نو وایې چې کاشکې زه هم داسې ښایسته وم.هر څوک باید د الله تعالی په جوړ شوي تقدیر صبر وکړي.

لِّلرِّجَالِ د سړیو دپاره نَصِيبٌ برخه ده مِّمَّا د هغو(اعمالو) ٱكْتَسَبُوا۟ۖ چې هغوی کړي دي وَلِلنِّسَآءِ او د ښځو دپاره نَصِيبٌ برخه ده مِّمَّا د هغو اعمالو ٱكْتَسَبْنَۚ چې دوی کړي دي (د هر چا دپاره د خپلو اعمالو بدل ورکول کیږي) وَسْـَٔلُوا۟ او تاسو غواړئ ٱللَّهَ د الله تعالی نه مِن فَضْلِهِۦٓۚ د هغه (جل جلاله) فضل (مهرباني،یعنی هر شی د الله تعالی ځخه غواړئ،ځکه چې د عزت اوذلت ورکونکئ او اخستونکئ الله تعالی دي ) إِنَّ ٱللَّهَ بیشکه الله تعالی كَانَ دی بِكُلِّ شَىْءٍ په هر شي باندې عَلِيمًا ښه عالم . ٣٢

وَلِكُلٍّ جَعَلْنَا مَوَٰلِىَ مِمَّا تَرَكَ ٱلْوَٰلِدَانِ وَٱلْأَقْرَبُونَۚ وَٱلَّذِينَ عَقَدَتْ أَيْمَـٰنُكُمْ فَـَٔاتُوهُمْ نَصِيبَهُمْۚ إِنَّ ٱللَّهَ كَانَ عَلَىٰ كُلِّ شَىْءٍ شَهِيدًا ٣٣

وَلِكُلٍّ او د هر یو(سړي او ښځې) دپاره جَعَلْنَا مقرر کړي دي مونږ مَوَٰلِىَ وارثان(چې میراث واخلي) مِمَّا د هغه مال نه تَرَكَ چې پریښئ وي ٱلْوَٰلِدَانِ مور او پلار وَٱلْأَقْرَبُونَۚ او نیزدې خپلوانو.

وَٱلَّذِينَ او هغه خلک عَقَدَتْ أَيْمَـٰنُكُمْ چې د هغوسره ستاسو معاهده(او تړون) شوئ دی(یعنی یا مو څوک په وروری نیولئ دی،یا موڅوک په ځوی ولی او یا مو څوک په لور توب نیولي ده،یعنی نسبې او

حقيقي ورور،ځوی او لور مو نه وي) فَـَٔاتُو نو ورکړئ هُمْ دوی ته
نَصِيبَهُمْ ۚ برخه د دوی (په خپل ژوند کې،یعنی دا د خولي
وروڼه،خورګاني او لورګاني ستاسو په میراث کې حق نلري نو که څه
احسان کول ورسره غواړئ نو په خپل ژوند کې یې ورسره وکړئ او یا
ورته وصیت وکړئ،خو ستاسو د مرګ نه وروسته ستاسو د میراث حقدار
صرف هغه خلک دي چا ته یې چې د الله تعالی قانون ورکوي،باید ذکر
شي چې سړی د دریمې حصې مال څخه د زیات وصیت حق نلري. إِنَّ
ٱللَّهَ بیشکه الله تعالی كَانَ دی عَلَىٰ كُلِّ شَىْءٍ په هر شي باندې
شَهِيدًا شاهد(۳۳)

ٱلرِّجَالُ قَوَّٰمُونَ عَلَى ٱلنِّسَآءِ بِمَا فَضَّلَ ٱللَّهُ بَعْضَهُمْ عَلَىٰ بَعْضٍ وَبِمَآ أَنفَقُوا۟ مِنْ أَمْوَٰلِهِمْ ۚ فَٱلصَّٰلِحَٰتُ قَٰنِتَٰتٌ حَٰفِظَٰتٌ لِّلْغَيْبِ بِمَا حَفِظَ ٱللَّهُ ۚ وَٱلَّٰتِى تَخَافُونَ نُشُوزَهُنَّ فَعِظُوهُنَّ وَٱهْجُرُوهُنَّ فِى ٱلْمَضَاجِعِ وَٱضْرِبُوهُنَّ ۖ فَإِنْ أَطَعْنَكُمْ فَلَا تَبْغُوا۟ عَلَيْهِنَّ سَبِيلًا ۗ إِنَّ ٱللَّهَ كَانَ عَلِيًّا كَبِيرًا ٣٤

وَإِنْ خِفْتُمْ شِقَاقَ بَيْنِهِمَا فَٱبْعَثُوا۟ حَكَمًا مِّنْ أَهْلِهِۦ وَحَكَمًا مِّنْ أَهْلِهَآ إِن يُرِيدَآ إِصْلَٰحًا يُوَفِّقِ ٱللَّهُ بَيْنَهُمَآ ۗ إِنَّ ٱللَّهَ كَانَ عَلِيمًا خَبِيرًا ٣٥

ٱلرِّجَالُ سړي قَوَّٰمُونَ حاکمان دي عَلَى ٱلنِّسَآءِ په ښځو باندې
بِمَا ځکه چې فَضَّلَ غوره کړي دي ٱللَّهُ الله تعالی بَعْضَهُمْ
ځینې د هغوی عَلَىٰ بَعْضٍ په ځینو(نورو)باندې(الله تعالی ځینې
صلاحیتونه په ښځو کې داسې ایښي دي چې د هغې صلاحیتونو په اساس
په نرانو بهترې او غوروالئ لري او ځینې صلاحیتونه ئې په نرانو کې
داسې ایښي دي چې د هغې صلاحیتونو په اساس نران په ښځو بهترې او
غوروالئ لري چې د دې صلاحیتونو د جملې څخه یو د مشرۍ او
حاکمیت صلاحیت دی چې الله تعالی د ښځو څخه نرانو ته زیات ورکړئ

دی نو دمشری او حاکمیت په صلاحیت کې نران په ښځو باندې بهتر او غوره دي،فلهذا نارینه د کور باچا،ښځه ئې وزیره او اولادونه یې رعیت دی، وَبِمَآ او(بل) په دې سبب(نارینه په ښځو حاکمان دي أَنفَقُواْ چې هغوی مصرف کوي(د کور،د ښځو او اولادونو) مِنْ أَمْوَٰلِهِمْۚ د خپلو مالونو نه(یعنی په نکاح کې هم خاوندان مهر ورکوي او ښځې یې اخلي،او وروسته هم د ښځو او اولادونو ټول مصارف په خاوندانو وي،نه په ښځو.) فَٱلصَّٰلِحَٰتُ نو نیکانې ښځې قَٰنِتَٰتٌ اطاعت کوونکې وي (د خاوندانو) حَٰفِظَٰتٌ ساتونکې وي(د ځانونو،اولادونو او مالونو) لِّلْغَيْبِ (د خاوندانو) په غیاب(غیب) کې(یعنی پسي شاه د خاوندانو د مالونو ،اولادونو او د ځان ساتنه کوي) بِمَا په سبب حَفِظَ د ساتنې ٱللَّهُۚ د الله تعالی(د الله تعالی په کومک سره) وَٱلَّٰتِى او هغه ښځې تَخَافُونَ چې ویرېږئ تاسو(اندیښمن یئ) نُشُوزَهُنَّ د هغوی د نافرمانۍ(سرکشۍ) څخه فَعِظُو نو نصیحت وکړئ هُنَّ هغوی ته وَ او(که په نصیحت اصلاح نه شوي نو) ٱهْجُرُو تاسو جدا شئ هُنَّ د هغوی نه فِى ٱلْمَضَاجِعِ په بسترو کې(ځانونه ترې خفه او مرور کړئ) وَ او (که په دې هم اصلاح نه شوي نو) ٱضْرِبُو ووهئ هُنَّۖ هغوی(خو په مخ به یې نه وهئ او په بل ځای به ئې هم داسې نه وهئ چې د وهلو داغ پرې پاتې شي) فَإِنْ نو که چیرته أَطَعْنَكُمْ هغوی ستاسو اطاعت وکړي فَلَا تَبْغُواْ نو(بیا) تاسو مه لټوئ عَلَيْهِنَّ د هغوی(په خلاف)باندې سَبِيلًاۗ (نورې) لارې (او بهانې چې یا ئې ووهئ او یا طلاق ورکړئ) إِنَّ ٱللَّهَ بیشکه چې الله تعالی كَانَ دی عَلِيًّا ډېر اوچت كَبِيرًا (او) ډېر لوی(۳۴)

خو که چیرته ښځه او خاوند سره جوړ نشي او خبره د کور نه دباندې ووځي،خپلوان او خلک خبر شي،نو خپلوانو او خلکو ته هم حکم دی چې

تاسو به سیال او تماشا نه کوئ بلکه د دواړو په منځ کې به د روغې او جوړې کوشش کوئ.

وَإِنۡ او که چیرته خِفۡتُمۡ تاسو ویریږئ(تاسو اندیښنه لرئ) شِقَاقَ د مخالفت بَيۡنِهِمَا په منځ د دې دواړو(ښځې او خاوند کې چې ګنې دا معمولي اختلاف به په لوی اختلاف ،جنګ او جدل بدل شي) فَٱبۡعَثُواْ نو(تاسو به تماشا نکوئ بلکه) مقرر کړئ تاسو حَكَمٗا یو منصف(منځګړی) مِّنۡ أَهۡلِهِۦ د هغه(سړي) د کورنۍ نه وَحَكَمٗا او یو منصف(منځګړی) مِّنۡ أَهۡلِهَآ د هغې(ښځې) د کورنۍ نه إِن يُرِيدَآ که چیرته دوی دواړه(ښځه او خاوند یا دواړه منځګړې) غواړي إِصۡلَٰحٗا اصلاح کول يُوَفِّقِ ٱللَّهُ (نو) الله تعالی به موافقت(او جوړښت)راولي بَيۡنَهُمَآۗ د دوی دواړو(ښځې او خاوند) په منځ کې إِنَّ ٱللَّهَ بیشکه الله تعالی كَانَ دی عَلِيمًا ښه پوه خَبِيرٗا ښه خبردار. (۳۵)

۞ وَٱعۡبُدُواْ ٱللَّهَ وَلَا تُشۡرِكُواْ بِهِۦ شَيۡـٔٗاۖ وَبِٱلۡوَٰلِدَيۡنِ إِحۡسَٰنٗا وَبِذِي ٱلۡقُرۡبَىٰ وَٱلۡيَتَٰمَىٰ وَٱلۡمَسَٰكِينِ وَٱلۡجَارِ ذِي ٱلۡقُرۡبَىٰ وَٱلۡجَارِ ٱلۡجُنُبِ وَٱلصَّاحِبِ بِٱلۡجَنۢبِ وَٱبۡنِ ٱلسَّبِيلِ وَمَا مَلَكَتۡ أَيۡمَٰنُكُمۡۗ إِنَّ ٱللَّهَ لَا يُحِبُّ مَن كَانَ مُخۡتَالٗا فَخُورًا ٣٦

وَٱعۡبُدُواْ او تاسو عبادت کوئ ٱللَّهَ د الله تعالی وَلَا تُشۡرِكُواْ او مه شریکوئ بِهِۦ د هغه«جل جلاله»سره شَيۡـٔٗاۖ هیڅ شی وَبِٱلۡوَٰلِدَيۡنِ او د مور او پلار سره إِحۡسَٰنٗا نیکي کوئ وَبِذِي ٱلۡقُرۡبَىٰ او د خپلوانو (سره نیکي کوئ) وَٱلۡيَتَٰمَىٰ او د یتیمانو(سره نیکي کوئ) وَٱلۡمَسَٰكِينِ او د مسکینانو (سره نیکي کوئ) وَٱلۡجَارِ ذِي ٱلۡقُرۡبَىٰ او د نیزدې ګاونډیانو(سره نیکي کوئ) وَٱلۡجَارِ ٱلۡجُنُبِ او د لرې ګاونډیانو (سره نیکې کوئ) وَٱلصَّاحِبِ بِٱلۡجَنۢبِ او د څنګ د ملګرو(سره نیکي

کوئ لكه ښځه،د سفر ملګري،په يو اطاق کې شريک اوسيدونکي ملګري،يا هغه څوک چې د لنډ وخت دپاره درسره ناسته ولاړه کوي لکه په موټر،شفاخانه،کاروبار او مسجد کې) وَٱبْنِ ٱلسَّبِيلِ او د مسافرو(سره نيکي کوئ) وَمَا مَلَكَتْ أَيْمَـٰنُكُمْ ۗ او د خپلو وينځو او غلامانو (سره نيکي کوئ) إِنَّ ٱللَّهَ بيشكه الله تعالی لَا يُحِبُّ نه خوښوي مَن (هغه) څوک كَانَ چې هغه وي مُخْتَالًا کبرجن فَخُورًا فخر کوونکئ.(۳۶)

ٱلَّذِينَ يَبْخَلُونَ وَيَأْمُرُونَ ٱلنَّاسَ بِٱلْبُخْلِ وَيَكْتُمُونَ مَآ ءَاتَىٰهُمُ ٱللَّهُ مِن فَضْلِهِۦ ۗ وَأَعْتَدْنَا لِلْكَـٰفِرِينَ عَذَابًا مُّهِينًا (۳۷

ٱلَّذِينَ هغه خلک يَبْخَلُونَ چې هغوی بخيلي کوي(يعنی په خپل مال کې حقدارانو ته د هغوی حق نه ورکوي) وَيَأْمُرُونَ او امر کوي ٱلنَّاسَ خلکو ته بِٱلْبُخْلِ په بخيلی باندې(د دې دپاره چې:که نور خلک د خوار او غريب حق ورکوي نو د ته به خلک په بده سترګه ګوري او په ټولنه کې به يې عزت کم شي، نو په دې خاطر که څوک د خوار او غريب سره يا د الله تعالی په لار کې کومک کوي نو دوی ورته وايي چې ولي خپل مالونه بې ځايه مصرفوي،د خپلي آينده او د اولادونو غم وخوره،پيسې بچت کړه کم تر کمه که د ځان فکر درسره نه وي نو د اولادونو دپاره خو يو کار او بار جوړ کړه چې صبا دې اولادونه احتياج نشي) وَيَكْتُمُونَ او پټوي دوی مَآ هغه(مال او دولت) ءَاتَىٰهُمُ چې ورکړئ دی دوی ته ٱللَّهُ الله تعالی مِن فَضْلِهِۦ ۗ د خپل فضل نه(مال د دې دپاره پټوي چې کوم غريب او محتاج ترې نه څه ونه غواړي) وَأَعْتَدْنَا او تيار کړئ دی مونږ لِلْكَـٰفِرِينَ کافرانو ته عَذَابًا مُّهِينًا سپکوونکئ عذاب ۳۷

وَٱلَّذِينَ يُنفِقُونَ أَمۡوَٰلَهُمۡ رِئَآءَ ٱلنَّاسِ وَلَا يُؤۡمِنُونَ بِٱللَّهِ وَلَا بِٱلۡيَوۡمِ ٱلۡـَٔاخِرِۗ وَمَن
يَكُنِ ٱلشَّيۡطَٰنُ لَهُۥ قَرِينٗا فَسَآءَ قَرِينٗا (٣٨)

وَٱلَّذِينَ او هغه خلک يُنفِقُونَ چې مصرفوي أَمۡوَٰلَهُمۡ مالونه خپل رِئَآءَ ٱلنَّاسِ خلکو ته د ځان ښودلو دپاره(دا د منافقانو بل خاصيت دی چې د الله د رضا دپاره يوه پيسه نه مصرفوي خو کله چې د رياکارۍ او ځان ښودني ځای راشي نو بيا د شهرت او د دنيا د عزت دپاره خيراتونه او کومکونه کوي) وَ او(په حقيقت کې داسې خلک چې د الله تعالی د رضا دپاره هيڅ نه کوي او د ريا او شهرت دپاره هر څه کوي) لَا يُؤۡمِنُونَ ايمان نلري بِٱللَّهِ په الله تعالی باندې وَلَا بِٱلۡيَوۡمِ او نه په او ورځ ٱلۡـَٔاخِرِۗ د آخرت باندې (نو د داسې خلکو ملګرې شيطان وي،يعنی انسي شيطان يا جيني شيطان) وَمَن او(هغه) څوک يَكُنِ چې وي ٱلشَّيۡطَٰنُ شيطان لَهُۥ د هغه قَرِينٗا ملګرې فَسَآءَ نو(په دې کې شک نشته چې) هغه(شيطان) ډېر بد قَرِينٗا ملګرې دی(هيڅ کله به ترې ښه ورځ په سترګو ونه ګوري) ٣٨

وَمَاذَا عَلَيۡهِمۡ لَوۡ ءَامَنُواْ بِٱللَّهِ وَٱلۡيَوۡمِ ٱلۡـَٔاخِرِ وَأَنفَقُواْ مِمَّا رَزَقَهُمُ ٱللَّهُۚ وَكَانَ ٱللَّهُ
بِهِمۡ عَلِيمًا ٣٩

وَمَاذَا او څه به شوي ول عَلَيۡهِمۡ په دې(کافرانو)باندې لَوۡ که چيرته ءَامَنُواْ دوی ايمان راوړئ وو بِٱللَّهِ په الله تعالی باندې وَٱلۡيَوۡمِ او په ورځ ٱلۡـَٔاخِرِ د آخرت باندې وَأَنفَقُواْ او مصرف يې کړئ وو(د الله تعالی د رضا دپاره) مِمَّا د هغه(مال)نه چې رَزَقَهُمُ ورکړئ دوی ته ٱللَّهُۚ الله تعالی (يعنی هيڅ تاوان به يې نه وو کړئ،بلکه الله تعالی به د جنت پشان نعمت ورکړئ وو) وَكَانَ او دی

ٱللَّهُ الله تعالى بِهِمۡ په دوی(کافرو) باندې عَلِيمًا ښه عالم(د دوی په ټولو اعمالو الله تعالى ښه پوه دی). (۳۹)

إِنَّ ٱللَّهَ لَا يَظۡلِمُ مِثۡقَالَ ذَرَّةٖۖ وَإِن تَكُ حَسَنَةٗ يُضَٰعِفۡهَا وَيُؤۡتِ مِن لَّدُنۡهُ أَجۡرًا عَظِيمٗا ٤٠

إِنَّ ٱللَّهَ بیشکه الله تعالى لَا يَظۡلِمُ ظلم نه کوي مِثۡقَالَ په اندازه ذَرَّةٖۖ د یوی زرې(اتوم) وَإِن او که چیرته تَكُ وي حَسَنَةٗ یوه نیکي يُضَٰعِفۡهَا هغه(جل جلاله) ئې دوه چنده کوي(یعنی الله تعالى په هیڅچا ظلم نه کوي بلکه د بنده نیکی هم څو چنده زیاتوي) وَيُؤۡتِ او ورکوي مِن لَّدُنۡهُ د خپل طرف څخه أَجۡرًا عَظِيمٗا (ډېر) لوی اجر (۴۰)

فَكَيۡفَ إِذَا جِئۡنَا مِن كُلِّ أُمَّةِۭ بِشَهِيدٖ وَجِئۡنَا بِكَ عَلَىٰ هَٰٓؤُلَآءِ شَهِيدٗا ٤١

يَوۡمَئِذٖ يَوَدُّ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ وَعَصَوُاْ ٱلرَّسُولَ لَوۡ تُسَوَّىٰ بِهِمُ ٱلۡأَرۡضُ وَلَا يَكۡتُمُونَ ٱللَّهَ حَدِيثٗا ٤٢

فَكَيۡفَ نو څه حال به وي (په هغه وخت کې) إِذَا چې کله جِئۡنَا مونږ راولوو مِن كُلِّ أُمَّةِۭ د هر یو(پخواني) امت څخه بِشَهِيدٖ یو شاهد(د دوی د پیغمبرانو څخه) وَجِئۡنَا او راولوو بِكَ تا (ای محمده«صلى الله علیه وسلم») عَلَىٰ هَٰٓؤُلَآءِ په دغه (محمدي امت«صلى الله علیه وسلم»باندې) شَهِيدٗا شاهد.(۴۱)

يَوۡمَئِذٖ په دغه ورځ به يَوَدُّ ارزو کوي(ارمان کوي) ٱلَّذِينَ هغه خلک كَفَرُواْ چې کفر یې کولو وَعَصَوُاْ او نافرماني یې کوله ٱلرَّسُولَ د پیغمبر علیه السلام(په دنیا کې،نو دا کافران به دا ارزو او

ارمان كوي چې:) لَوْ كاشكې تُسَوَّىٰ هواره شوي وه(همواره شوي وه) بِهِمُ په هغوی باندې ٱلْأَرْضُ ځمکه (یعنی چې د ځمکې لاندې مړه پاتې شوي وو او بیا نه وو راژوندي شوي او لکه د حیواناتو پشان خاورې شوي وو چې حساب او عذاب وربانديې نه وو.) وَلَا يَكْتُمُونَ او دوی به نشي پټولای ٱللَّهَ د الله تعالی نه حَدِيثًا هيڅ خبره ٤٢

يَـٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ لَا تَقْرَبُوا۟ ٱلصَّلَوٰةَ وَأَنتُمْ سُكَـٰرَىٰ حَتَّىٰ تَعْلَمُوا۟ مَا تَقُولُونَ وَلَا جُنُبًا إِلَّا عَابِرِى سَبِيلٍ حَتَّىٰ تَغْتَسِلُوا۟ ۚ وَإِن كُنتُم مَّرْضَىٰٓ أَوْ عَلَىٰ سَفَرٍ أَوْ جَآءَ أَحَدٌ مِّنكُم مِّنَ ٱلْغَآئِطِ أَوْ لَـٰمَسْتُمُ ٱلنِّسَآءَ فَلَمْ تَجِدُوا۟ مَآءً فَتَيَمَّمُوا۟ صَعِيدًا طَيِّبًا فَٱمْسَحُوا۟ بِوُجُوهِكُمْ وَأَيْدِيكُمْ ۗ إِنَّ ٱللَّهَ كَانَ عَفُوًّا غَفُورًا ٤٣

يَـٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ اى هغو خلکو ءَامَنُوا۟ چې ايمان يې راوړې دی (ای مؤمنانو) لَا تَقْرَبُوا۟ تاسو مه نيزدې کيږئ ٱلصَّلَوٰةَ لمانځه ته وَأَنتُمْ په داسې حال کې چې تاسو سُكَـٰرَىٰ نشه يئ حَتَّىٰ د هغ ې پورې تَعْلَمُوا۟ چې پوهيږئ مَا په هغه(څه) تَقُولُونَ چې تاسو يې وايئ(یعنی ترڅو چې در څخه نشه او بیهوشي نه وي تلې،او تر څو چې څه وايې او پرې پوه نشئ نو د هغې پورې به لمونځ نکوي) وَلَا او نه(به په داسې حال کې لمونځ کوئ) جُنُبًا چې جنوب يئ إِلَّا مګر عَابِرِى سَبِيلٍ لاروي(مسافر،که اوبه پيدا نکړي،نو تيمم دې ووهي او لمونځ دې وکړي،مګر د کورونو خلک خو اکثره اوبه لري نو د اوبو په موجوديت کې به د هغې پورې لمونځ نه کوئ) حَتَّىٰ ترڅو تَغْتَسِلُوا۟ ۚ چې تاسو غسل وکړئ(نو د غسل نه وروسته به لمونځ کوئ) وَإِن او که چيرته كُنتُم تاسو يئ مَّرْضَىٰٓ مريضان أَوْ يا عَلَىٰ سَفَرٍ په سفر باندې أَوْ يا جَآءَ راشي أَحَدٌ کوم يو مِّنكُم د ستاسو مِّنَ ٱلْغَآئِطِ د قضائې حاجت نه أَوْ يا لَـٰمَسْتُمُ نيزدېکت

وکړئ ٱلنِّسَآءَ د ښځو سره فَلَمْ تَجِدُواْ او پیدا نه کړئ مَآءً اوبه فَتَيَمَّمُواْ نو تیمم وکړئ(نو تیمم ووهئ) صَعِيدًا طَيِّبًا (په) پاکه خاوره فَٱمْسَحُواْ نو مسح وکړئ بِوُجُوهِكُمْ په خپلو مخونو باندې وَأَيْدِيكُمْۗ او په خپلو لاسونو باندې(د څنګلو پورې) إِنَّ ٱللَّهَ بیشکه الله تعالی كَانَ دی عَفُوًّا ښه عفوه کوونکئ غَفُورًا (او) ښه بښوونکئ (۴۳)

په دې مبارک آیت کې څو لارښودني شوې دي:

* لمونځ په داسې حال کې مه کوئ چې په دې نه پوهیږئ چې څه وایئ، یعنی باید خپلو خبرو ته مو پام وي چې څه وایئ باید ورباندې پوهیږئ،چې د دې څخه په واضح ډول معلومیږي چې د د لمانځه په الفاظو او معنی پوهیدل ضرور دي،ځکه تر څو چې څوک په معنی پوه نشي نو هغه نه پوهیږي چې زه څه وایم او څه غواړم.

* که د ضرورت په اساس د غسل کولو دپاره څوک اوبه نشي استعمالولای او یا اوبه نه وي،نو په پاکه خاوره باندې باید تیمم وکړي،په دې هر څوک پوهیږي چې په اوبو سړی پاکیږي،خو دا چې په خاوره سړی څنګه پاکیږي ان شاء الله د دې خبرې وضاحت کوو!

که تاسو مرغانو او حیواناتو ته ځیر شئ وبه ګورئ چې:که اوبه پیدا کړي نو ځانونه په کې اچوي،په خپلو وزرونو ځانونو ته اوبه شیندي،او که اوبه پیدا نکړي نو په خاورو کې رغړي په خپلو وزرونو او ښکرونو ځانونو ته خاوري شیندي،دوی ته د غسل او تیمم فطري لارښودنه شوي ده،او مونږ انسانانو ته شرعي لارښودنه شوي ده.یعنی الله تعالی د غسل او تیمم په اړه په هغه څه مکلف کړي یو چې حیوات او مرغان يې د خپل فطرت

په حکم کوي، یوه وړه مرغۍ هره ورځ څو-څو ځله په خاورو کې رغړي او د رغړېدو په وخت کې کوشش کوي چې د خپلې هرې بڼکې بیخ ته خاوره ورسوي، دا یې یو ضرورت دی ځکه چې د دې پواسطه یې پوستکی د ډېرو جلدي مرضونو څخه بچ ساتل کیږي،او دا یې د علاج طریقه ده.اکثره میکروبونه هم په اوبو د منځه ځي او هم په خاوره،په دې ډول که چیرته اوبه وروړسیږي نو اوبه ئې وجود ته ننوځي چې میکروب پرسیږي او بلآخره د ډیرو پړسیدو په سبب چوي. او که چیرته خاوره وروړسیږي یعنی خاوره ورسره په تماس کې شي نو خاوره د میکروب د وجود نه اوبه جذبوي، غونجیږي او بلآخره مري او د منځه ځي.

أَلَمْ تَرَ إِلَى ٱلَّذِينَ أُوتُوا۟ نَصِيبًا مِّنَ ٱلْكِتَـٰبِ يَشْتَرُونَ ٱلضَّلَـٰلَةَ وَيُرِيدُونَ أَن تَضِلُّوا۟ ٱلسَّبِيلَ ٤٤

أَلَمْ تَرَ ایا تا نه دي لیدلي(ایا ته نه ګوري) إِلَى ٱلَّذِينَ هغه خلک أُوتُوا۟ چې ورکول شوي ده هغوی ته نَصِيبًا یو(څه)برخه مِّنَ ٱلْكِتَـٰبِ د کتاب (د علم نه،خو دوی د دنیا د عزت،دولت او شهرت دپاره د الله تعالی د کتاب څه آیاتونه د خلکو نه پټوي،او د ځینو آیاتونو تاویل او

تفسیر په خپله خوښه د خپل عزت او شهرت د زیاتوالي دپاره کوي ،نو دا خلک) يَشْتَرُونَ ٱلضَّلَـٰلَةَ (پخپله هم د ځان دپاره) ګمراهي اخلي وَيُرِيدُونَ او غواړي أَن چې تَضِلُّوا۟ٱلسَّبِيلَ تاسو هم سمه لار ورکه کړئ (۴۴)

وَٱللَّهُ أَعْلَمُ بِأَعْدَآئِكُمْ ۚ وَكَفَىٰ بِٱللَّهِ وَلِيًّا وَكَفَىٰ بِٱللَّهِ نَصِيرًا ٤٥

وَٱللَّهُ او الله تعالی أَعْلَمُ ښه عالم دی بِأَعْدَآئِكُمْ ۚ ستاسو په دښمنانو باندې(نو الله تعالی تاسو خبروي،چې دښمنان مو د مسلمانانو په

جامو کې دوکه نکړي،او د دوی د دروغو او منافقت څخه په ډکو وعدو باندې ونه غولیږئ،دوی ستاسو دوستان نه دي بلکې منافقان،مطلبیان او دوکه ماران دي) وَكَفَىٰ او (ستاسو دپاره) کافي دی (بس دی) بِٱللَّهِ الله تعالی وَلِيًّا دوست وَكَفَىٰ او کافي دی(اوستاسو دپاره بس دی) بِٱللَّهِ الله تعالی نَصِيرًا کومک کوونکئ(ای مؤمنانو ستاسو دپاره د الله تعالی کومک او دوستي بس دی،دا خلک د اسلام په جامو کې نه ستاسو دوستان دي او نه ستاسو کومک کوونکې دي بلکې د دروغو په وعدو تاسو د حق څخه اړول غواړي) (۴۵)

مِّنَ ٱلَّذِينَ هَادُواْ يُحَرِّفُونَ ٱلْكَلِمَ عَن مَّوَاضِعِهِۦ وَيَقُولُونَ سَمِعْنَا وَعَصَيْنَا وَٱسْمَعْ غَيْرَ مُسْمَعٍ وَرَٰعِنَا لَيًّا بِأَلْسِنَتِهِمْ وَطَعْنًا فِى ٱلدِّينِ ۚ وَلَوْ أَنَّهُمْ قَالُواْ سَمِعْنَا وَأَطَعْنَا وَٱسْمَعْ وَٱنظُرْنَا لَكَانَ خَيْرًا لَّهُمْ وَأَقْوَمَ وَلَـٰكِن لَّعَنَهُمُ ٱللَّهُ بِكُفْرِهِمْ فَلَا يُؤْمِنُونَ إِلَّا قَلِيلًا ٤٦

مِّنَ ٱلَّذِينَ ځینې د هغو خلکو هَادُواْ چې یهودیان دي يُحَرِّفُونَ بدلوي(په خبرو کې) ٱلْكَلِمَ الفاظ عَن مَّوَاضِعِهِۦ د خپلو ځایونو نه وَ او(کله چې دوي ته الهي احکام بیان کړي) يَقُولُونَ دوی وایې سَمِعْنَا مونږ واوریدل(تا چې څه احکام بیان کړل) وَعَصَيْنَا او ومو نه منل(یعنی د (سَمِعنَا)سره یوځای په زړه کې او یا ورو-ورو (عَصَينَا)هم وایې،مطلب دا چې ستا خبرې مو واوریدلې خو منو یې نه) وَ او کله چې د پیغمبر علیه السلام سره خبرې کوي وایې چې:) ٱسْمَعْ واوره غَيْرَ مُسْمَعٍ وانه وري ته (یعنی غوږونه دي کانه شه چې هیڅ شی وانه وري،مطلب دا دی چې د اسمع«واوره» د لفظ سره د «غیر مسمع» لفظ یو ځای کوي چې یو قسم بې ادبي او خیرا ده یعنی کوڼ شې.) وَ او (کله چې پیغمبر علیه السلام ته خطاب کوي نو وایې چې:) رَٰعِنَا

زمونږ رعايت وكړه(خو دوى د« رَاعِنَا» لفظ ) لَيًّا تاووى
بِأَلْسِنَتِهِمْ په خپلو ژبو باندې (او د «رَاعِنَا» څخه «رَاعِينَا» جوړوي
چې د دوى په نزد يې معنى او مطلب شپونكئ او كم عقل دى،يعنى
نعوذبالله اى كم عقله يا اى زمونږ شپونكيه) وَطَعْنًا فِى ٱلدِّينِ ۚ او په
دين كې د عيب راوښكلو (او د مسلمانانو د عقيدو د خرابولو دپاره دوى دا
كارونه كوي،يعنى دوى وايې چې كه دا دين حق وي نو مونږ به يې
سپكاوئ نه وو كړئ،او كه نبي عليه السلام په رښتيا پيغمبر وي نو
زمونږ د بد نيتى او منافقت په باره كې به ورته وحې شوي وه،نو څرنګه
چې الله تعالى ته د دوى ټول رازونه معلوم دي پخپل وخت سره ئې رسوا
كوي،نو فرمايي:) وَلَوْ او كه چيرته أَنَّهُمْ يقيناً دوى قَالُواْ
ويلئ سَمِعْنَا چې مونږ واوريدل(الهي احكام) وَأَطَعْنَا او مونږ
ومنل(يعنى د «عصينا -مونږ ونه منل» په ځاى يې«اطعنا-مونږ ومنل»
ويلئ) وَٱسْمَعْ او واوره(يعنى كه يواځې «اسمع——واوره» يې ويلئ
او (غير مسمع——كوڼ شي» يې ورسره نه يوځاى كولاى) وَٱنظُرْنَا او
مونږ ته اوګوره (يعنى كه د «راعينا -اى زمونږ شپونكيه» په ځاى يې
«انظرنا-مونږ ته اوګوره»ويلئ) لَكَانَ خَيْرًا بيشكه دېره به بهتره
وه(ډېره به غوره وه) لَّهُمْ دوى ته وَأَقْوَمَ او زياته درسته(به وه
دوى ته) وَلَٰكِن ليكن لَّعَنَهُمُ لعنت كړئ دى په دوى ٱللَّهُ الله
تعالى بِكُفْرِهِمْ په سبب د كفر د دوى فَلَا يُؤْمِنُونَ نو ايمان نه
راوړي دوى إِلَّا مګر قَلِيلًا لږ (د دوى ايمان راوړي) (۴۶)

يَـٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ أُوتُواْ ٱلْكِتَـٰبَ ءَامِنُواْ بِمَا نَزَّلْنَا مُصَدِّقًا لِّمَا مَعَكُم مِّن قَبْلِ أَن نَّطْمِسَ وُجُوهًا فَنَرُدَّهَا عَلَىٰٓ أَدْبَارِهَآ أَوْ نَلْعَنَهُمْ كَمَا لَعَنَّآ أَصْحَـٰبَ ٱلسَّبْتِ ۚ وَكَانَ أَمْرُ ٱللَّهِ مَفْعُولًا ٤٧

يَـٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ای هغو کسانو أُوتُواْ چې ورکول شوئ دی ٱلْكِتَـٰبَ کتاب(ای اهل کتابو) ءَامِنُواْ ایمان راوړئ بِمَا په هغه(قرآن) نَزَّلْنَا چې مونږ نازل کړئ دی مُصَدِّقًا چې تصدیق کوونکئ دی لِّمَا د هغه(تورات او انجیل دپاره) مَعَكُم چې ستاسو سره دي مِّن قَبْلِ مخکې د دې(ایمان راوړئ) أَن چې نَّطْمِسَ مونږ محوه کړو وُجُوهًا څه مخونه فَنَرُدَّهَا او بیا واړوو دغه (مخونه) عَلَىٰٓ أَدْبَارِهَآ خپلو شاګانو ته أَوْ یا نَلْعَنَهُمْ مونږ لعنت وکړو په دوی كَمَا لکه څنګه چې لَعَنَّآ مونږ لعنت کړئ وو أَصْحَـٰبَ په خاوندانو ٱلسَّبْتِ ۚ د خالي (د ورځې،د چا چې وجودونه مسخ او شادیګان ترې جوړ شو) وَكَانَ او دی أَمْرُ ٱللَّهِ حکم د الله تعالى مَفْعُولًا کیدونکئ (۴۷)

إِنَّ ٱللَّهَ لَا يَغْفِرُ أَن يُشْرَكَ بِهِۦ وَيَغْفِرُ مَا دُونَ ذَٰلِكَ لِمَن يَشَآءُ ۚ وَمَن يُشْرِكْ بِٱللَّهِ فَقَدِ ٱفْتَرَىٰٓ إِثْمًا عَظِيمًا ٤٨

إِنَّ ٱللَّهَ بیشکه الله تعالى لَا يَغْفِرُ نه بخښې أَن يُشْرَكَ شرک کول بِهِۦ دهغه «جل جلاله» سره وَيَغْفِرُ او هغه«جل جلاله»بخښې مَا هغه(ګناهونه) دُونَ ذَٰلِكَ چې علاوه د (شرک) نه دي لِمَن يَشَآءُ ۚ چا ته چې هغه«جل جلاله»غواړي(یعنی د چا اعمال چې د الله تعالى په عدالت کې د بخښنې مستحق شي او د الله تعالى انصاف او عدالت ورباندې د بخښنې فیصله وکړي نو الله تعالى ئې بخښي) وَمَن او څوک يُشْرِكْ چې شریک نیسي بِٱللَّهِ د الله تعالى سره فَقَدِ نو

یقیناً ٱفۡتَرَىٰٓ هغه وتړل دروغ(او تهمت په الله تعالی) إِثۡمًا د ګناه عَظِيمًا ډېرې غټې(یعنی د الله تعالی سره بل څوک شریکول یا الله تعالی ته دځوی،لور او ښځې ثابتول،دا په الله تعالی باندې لوی دروغ او تهمت ویل او ډېره لویه عظیمه ګناه ده چې د الله په نزد د بخښلو وړ نه ده. (۴۸)

مِّنَ ٱلَّذِينَ هَادُواْ يُحَرِّفُونَ ٱلۡكَلِمَ عَن مَّوَاضِعِهِۦ وَيَقُولُونَ سَمِعۡنَا وَعَصَيۡنَا وَٱسۡمَعۡ غَيۡرَ مُسۡمَعٖ وَرَٰعِنَا لَيَّۢا بِأَلۡسِنَتِهِمۡ وَطَعۡنٗا فِي ٱلدِّينِۚ وَلَوۡ أَنَّهُمۡ قَالُواْ سَمِعۡنَا وَأَطَعۡنَا وَٱسۡمَعۡ وَٱنظُرۡنَا لَكَانَ خَيۡرٗا لَّهُمۡ وَأَقۡوَمَ وَلَٰكِن لَّعَنَهُمُ ٱللَّهُ بِكُفۡرِهِمۡ فَلَا يُؤۡمِنُونَ إِلَّا قَلِيلٗا ٤٦

مِّنَ ٱلَّذِينَ ځینې د هغو خلکو هَادُواْ چې یهودیان دي يُحَرِّفُونَ بدلوي(په خبرو کې) ٱلۡكَلِمَ الفاظ عَن مَّوَاضِعِهِۦ د خپلو ځایونو نه وَ او(کله چې دوي ته الهي احکام بیان کړي) يَقُولُونَ دوی وایې سَمِعۡنَا مونږ واورېدل(تا چې څه احکام بیان کړل) وَعَصَيۡنَا او ومو نه منل(یعنی د (سَمِعنَا)سره یوځای په زړه کې او یا ورو-ورو (عَصَينَا)هم وایې،مطلب دا چې ستا خبرې مو واورېدلې خو منو یې نه) وَ او کله چې د پیغمبر علیه السلام سره خبرې کوي وایې چې:) ٱسۡمَعۡ واوره غَيۡرَ مُسۡمَعٖ وانه وري ته (یعنی غوږونه دې کاڼه شه چې هیڅ شی وانه وري،مطلب دا دی چې د اسمع«واوره» د لفظ سره د «غیر مسمع» لفظ یو ځای کوي چې یو قسم بې ادبي او خیرا ده یعنی کوڼ شې.) وَ او (کله چې پیغمبر علیه السلام ته خطاب کوي نو وایې چې:) رَٰعِنَا زمونږ رعایت وکړه(خو دوی د« رَاعِنَا» لفظ ) لَيَّۢا تاووی بِأَلۡسِنَتِهِمۡ په خپلو ژبو باندې (او د «رَاعِنَا» څخه «رَاعِينَا» جوړوي چې د دوی په نزد یې معنی او مطلب شپونکۍ او کم عقل دی،یعنی

نعوذبالله ای کم عقله یا ای زمونږ شپونکیه) وَطَعۡنًا فِى ٱلدِّينِۚ او په
دين کې د عيب راوښکلو (او د مسلمانانو د عقيدو د خرابولو دپاره دوی دا
کارونه کوي،يعنی دوی وايې چې که دا دين حق وي نو مونږ به يې
سپکاوئ نه وو کړئ،او که نبي عليه السلام په رښتيا پيغمبر وي نو
زمونږ د بد نيتی او منافقت په باره کې به ورته وحې شوي وه،نو څرنګه
چې الله تعالی ته د دوی ټول رازونه معلوم دي پخپل وخت سره ئې رسوا
کوي،نو فرمايي:) وَلَوۡ او که چيرته أَنَّهُمۡ يقيناً دوی قَالُواْ
ويلئ سَمِعۡنَا چې مونږ واوريدل(الهي احکام) وَأَطَعۡنَا او مونږ
ومنل(يعنی د «عصينا -مونږ ونه منل» په ځای يې«اطعنا-مونږ ومنل»
ويلئ) وَٱسۡمَعۡ او واوره(يعنی که يواځې «اسمع---واوره» يې ويلئ
او (غير مسمع---کوڼ شي» يې ورسره نه يوځای کولای) وَٱنظُرۡنَا او
مونږ ته اوګوره (يعنی که د «راعينا -ای زمونږ شپونکيه» په ځای يې
«انظرنا-مونږ ته اوګوره»ويلئ) لَكَانَ خَيۡرًا بيشکه ډيره به بهتره
وه(ډيره به غوره وه) لَّهُمۡ دوی ته وَأَقۡوَمَ او زياته درسته(به وه
دوی ته) وَلَٰكِن ليکن لَّعَنَهُمُ لعنت کړئ دی په دوی ٱللَّهُ الله
تعالی بِكُفۡرِهِمۡ په سبب د کفر د دوی فَلَا يُؤۡمِنُونَ نو ايمان نه
راوړي دوی إِلَّا مګر قَلِيلًا لږ (د دوی ايمان راوړي) (۴۶)

يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ أُوتُواْ ٱلۡكِتَٰبَ ءَامِنُواْ بِمَا نَزَّلۡنَا مُصَدِّقًا لِّمَا مَعَكُم مِّن قَبۡلِ أَن نَّطۡمِسَ وُجُوهًا فَنَرُدَّهَا عَلَىٰٓ أَدۡبَارِهَآ أَوۡ نَلۡعَنَهُمۡ كَمَا لَعَنَّآ أَصۡحَٰبَ ٱلسَّبۡتِۚ وَكَانَ أَمۡرُ ٱللَّهِ مَفۡعُولًا ٤٧

يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ای هغو کسانو أُوتُواْ چې ورکول شوئ دی ٱلۡكِتَٰبَ
کتاب(ای اهل کتابو) ءَامِنُواْ ايمان راوړئ بِمَا په هغه(قرآن)

نَزَّلْنَا چې مونږ نازل کړئ دی مُصَدِّقًا چې تصديق کوونکئ دی
لِّمَا د هغه(تورات او انجيل دپاره) مَعَكُم چې ستاسو سره دي مِّن
قَبْلِ مخکې د دې(ايمان راوړئ) أَن چې نَّطْمِسَ مونږ محوه کړو
وُجُوهًا څه مخونه فَنَرُدَّهَا او بيا واړوو دغه (مخونه) عَلَىٰٓ أَدْبَارِهَآ
خپلو شاګانو ته أَوْ يا نَلْعَنَهُمْ مونږ لعنت وکړو په دوی كَمَا
لکه څنګه چې لَعَنَّآ مونږ لعنت کړئ وو أَصْحَٰبَ په خاوندانو
ٱلسَّبْتِ ۚ د خالي (د ورځې،د چا چې وجودونه مسخ او شاديګان ترې
جوړ شوي وو) وَكَانَ او دی أَمْرُ ٱللَّهِ حکم د الله تعالی مَفْعُولًا
کيدونکئ (۴۷)

إِنَّ ٱللَّهَ لَا يَغْفِرُ أَن يُشْرَكَ بِهِۦ وَيَغْفِرُ مَا دُونَ ذَٰلِكَ لِمَن يَشَآءُ ۚ وَمَن يُشْرِكْ بِٱللَّهِ فَقَدِ ٱفْتَرَىٰٓ إِثْمًا عَظِيمًا ٤٨

إِنَّ ٱللَّهَ بيشکه الله تعالی لَا يَغْفِرُ نه بخښې أَن يُشْرَكَ شرک کول
بِهِۦ دهغه «جل جلاله» سره وَيَغْفِرُ او هغه«جل جلاله»بخښې مَا
هغه(ګناهونه) دُونَ ذَٰلِكَ چې علاوه د (شرک) نه دي لِمَن يَشَآءُ ۚ
چا ته چې هغه«جل جلاله»غواړي(يعنی د چا اعمال چې د الله تعالی په
عدالت کې د بخښنې مستحق شي او د الله تعالی انصاف او عدالت
وربانديې د بخښنې فيصله وکړي نو الله تعالی ئې بخښي) وَمَن او
څوک يُشْرِكْ چې شريک نيسي بِٱللَّهِ د الله تعالی سره فَقَدِ نو
يقيناً ٱفْتَرَىٰٓ هغه وتړل دروغ(او تهمت په الله تعالی) إِثْمًا د ګناه
عَظِيمًا ډيرې غټې(يعنی د الله تعالی سره بل څوک شريکول يا الله تعالی
ته دځوی،لور او ښځې ثابتول،دا په الله تعالی بانديې لوی دروغ او تهمت
ويل او ډيره لويه عظيمه ګناه ده چې د الله په نزد د بخښلو وړ نه ده.
(۴۸)

أَلَمۡ تَرَ إِلَى ٱلَّذِينَ يُزَكُّونَ أَنفُسَهُمۚ بَلِ ٱللَّهُ يُزَكِّى مَن يَشَآءُ وَلَا يُظۡلَمُونَ فَتِيلًا
٤٩

أَلَمۡ تَرَ آيا تا نه دي کتلي إِلَى ٱلَّذِينَ هغو خلکو ته يُزَكُّونَ چې پاکوي هغوی أَنفُسَهُمۚ خپل ځانونه(خلکو ته،يعنی خلکو ته ځانونه نيکان،د الله دوستان جنتيان او بشر دوستان معرفي کوي،خو حقيقت داسې نه دی.) بَلِ بلکې ٱللَّهُ الله تعالی يُزَكِّى پاکوي مَن يَشَآءُ چا ته چې هغه«جل جلاله غواړي(ځوک چې د الله تعالی رضا حاصل کړي نو الله تعالی ورته د نيکو اعمالو توفيق ورکوي او د نيکو اعمالو پواسطه يې پاکوي) وَ او(دا په ظاهره پاک،نيکان او د بشر دوستان او په باطن کې ناپاک،بدان او دبشر دښمنان) لَا يُظۡلَمُونَ په دوی به ظلم نه کيږي فَتِيلًا د( کجوري د) نري تارپه اندازه(د الله تعالی د خوا نه،مګر د دوی د کفر او منافيقت جزا به ورکوي)٤٩

ٱنظُرۡ كَيۡفَ يَفۡتَرُونَ عَلَى ٱللَّهِ ٱلۡكَذِبَۖ وَكَفَىٰ بِهِۦٓ إِثۡمًا مُّبِينًا ٥٠

ٱنظُرۡ ته اوګوره كَيۡفَ چې څنګه يَفۡتَرُونَ هغوی جوړوي عَلَى ٱللَّهِ په الله تعالی باندې ٱلۡكَذِبَۖ دروغ (يهود وايې عزير عليه السلام د الله تعالی ځوی دی،نصاري وايې عيسی عليه السلام د الله تعالی ځوی دی مشرکان بتان د الله تعالی دوستان او شريکان ګڼې) وَ او(نو د دوی د عذاب او جهنم د مستحق کيدلو دپاره) كَفَىٰ کافي ده(بس ده) بِهِۦٓ دغه إِثۡمًا يوه ګناه مُّبِينًا ښکاره (په الله تعالی باندې دروغ ويل)٥٠

أَلَمْ تَرَ إِلَى ٱلَّذِينَ أُوتُواْ نَصِيبًا مِّنَ ٱلْكِتَـٰبِ يُؤْمِنُونَ بِٱلْجِبْتِ وَٱلطَّـٰغُوتِ
وَيَقُولُونَ لِلَّذِينَ كَفَرُواْ هَـٰٓؤُلَآءِ أَهْدَىٰ مِنَ ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ سَبِيلًا (٥١)

أَلَمْ تَرَ آيا تا نه دي کتلي إِلَى ٱلَّذِينَ هغو خلکو ته أُوتُواْ چې هغوی ته ورکول شوي ده نَصِيبًا يوه برخه مِّنَ ٱلْكِتَـٰبِ د کتاب(د علم) څخه(يعنی د تورات د علم څخه،نو سره د دې چې دوی د تورات د علم په اساس په دې ښه پوهيږي چې اسلام حق او شرک او کفر باطل دی،خو قصداً د پوهې سره دوی) يُؤْمِنُونَ ايمان راوړي بِٱلْجِبْتِ په بت وَٱلطَّـٰغُوتِ او په شيطان (او د مسلمانانو په مقابل کې د مشرکانو او ملحدينو طرفداری کوي) وَيَقُولُونَ او وايي لِلَّذِينَ هغو خلکو ته كَفَرُواْ چې کافران دي(يعنی مشرکان او ملحدين دي) هَـٰٓؤُلَآءِ چې همدوی (کافران ) أَهْدَىٰ په ډېره سمه لار دي (ډېرپه سمه لار روان دي) مِنَ ٱلَّذِينَ د هغو خلکو(د لارې) نه ءَامَنُواْ چې هغوی ايمان راوړئ دی سَبِيلًا (د قرآن) په لاره(يعنی دوی هميشه د مسلمانانو په مقابل کې د ملحدينو او مشرکانو سره اتحاد کوي).(٥١)

أُوْلَـٰٓئِكَ ٱلَّذِينَ لَعَنَهُمُ ٱللَّهُۖ وَمَن يَلْعَنِ ٱللَّهُ فَلَن تَجِدَ لَهُۥ نَصِيرًا ٥٢

أُوْلَـٰٓئِكَ دغه ٱلَّذِينَ هغه خلک دي لَعَنَهُمُ چې په هغوی لعنت کړئ دی ٱللَّهُۖ الله تعالی وَمَن او په چا چې يَلْعَنِ لعنت وکړي ٱللَّهُ الله تعالی فَلَن تَجِدَ نو ته به هيڅ کله پيدا نکړې لَهُۥ هغه ته نَصِيرًا کومک کوونکئ (٥٢)

أَمْ لَهُمْ نَصِيبٌ مِّنَ ٱلْمُلْكِ فَإِذًا لَّا يُؤْتُونَ ٱلنَّاسَ نَقِيرًا (٥٣)

أَمْ آیا لَهُمْ شته دی دغو(یهودیانو) ته نَصِيبٌ څه برخه مِّنَ ٱلْمُلْكِ
د بادشاهۍ ؟(دا استفهام انکاري دی،یعنی یهودیانو ته د بادشاهۍ هیڅ
برخه نشته دی،او که چیرته په پادشاهۍ او اقتدار کې برخه ورکول شي:)
فَإِذًا نو( د بادشاهۍ او قدرت) په وخت کې به لَّا يُؤْتُونَ دوی نه
ورکوي ٱلنَّاسَ (نورو) انسانانو ته نَقِيرًا د یو نقیر(یعنی د
کجورې د زړي د داغ په اندازه فایده) ٥٣

أَمْ يَحْسُدُونَ ٱلنَّاسَ عَلَىٰ مَآ ءَاتَىٰهُمُ ٱللَّهُ مِن فَضْلِهِۦۖ فَقَدْ ءَاتَيْنَآ ءَالَ إِبْرَٰهِيمَ
ٱلْكِتَٰبَ وَٱلْحِكْمَةَ وَءَاتَيْنَٰهُم مُّلْكًا عَظِيمًا ٥٤

أَمْ یا (بلکې) يَحْسُدُونَ دوی حسد کوي ٱلنَّاسَ د (نورو) انسانانو
سره عَلَىٰ په مَآ هغه(څه) ءَاتَىٰهُمُ چې ورکړي هغوی ته
ٱللَّهُ الله تعالی مِن فَضْلِهِۦۖ د خپل فضل نه فَقَدْ او بیشکه ءَاتَيْنَآ
ورکړې مونږ ءَالَ اولاد إِبْرَٰهِيمَ د ابراهیم علیه السلام ته ٱلْكِتَٰبَ
کتاب(زبور،تورات،انجیل او قرآنکریم) وَٱلْحِكْمَةَ او حکمت(شریعت)
وَءَاتَيْنَٰهُم او ورکړې دی مونږ دوی ته(د ابراهیم علیه السلام اولاد ته)
مُّلْكًا سلطنت (پادشاهي) عَظِيمًا ډېره لویه(مثلاً یوسف علیه السلام داود
علیه السلام او سلیمان علیه السلام ته،نو دوی یعنی یهود چې په دې
سوزې چې پیغمبري زمونږ میراث دی،نو اسحاق علیه السلام،یعقوب
علیه السلام،یوسف علیه السلام،موسی علیه السلام،زکریا علیه
السلام،یحیی علیه السلام،داود علیه السلام،سلیمان علیه السلام،عیسی علیه
السلام او محمد صلی الله علیه وسلم دا خوټول د ابراهیم علیه السلام اولاده
ده، نو د ابراهیم علیه السلام د اولاد نه خو نبوت نه دی وتلئ) (۵۴)

فَمِنْهُم مَّنْ ءَامَنَ بِهِۦ وَمِنْهُم مَّن صَدَّ عَنْهُۚ وَكَفَىٰ بِجَهَنَّمَ سَعِيرًا ٥٥

فَمِنْهُم نو ځينې د دغو(يهودو) مَّنْ هغه څوک دي ءَامَنَ چې ايمان ئې راوړو بِهِۦ په هغه«صلی الله عليه وسلم»(لکه عبدالله بن سلام«رضی الله عنه» وَمِنْهُم او ځينې د دغو(يهوديانو) مَّن هغه څوک دي صَدَّ چې مخ ئې واړولو عَنْهُ د هغه«صلی الله عليه و سلم»(يعنی ايمان يې رانوړو) وَ او(دې کافرانو ته د جزا ورکولو دپاره) كَفَىٰ کافي دی(بس دی) بِجَهَنَّمَ جهنم سَعِيرًا چې لمبې وهونکې (او سوځونکې دی ٥٥

إِنَّ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ بِـَٔايَٰتِنَا سَوْفَ نُصْلِيهِمْ نَارًا كُلَّمَا نَضِجَتْ جُلُودُهُم بَدَّلْنَٰهُمْ جُلُودًا غَيْرَهَا لِيَذُوقُواْ ٱلْعَذَابَۗ إِنَّ ٱللَّهَ كَانَ عَزِيزًا حَكِيمًا ٥٦

إِنَّ ٱلَّذِينَ بيشکه هغه خلک كَفَرُواْ چې هغوی کفر کړی دی بِـَٔايَٰتِنَا زمونږ په آياتونو باندې سَوْفَ زر به نُصْلِيهِمْ مونږ داخل کړو هغوی نَارًا اور ته كُلَّمَا هر کله نَضِجَتْ چې وسوځې جُلُودُهُم پوستکي د هغوی بَدَّلْنَٰهُمْ بدل به کړو مونږ هغوی ته جُلُودًا پوستکي غَيْرَهَا نور د هغې(سوو پوستکو په ځای لِيَذُوقُواْ د دې دپاره چې :هغوی خوند واخلي ٱلْعَذَابَۗ دعذاب(يعنی چې ښه پوره-پوره احساس د درد ورته وشي) إِنَّ ٱللَّهَ بيشکه الله تعالی كَانَ دی عَزِيزًا ډېر زورور حَكِيمًا (او)حکيم دی.٥٦

دا مبارک آيت د قرآنکريم حقانيت ثابتوي چې قرآن د انسان خبرې نه دي بلکه د الله تعالی پاک کلام دی، ځکه چې: د شلمې پيړی څخه مخکې يو انسان ته هم دا معلومه نه چې د درد آخذې(يا ريسيپټورونه) په پوستکي کې دي،يعنی د درد او سوځولو احساس د پوستکي پواسطه کيږي،مطلب دا دی که چيرته پوستکی نه وي نو سړی د درد او سوځولو احساس نه شي کولای،چې په دې حقيقت په شلمه پيړۍ کې ساينس پوهان د عصري

ټيکنالوجي پواسطه پوه شو،خو قرآنکريم ۱۴۰۰ کلونه د مخه دې حقيقت ته اشاره کوي چې کله د دوزخيانو پوستکي وسوځول شي نو بيا د درد او سوځولو احساس نشي کولای،نو د دې دپاره الله تعالی د سوځيدلي پوستکي په ځای تازه او نوی پوستکی وراغوندي تر څو چې د درد او سوځيدلو احساس وکړي او د عذاب پوره خوند واخلي.نو ۱۴۰۰ کلونه مخکې د داسې معلومات ذکرکول چې د شلمې پيړۍ نه مخکې يو انسان هم پرې نه پوهيدلو،آيا پرته د کائناتو د خالق څخه بل څوک داسې معلومات ورکولای شي؟ نه پرته د خالق څخه د انسان دپاره ۱۴۰۰ کلونه مخکې د داسې معلومات ورکول ناممکن او محال وو.نو په ډاګه ثابتيږي چې قرآنکريم د الله تعالی سوچه او پاکې خبرې دي.

وَٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ وَعَمِلُواْ ٱلصَّٰلِحَٰتِ سَنُدۡخِلُهُمۡ جَنَّٰتٖ تَجۡرِي مِن تَحۡتِهَا ٱلۡأَنۡهَٰرُ خَٰلِدِينَ فِيهَآ أَبَدٗاۖ لَّهُمۡ فِيهَآ أَزۡوَٰجٞ مُّطَهَّرَةٞۖ وَنُدۡخِلُهُمۡ ظِلّٗا ظَلِيلًا ۵۷

وَٱلَّذِينَ او هغه خلک ءَامَنُواْ چې ايمان يې راوړئ دی وَعَمِلُواْ اوعملونه يې کړي دي ٱلصَّٰلِحَٰتِ نيک سَنُدۡخِلُهُمۡ زر به مونږ داخل کړو هغوی جَنَّٰتٖ (داسې) جنتونو ته تَجۡرِي چې بهيږي به مِن تَحۡتِهَا لاندې د هغې (جنتونو) ٱلۡأَنۡهَٰرُ نهرونه(ويالې) خَٰلِدِينَ هميشه به وي( جنتيان) فِيهَآ په دې(جنتونو)کې أَبَدٗاۖ تل تر تله لَّهُمۡ هغوی ته (جنتيانو ته) فِيهَآ په دې(جنتونو)کې أَزۡوَٰجٞ ښځې دي مُّطَهَّرَةٞۖ پاکې وَنُدۡخِلُهُمۡ او مونږ به داخل کړو دوی(جنتيان) ظِلّٗا ظَلِيلًا په ګڼو سيورو کې ۵۷

۞ إِنَّ ٱللَّهَ يَأۡمُرُكُمۡ أَن تُؤَدُّواْ ٱلۡأَمَٰنَٰتِ إِلَىٰٓ أَهۡلِهَا وَإِذَا حَكَمۡتُم بَيۡنَ ٱلنَّاسِ أَن تَحۡكُمُواْ بِٱلۡعَدۡلِۚ إِنَّ ٱللَّهَ نِعِمَّا يَعِظُكُم بِهِۦٓۗ إِنَّ ٱللَّهَ كَانَ سَمِيعَۢا بَصِيرٗا ۵۸

۞ إِنَّ بیشکه ٱللَّهَ الله تعالی يَأۡمُرُ حکم کوي كُمۡ تاسو ته أَن
چې تُؤَدُّواْ ورکړئ تاسو ٱلۡأَمَٰنَٰتِ امانتونه إِلَىٰٓ أَهۡلِهَا د هغوی
خاوندانو ته وَ او(بیشکه الله تعالی تاسو ته حکم کوي ) إِذَا کله
چې: حَكَمۡتُم تاسو فیصله کوئ بَيۡنَ ٱلنَّاسِ د انسانانو په منځ کې أَن
چې تَحۡكُمُواْ تاسو فیصله کوئ بِٱلۡعَدۡلِۚ په عدالت سره(د خپل او
پردي،مالدار او غریب فرق مه کوئ) إِنَّ بیشکه ٱللَّهَ الله تعالی
نِعِمَّا ډېر ښه يَعِظُكُم نصیحت کوي تاسو ته بِهِۦٓۗ په دې(دې
احکامو سره) إِنَّ ٱللَّهَ بیشکه الله تعالی كَانَ دی سَمِيعًۢا
اوریدونکئ بَصِيرٗا او لیدونکئ (ستاسو امانتونه او فیصلې الله تعالی
ته ښکاري او څه چې وایئ هغه الله تعالی اوري) ٥٨

يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوٓاْ أَطِيعُواْ ٱللَّهَ وَأَطِيعُواْ ٱلرَّسُولَ وَأُوْلِي ٱلۡأَمۡرِ مِنكُمۡۖ فَإِن
تَنَٰزَعۡتُمۡ فِي شَيۡءٖ فَرُدُّوهُ إِلَى ٱللَّهِ وَٱلرَّسُولِ إِن كُنتُمۡ تُؤۡمِنُونَ بِٱللَّهِ وَٱلۡيَوۡمِ
ٱلۡأٓخِرِۚ ذَٰلِكَ خَيۡرٞ وَأَحۡسَنُ تَأۡوِيلًا ٥٩

يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ای هغو(خلکو) ءَامَنُوٓاْ چا چې ایمان راوړئ دی
أَطِيعُواْ تاسو اطاعت کوئ ٱللَّهَ د الله تعالی وَأَطِيعُواْ او تاسو
اطاعت کوئ ٱلرَّسُولَ د پیغمبر«صلی الله علیه وسلم» وَأُوْلِي او د
خاوندانو ٱلۡأَمۡرِ د حکم(یعنی د حاکمانو او مشرانو) مِنكُمۡۖ د
ستاسو ځیني(یعني چې مسلمانان وي) فَإِن نو که چیرته تَنَٰزَعۡتُمۡ
تاسو جګړه وکړئ(یا په خپلو کې او یا د رعیت او حاکمانو تر منځ) فِي
شَيۡءٖ په یو شي کې فَرُدُّوهُ نو راجع کړئ هغه(شی یا مسئله) إِلَى ٱللَّهِ
الله ته(د الله تعالی کتاب ته) وَٱلرَّسُولِ او پیغمبر«صلی الله علیه وسلم»
ته(د نبي علیه السلام صحیح احادیثو او سنتو) ته إِن که چیرته كُنتُمۡ

تُؤْمِنُونَ تاسو ايمان لرئ بِٱللَّهِ په الله تعالى باندې وَٱلْيَوْمِ او په ورځ ٱلْـَٔاخِرِ ۚ د آخرت باندې ذَٰلِكَ دا(د الله تعالى او پيغمبر صلى الله عليه وسلم او أُوْلِى ٱلْأَمْرِ اطاعت کول،او د الله تعالى کتاب او د پيغمبر«صلى الله عليه وسلم سنتو ته رجوع کول) خَيْرٌ ډېر بهتر وَأَحْسَنُ او ډېر ښه دى تَأْوِيلًا انجام (د دې) ٥٩

أَلَمْ تَرَ إِلَى ٱلَّذِينَ يَزْعُمُونَ أَنَّهُمْ ءَامَنُواْ بِمَآ أُنزِلَ إِلَيْكَ وَمَآ أُنزِلَ مِن قَبْلِكَ يُرِيدُونَ أَن يَتَحَاكَمُوٓاْ إِلَى ٱلطَّـٰغُوتِ وَقَدْ أُمِرُوٓاْ أَن يَكْفُرُواْ بِهِۦ وَيُرِيدُ ٱلشَّيْطَـٰنُ أَن يُضِلَّهُمْ ضَلَـٰلًۢا بَعِيدًا ٦٠

أَلَمْ تَرَ آيا تا نه دي کتلي إِلَى ٱلَّذِينَ هغو(خلکو) ته يَزْعُمُونَ چې دعوه کوې(د دې) أَنَّهُمْ چې هغوى ءَامَنُواْ ايمان راوړئ دى بِمَآ په هغه(قرآنکريم) أُنزِلَ چې نازل شوئ دى إِلَيْكَ تا ته وَمَآ او په هغو(کتابونو) أُنزِلَ چې نازل شوي دي مِن قَبْلِكَ پخوا د ستا څخه ( سره د دې چې ځانونو ته مسلمانان وايې خو:) يُرِيدُونَ هغوى غواړي أَن چې يَتَحَاكَمُوٓاْ خپلې فيصلې يوسي إِلَى ٱلطَّـٰغُوتِ طاغوت ته(طاغوت هغو حاکمانو،مشرانو، جرګه مارانو يعنى ټولو هغو خلکو ته وايې چې:د قرآنکريم او سنتو نه پرته په بل قانون باندې د قرآن خلاف فيصله کوي) وَ حال دا چې قَدْ بيشکه أُمِرُوٓاْ هغوى ته حکم شوئ دى أَن چې يَكْفُرُواْ کفر وکړي بِهِۦ په هغه باندې (کفر نه منلو او انکار ته وايې يعنى چې انکار وکړي د طاغوت نه، يعنى چې نه طاغوت ومنئ او نه د طاغوت قانون. ) وَيُرِيدُ او غواړي ٱلشَّيْطَـٰنُ شيطان أَن چې يُضِلَّهُمْ بې لارې کړي هغوى ضَلَـٰلًۢا په ګمراهۍ بَعِيدًا لرې(يعنى شيطان غواړي

چې خلک داسې د حق د لارې څخه لرې کړي چې بیا یې پیدا کولای نشي)۶۰

وَإِذَا قِيلَ لَهُمْ تَعَالَوْاْ إِلَىٰ مَآ أَنزَلَ ٱللَّهُ وَإِلَى ٱلرَّسُولِ رَأَيْتَ ٱلْمُنَٰفِقِينَ يَصُدُّونَ عَنكَ صُدُودًا ٦١

وَإِذَا او کله چې قِيلَ وویل شي لَهُمْ هغوی ته تَعَالَوْاْ چې راشئ(خپلې معاملې د فیصلې دپاره ویسئ) إِلَىٰ مَآ هغه (قرآنکریم) ته اَنزَلَ چې نازل کړئ دی ٱللَّهُ الله تعالی وَإِلَى ٱلرَّسُولِ او د پیغمبر«صلی الله علیه وسلم»(صحیح احادیثو او سنتو) ته رَأَيْتَ نو ته به ګورې ٱلْمُنَٰفِقِينَ (دا) منافقان يَصُدُّونَ چې مخ اړوې عَنكَ ستا نه(ستا د شریعت د قانون څخه) صُدُودًا سخت مخ اړول(یعنی څوک چې د قرآن او سنتو خلاف په بل قانون او غیرې اسلامي رواجونو باندې فیصلې کوي،قرآن ورته منافق وایي،او منافقینو هم د محمد «صلی الله علیه وسلم»په وخت کې او هم په اوس وخت کې په هغه قانون او رواج فیصلې کوي چې د دوی په کې ګټه وي ،که په اسلامي قانون کې یې ګټه وي نو بیا ئې په سر او سترګو منې،خو که پوه شي چې د قرآن فیصله د ده په ګټه نه ده نو بیا په غیرې اسلامي قوانینو او رواجونو پسې ګرځې او په هر یو کې چې د ده په فکر خپله ګټه ګوري نو په هماغې قانون یا رواج باندې فیصله کول غواړي ،د پوهیدلو دپاره دې مثال ته توجه وکړئ.فرضاً که څوک یو بې ګناه سړی مړ کړي،قرآن حکم کوي چې د وژل شوي کس یا مقتول په بدل کې دې پخپله وژونکئ یا قاتل قصاص شي،یعنی څنګه چې هغه بل بې ګناه انسان وژلئ دی،همداسې دې هغه هم ووژل شي ،که زورو وي او که کمزوری،تر څو چې په ټولنه کې بل څوک د دولت او زور په نشه کې داسې ظلم ونکړي،خو په اکثره

ځایونو کې خلک د قصاص د قانون څخه تښتي او سپين ګيرو او جرګه مارانو ته د فیصلې دپاره ورځې،سپين ګیري او جرګه هم دقرآن د قانون خلاف د رسم او رواج په قانون فیصله کوي،د وژونکي یا قاتل یا ګنهګار بي ګناه خور ته جزا ورکوي،ځکه چې د جلی یعنی د قاتل د خور د خوښې نه پرته هغه د وژل شوي یا مقتول ورور ته په بدو کې ورکوي،که جلی هر څومره ژړاګانې او فریاد کوي او آینده عمر یې ټول په وهلو ټکولو او اور کې تیریږي دا د جرګې په وړاندې مهمه نه ده،یعنی قاتل بې غمه ازاد سرې سترګې د خپلې ښځې او بچيو سره وخت تیروي،خو جزا او عذاب ئې خور تیروي،او ژوند د وژل شوي یامقتول د کونډې ښځې او یتیم ځوی تباه او برباد شو.دا دی د انسان عدالت او قانون او بیا فخر هم کوي چې مونږ جوړه وکړه او دښمني مو ختمه کړه، ښه غور وکړئ په دې ځای کې سپين ګیرو او جرګې ته قرآن طاغوت وایې او په کوم رسم او رواج چې دوی فیصله وکړه دې ته قرآن د طاغوت قانون وایې،او کوم خلکو چې دا معامله دې جرګې ته د فیصلې دپاره وروړي وه دوی ته قرآن منافقین وایې) ٦١

فَكَيْفَ إِذَآ أَصَـٰبَتْهُم مُّصِيبَةٌۢ بِمَا قَدَّمَتْ أَيْدِيهِمْ ثُمَّ جَآءُوكَ يَحْلِفُونَ بِٱللَّهِ إِنْ أَرَدْنَآ إِلَّآ إِحْسَـٰنًا وَتَوْفِيقًا ٦٢

فَكَيْفَ نو څنګه إِذَآ چې کله أَصَـٰبَتْهُم دوی ته ورسيږی مُّصِيبَةٌۢ یو مصیبت بِمَا په سبب د هغه(څه) قَدَّمَتْ چې مخکې لیږلي دي أَيْدِيهِمْ لاسونو د هغوی (یعنی چې د خپله لاسه جوړ شوئ مصیبت پرې راشي،ځکه چې دوی پخپله خپله معامله د فیصلې دپاره طاغوت ته وروړي وه او د هغوی د طاغوتي فیصلې په سبب ورته غم جوړ شو، مثال ته ادامه ورکوو:فرضاً یو څه موده وروسته د وژل شوي

يا مقتول يتيم ځوى ځوان شو،همزولو پيغور ورکړو،وسله ئې واخسته او
د پلار قاتل ئې مړ کړو) ثُمَّ بيا جَآءُوكَ هغوى تا ته راشي(اې
محمد «صلى الله عليه وسلم» خو اوس دا خطاب ټولو ديني علماوو او د
شريعت نافذوونکو ادارو ته دى) يَحْلِفُونَ قسمونه به خوري بِٱللَّهِ
په الله تعالى باندې(او وايې به) إِنْ أَرَدْنَآ چې زمونږ اراده نه وه إِلَّآ
مګر إِحْسَانًا د نيکۍ وَتَوْفِيقًا او د اتفاق (د راوستلو نيت او اراده
مو وه،او دا اراده مو نه وه چې ګني زمونږ د شريعت قانون خوښ نه
وو،يعني خپل يې چې ووژل شي نو اوس به د قاتل د مړ کولو دپاره د
شريعت قانون ته راشي،تر څو په دښمن يې د قصاص قانون تطبيق
شي،يعني کله چې قاتل په دوى کې وو،نو د خپل سړي د بچ کولو دپاره
يې په جرګه فيصله کوله،تر څو چې د دوى کس مړ نشي،خو اوس چې د
مقتول ځوى د دوى کس ووژلو نو اوس د قصاص قانون خوښوي،تر څو
چې دښمن يې ووژل شي،مطلب دا چې:منافقين د الله تعالى د رضاء دپاره
نه،بلکې هر کار د خپلې ګټې دپاره کوي،د دوى په فکر که خپله ګټه د
قرآن په قانون کې ګورې نو د قرآن په قانون فيصله کول غواړې،او که
خپله ګټه د طاغوت په قانون کې ګورې نو د طاغوت په قانون فيصله
کول غواړي،بايد ووايو چې د ټولې دنيا دپاره الله تعالې خپل قانون
قرآنکريم راليږلئ دى،تر څو چې ټول انسانان د قرآن قانون ونه منې،او
په همدې قانون عمل او فيصلې ونشي،هيڅکله به نه په دنيا امن او سکون
راشي،او نه به انسانان خوشاله ژوند وکړي) (٦٢)

أُوْلَـٰٓئِكَ ٱلَّذِينَ يَعْلَمُ ٱللَّهُ مَا فِى قُلُوبِهِمْ فَأَعْرِضْ عَنْهُمْ وَعِظْهُمْ وَقُل لَّهُمْ فِىٓ
أَنفُسِهِمْ قَوْلًۢا بَلِيغًا ٦٣

أُوْلَٰٓئِكَ دغه ٱلَّذِينَ هغه خلک دي يَعۡلَمُ چې پوهيږي ٱللَّهُ الله تعالى مَا په هغه (منافقت) فِي قُلُوبِهِمۡ چې د هغوى په زړونو كې دى(خو د اسلام دروازه منافقينو ته هم خلاصه ده) فَأَعۡرِضۡ نو ته مخ واړوه عَنۡهُمۡ د دوى څخه (معاف ئې كړه) وَعِظۡهُمۡ او نصيحت ورته وكړه وَقُل او ووايه (او وكړه) لَّهُمۡ هغوى ته فِيٓ أَنفُسِهِمۡ د دوى د نفسونو په باره كې قَوۡلَۢا خبره بَلِيغٗا تاثير ناكه. ٦٣

وَمَآ أَرۡسَلۡنَا مِن رَّسُولٍ إِلَّا لِيُطَاعَ بِإِذۡنِ ٱللَّهِۚ وَلَوۡ أَنَّهُمۡ إِذ ظَّلَمُوٓاْ أَنفُسَهُمۡ جَآءُوكَ فَٱسۡتَغۡفَرُواْ ٱللَّهَ وَٱسۡتَغۡفَرَ لَهُمُ ٱلرَّسُولُ لَوَجَدُواْ ٱللَّهَ تَوَّابٗا رَّحِيمٗا ٦٤

وَمَآ أَرۡسَلۡنَا او مونږ نه دى ليږلئ مِن رَّسُولٍ هيڅ يو پيغمبر(د دې دپاره چې صرف خلک ئې دومره ومنې چې دا د الله تعالى پيغمبر دى او نور يې نه اطاعت كوي او نه يې خبره مني) إِلَّا مګر لِيُطَاعَ د دې دپاره(مونږ پيغمبران عليهم السلام دنيا ته ليږلې دي) چې اطاعت ئې وشي(د خلكو د خوانه ) بِإِذۡنِ ٱللَّهِۚ د الله تعالى په حكم سره(يعنى د الله تعالى حكمونه او پيغامونه يې چې انسانانو ته راوړي دي خلک بايد هغه ومنې او عمل پرې وكړي،داسې نه چې په خوله وايې الله منم ،پيغمبر منم خو د الله تعالى احكام چې پيغمبر راوړي دي هغه نه مني او نه پرې عمل كوي،د اسلام قانون پريږدې او طاغوت او د طاغوت قانون مني ) وَلَوۡ أَنَّهُمۡ او كه چيرته دوى(يعنې منافقينو) إِذ كله چې ظَّلَمُوٓاْ دوى ظلم وكړو أَنفُسَهُمۡ په خپلو ځانونو(يعنې د قرآن او د شريعت د فيصلې څخه يې مخ اړولئ او د طاغوت په قانون يې فيصله كړي ده، نو كه په هماغې وخت كې) جَآءُوكَ تا ته راغلي ول(په اوس وخت كې ترې ديني علماء او د شريعت نافذ كوونكې ادارې مراد دي )
فَٱسۡتَغۡفَرُواْ او بخښنه يې غوښتي وه ٱللَّهَ د الله تعالى څخه (يعنې په

خپله غلطی او ګناه باندې یې اقرار کړئ وو) وَٱسۡتَغۡفَرَ او بخښنه
غوښتي وَی لَهُمُ د دوی دپاره ٱلرَّسُولُ پیغمبر علیه السلام
لَوَجَدُواْ خامخا به دوی ته ثابته شوي وه ٱللَّهَ چې الله تعالی تَوَّابًا
ښه توبه قبلونکئ رَّحِيمًا (او)بې حده رحم کوونکئ دی(یعنی که
منافقین د الله تعالی قرآن او د پیغمبر «صلی الله علیه وسلم) سنتو ته
رجوع وکړي او په اخلاص توبه وباسي ان شاء الله چې الله تعالی به یې
توبه قبوله کړي.او که توبه ونه باسي،او د الله تعالی قانون ته رجوع
ونکړي، نو د الله تعالی او د پیغمبر علیه السلام د قانون څخه باغیان او
سرکشان دي،نه به یې پیغمبر شفاعت وکړي او نه به یې الله تعالی معاف
کړي،او ځای به یې جهنم وي) . ٦٤

فَلَا وَرَبِّكَ لَا يُؤۡمِنُونَ حَتَّىٰ يُحَكِّمُوكَ فِيمَا شَجَرَ بَيۡنَهُمۡ ثُمَّ لَا يَجِدُواْ فِىٓ أَنفُسِهِمۡ
حَرَجٗا مِّمَّا قَضَيۡتَ وَيُسَلِّمُواْ تَسۡلِيمٗا ٦٥

فَلَا نو داسې نه ده وَ قسم دی رَبِّكَ ستا په رب لَا يُؤۡمِنُونَ
چې دوی مؤمنان کیدلای نشي حَتَّىٰ د هغې پورې يُحَكِّمُوكَ چې
حاکم کړي تا ( یعنې تر څو چې شریعي قانون یعني د قرآن او د سنتو
فیصلې نافذ نکړي ) فِيمَا په هغې (معاملو) کې (په کومو کې چې:)
شَجَرَ اختلاف راغلئ وي بَيۡنَهُمۡ د دوی په منځ کې ثُمَّ او بیا
وروسته(د شریعت د فیصلې څخه) لَا يَجِدُواْ پیدا نکړي (احساس
نکړي) فِىٓ أَنفُسِهِمۡ په خپلو زړونو کې حَرَجٗا څه تنګوالئ(او
خوابدي) مِّمَّا د هغې(فیصلې په باره کې) قَضَيۡتَ چې تا فیصله
کړي ده(یعنې شریعت فیصله کړي ده) وَيُسَلِّمُواْ او تسلیم کړي(او ومنې
ستا فیصله) تَسۡلِيمٗا په خوشالۍ سره.(یعنې که د شریعت فیصله ظاهراً د
دوی په تاوان هم وي،خو باید زړه تنګې او خوا بدې نشي،ځکه چې نه

دوی او نه نور انسانان د الله تعالی او د رسول علیه السلام څخه بنه پوهیږي،او نه څوک د الله تعالی د قانون څخه بنه قانون د دنیا دپاره جوړولای شي.او که داسې ونکړي یعني د الله تعالی قانون نافذ نکړي،او فیصلې د انسانانو په لاس په جوړ شوي قانون باندې کوي،نو بیا خو جنت ته تلل دومره آسان نه دي،د قران په قانون کې نه مؤمنان دي او نه به تر هغې پورې مؤمنان شي،تر څو چې د دې منافقت څخه توبه ونه باسي،او د الله تعالی قانون په خپلو منځونو او مملکت کې نافذ نه کړي،او د حشر په میدان کې به الله تعالی پوښتنه کوي خصوصاً د هغه چا څخه چې د قانون د نافذولو صلاحیت او طاقت یې ورکړۍ دی ،چې تاسو ولې په دنیا کې زما قانون نه وو نافذ کړۍ؟) ٦٥

وَلَوْ أَنَّا كَتَبْنَا عَلَيْهِمْ أَنِ ٱقْتُلُوٓاْ أَنفُسَكُمْ أَوِ ٱخْرُجُواْ مِن دِيَـٰرِكُم مَّا فَعَلُوهُ إِلَّا قَلِيلٌ مِّنْهُمْ ۖ وَلَوْ أَنَّهُمْ فَعَلُواْ مَا يُوعَظُونَ بِهِۦ لَكَانَ خَيْرًا لَّهُمْ وَأَشَدَّ تَثْبِيتًا ٦٦

وَلَوْ أَنَّا او بیشکه که مونږ كَتَبْنَا حکم کړي وو عَلَيْهِمْ په دوی باندې أَنِ ٱقْتُلُوٓاْ چې ووژنئ أَنفُسَكُمْ ځانونه خپل أَوِٱخْرُجُواْ یا ووځئ مِن دِيَـٰرِكُم د خپلو کورونو څخه مَّا فَعَلُوهُ (نو) نه به وو کړۍ دوی دا(کار) إِلَّا مګر(کړۍ به وو) قَلِيلٌ لږو(کسانو) مِّنْهُمْ ۖ د دوی څخه (یعنی دوی ته خو دومره سخت حکم نه دی شوی چې دوی یې د منلو څخه عاجز دي، چې یا ځان وژنه ده او یا د کورونو څخه وتل دي لکه څنګه چې د بني اسرآئیلو سره شوي وو،بلکې د الله تعالی او رسول الله صلی الله علیه وسلم اطاعت خو آسان کاردی،آیا روژه نیول،د چا سره نیکي کول،د خلکو سره بنه اخلاق او لمونځ کول، آیا دا سخت کارونه دي؟دا احکام دي چې الله تعالی یې په کولو حکم کوي،په

دي كې كوم يو كار سخت دى؟يو هم نه.بلكې سخت خو هغه كارونه دي چې انسانان يې پخپله خوبنه د الله د قانون او حكمونو خلاف كوي،يعني د الله تعالى قانون يې د نه كولو حكم كوي،مثلاً غلا،قتل او جرمونه كول،آيا دا آسان كارونه دي؟نه،بول سخت كارونه دي،خو انسانان يې د نفس او شيطان د خوشالولو دپاره كوي)  وَلَوْ أَنَّهُمْ  او بيشكه كه دوى(منافقانو) فَعَلُوا۟  عمل كړئ وو  مَا  په هغو(احكامو)  يُوعَظُونَ بِهِۦ  چې نصيحت كيږي دوى ته په هغې سره  لَكَانَ خَيْرًا  خامخا به (دا د قرآن د احكامو منل)  ډير بهتر و  لَّهُمْ  دوى ته  وَأَشَدَّ  او ډېر سخت به و  تَثْبِيتًا  په كلكولو ( د ايمان كې د دوى.) ٦٦

وَإِذًا لَّـَٔاتَيْنَـٰهُم مِّن لَّدُنَّآ أَجْرًا عَظِيمًا ٦٧

وَإِذًا  او په هغه وخت كې (كه چېرته دوى د طاغوت د قانون په ځاى د الله تعالى قانون(يعني قرآن) منلئ وو، عمل يې ورباندې كړئ وو او په خپلو تيرو شوو ګناهونو يې توبه ويستلې وه،نو)  لَّـَٔاتَيْنَـٰهُم  خامخا به مونږ وركړئ وو دوى ته  مِّن لَّدُنَّآ  د خپل طرف نه  أَجْرًا  اجر  عَظِيمًا  ډېر لوى. ٦٧

وَلَهَدَيْنَـٰهُمْ صِرَٰطًا مُّسْتَقِيمًا ٦٨

وَلَهَدَيْنَـٰهُمْ  او خامخا به مونږ هدايت كړئ وو دوى ته  صِرَٰطًا  د لارې  مُّسْتَقِيمًا  سمې. ٦٨

خو متاسفانه! چې په اكثرو اسلامې ټولنو او ملكونو كې د الله تعالى بندګانو د الله تعالى قانون پريښئ او د طاغوت قانون منې،او عمل

وربانديِ كوي،مثلاً سوديِ كار وبار،ازاد فحش كارونه كول،سنيماګانيِ،ازاد شراب خرڅول،د ښځو او نرانو ازاد ډانسونه او نور په سلهاوو مثالونه چي ليکل يې دلته ممکن نه دي،نو آيا داسيِ او دېِ ته ورته كارونو ته په اسلاميِ ټولنه او اسلاميِ ملک كيِ اجازه وركول په قران او شريعت كيِ شته؟او كه نشته نو بيا به مسلمانان،او دا د اسلاميِ ملكونو حكمرانان او په څمكه كيِ د الله تعالى خلفه ګان الله تعالى ته څه جواب وركويِ؟چيِ مونږ ولي ستا د قانون خلاف ديِ طاغوتيِ كارونو ته اجازه وركړي وه؟ نو معلومه خبره ده چيِ الله تعالى ته د ديِ سوال داسيِ جواب نه شي وركولای،چيِ الله تعالى ته قابيل د قبول وي،او معاف ئيِ كړيِ،نو دا غټ-غټ لقبونه ملک،حاجي ،ريس،وزير،د اسلاميِ ملک پاچا،ريس جمهور او اميرالمؤمينين څوک د الله تعالى څخه نشي خلاصولئ،تر څو يې چيِ په قرآن يقين او عمل نه وي كړئ.او عملاً مؤمين نه وي،نو د الله تعالى عذاب به يېِ ونيسيِ او جهنم كيِ به يېِ كور وي)

وَمَن يُطِعِ ٱللَّهَ وَٱلرَّسُولَ فَأُوْلَـٰٓئِكَ مَعَ ٱلَّذِينَ أَنْعَمَ ٱللَّهُ عَلَيْهِم مِّنَ ٱلنَّبِيِّـۧنَ وَٱلصِّدِّيقِينَ وَٱلشُّهَدَآءِ وَٱلصَّـٰلِحِينَ ۚ وَحَسُنَ أُوْلَـٰٓئِكَ رَفِيقًا ٦٩

وَمَن او څوک چيِ يُطِعِ اطاعت كوي ٱللَّهَ د الله تعالى وَٱلرَّسُولَ او د پيغمبر«صلى الله عليه وسلم» فَأُوْلَـٰٓئِكَ نو دغه خلک مَعَ ٱلَّذِينَ به د هغو خلكو سره وي(په جنت كيِ) أَنْعَمَ چيِ انعام كړئ ٱللَّهُ الله تعالى عَلَيْهِم په هغوی باندي مِّنَ ٱلنَّبِيِّـۧنَ د پيغمبرانو وَٱلصِّدِّيقِينَ او د صديقينو وَٱلشُّهَدَآءِ او د شهيدانو وَٱلصَّـٰلِحِينَ ۚ او د صالحانو وَحَسُنَ او ډېر ښه دي أُوْلَـٰٓئِكَ دغه (خلک) رَفِيقًا په ملګرتيا كيِ(او دغه خلک ډېر ښه ملګري دي).٦٩

ذَٰلِكَ ٱلۡفَضۡلُ مِنَ ٱللَّهِۚ وَكَفَىٰ بِٱللَّهِ عَلِيمًا ٧٠

ذَٰلِكَ دا (ملګرتيا د پیغمبرانو،صدیقینو،شهیدانو او صالحینو سره) ٱلۡفَضۡلُ مهرباني ده مِنَ ٱللَّهِۚ د الله تعالی د طرف نه وَكَفَىٰ او کافي دی بِٱللَّهِ الله تعالی عَلِيمًا پوه(الله تعالی ستاسو په اعمالو پوه دی،او د خپل فضل او مهربانی ټول مستحيق خلک ورته معلوم دي)٧٠

يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ خُذُواْ حِذۡرَكُمۡ فَٱنفِرُواْ ثُبَاتٍ أَوِ ٱنفِرُواْ جَمِيعًا ٧١

يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ای هغو(کسانو) ءَامَنُواْ چې ایمان یې راوړی دی (ای مؤمنانو) خُذُواْ واخلئ حِذۡرَكُمۡ خپلي وسلې(یعني د مقابلې دپاره تیار اوسئ،که د دین او وطن څخه د دفاع ضرورت شو) فَٱنفِرُواْ نو ووځئ(غزا ته) ثُبَاتٍ ډلې-ډلې أَوِ یا ٱنفِرُواْ ووځئ جَمِيعًا ټول یوځای. ٧١

وَإِنَّ مِنكُمۡ لَمَن لَّيُبَطِّئَنَّ فَإِنۡ أَصَٰبَتۡكُم مُّصِيبَةٞ قَالَ قَدۡ أَنۡعَمَ ٱللَّهُ عَلَيَّ إِذۡ لَمۡ أَكُن مَّعَهُمۡ شَهِيدًا ٧٢

وَإِنَّ او بیشکه مِنكُمۡ د ستاسو لَمَن یقیناً څوک لَّيُبَطِّئَنَّ چې ځان ځنډوي(بهانې کوي او ځان د غزا نه پټوي) فَإِنۡ نو که چیرته أَصَٰبَتۡكُم تاسو ته دروررسیږي مُّصِيبَةٞ کوم مصیبت(یا شهیدان شئ یا زخمیان شئ) قَالَ ( نو) هغه وایي قَدۡ بیشکه أَنۡعَمَ فضل وکړو ٱللَّهُ الله تعالی عَلَيَّ په ما باندې إِذۡ چې هغه وخت کې لَمۡ أَكُن زه نه وم مَّعَهُمۡ د دوی سره شَهِيدًا حاضر(په غزا کې، ګنې زه به هم یا شهید شوئ وم او یا به زخمي شوئ وم) ٧٢

وَلَئِنْ او يقيناً كه چيرته أَصَـٰبَكُمْ تاسو ته ورسيږي (په تاسو باندې
وشي ) فَضْلٌ فضل(او مهرباني) مِّنَ ٱللَّهِ د الله تعالى(فتح وكړئ او
غازيان شئ،نو په منافق به د كينې اور بل شي،او) لَيَقُولَنَّ خامخا به
وايي(او په داسې انداز كې به وايي) كَأَن لكه چې لَّمْ تَكُنۢ نه وه
بَيْنَكُمْ ستاسو په منځ كې وَبَيْنَهُۥ او د هغه په منځ كې مَوَدَّةٌ هيڅ
دوستي(او مينه،وايي به) يَـٰلَيْتَنِى كاشكې زه (هم) كُنتُ وَى(وم)
مَعَهُمْ د دوى سره فَأَفُوزَ نو حاصله كړې به مې وَى فَوْزًا
كاميابي عَظِيمًا لويه. ٧٣ ۞

۞ فَلْيُقَـٰتِلْ فِى سَبِيلِ ٱللَّهِ ٱلَّذِينَ يَشْرُونَ ٱلْحَيَوٰةَ ٱلدُّنْيَا بِٱلْـَٔاخِرَةِ ۚ وَمَن يُقَـٰتِلْ فِى
سَبِيلِ ٱللَّهِ فَيُقْتَلْ أَوْ يَغْلِبْ فَسَوْفَ نُؤْتِيهِ أَجْرًا عَظِيمًا ٧٤

فَلْيُقَـٰتِلْ نو جنګ دې وكړي فِى سَبِيلِ په لار كې ٱللَّهِ د الله تعالى
ٱلَّذِينَ هغه خلک يَشْرُونَ چې خرڅوي(چې قربانوي) ٱلْحَيَوٰةَ ژوند
ٱلدُّنْيَا د دنيا بِٱلْـَٔاخِرَةِ ۚ په آخرت باندې وَمَن او څوک چې
يُقَـٰتِلْ جنګ كوي فِى سَبِيلِ په لار كې ٱللَّهِ د الله تعالى فَيُقْتَلْ
نو هغه وژل كيږي(شهيد كيږي) أَوْ يا يَغْلِبْ كاميابيږي(غازي
كيږي) فَسَوْفَ نو زر به نُؤْتِيهِ مونږ هغه ته وركړو أَجْرًا
عَظِيمًا ډير لوى اجر. ٧٤

وَمَا لَكُمْ لَا تُقَـٰتِلُونَ فِى سَبِيلِ ٱللَّهِ وَٱلْمُسْتَضْعَفِينَ مِنَ ٱلرِّجَالِ وَٱلنِّسَآءِ وَٱلْوِلْدَٰنِ
ٱلَّذِينَ يَقُولُونَ رَبَّنَآ أَخْرِجْنَا مِنْ هَـٰذِهِ ٱلْقَرْيَةِ ٱلظَّالِمِ أَهْلُهَا وَٱجْعَل لَّنَا مِن لَّدُنكَ
وَلِيًّا وَٱجْعَل لَّنَا مِن لَّدُنكَ نَصِيرًا ٧٥

وَمَا او څه (عذر دى) لَكُمْ تاسو ته(اى مسلمانانو) لَا تُقَـٰتِلُونَ
چې جنګ نه كوئ فِى سَبِيلِ په لار كې ٱللَّهِ د الله تعالى

وَٱلْمُسْتَضْعَفِينَ او(څه عذر لرئ چې جنګ نه کوئ دپاره د خلاصولو) د
ضعيفانو مِنَ ٱلرِّجَالِ د سړيو وَٱلنِّسَآءِ او د ښځو وَٱلْوِلْدَٰنِ او د
ماشومانو ٱلَّذِينَ هغه(سړي،ښځې او ماشومان) يَقُولُونَ چې وايې
رَبَّنَآ ای زمونږه ربه أَخْرِجْنَا وباسه مونږ مِنْ هَٰذِهِ د دې
ٱلْقَرْيَةِ كلي نه ٱلظَّالِمِ چې ظالمان دي أَهْلُهَا اوسيدونكي د
دې(كلي) وَٱجْعَل او مقرر كړه لَّنَا مونږ ته مِن لَّدُنكَ د خپل
طرف نه وَلِيًّا يو دوست(يو حمايت كوونكئ) وَٱجْعَل او مقرر
كړه لَّنَا مونږ ته مِن لَّدُنكَ د خپل طرف نه نَصِيرًا يو كومك
كوونكئ. (۷۵) پخوا ښه وو د مسلمانانو مشران او حكمرانان به هم سم
مسلمانان وو،او اسلامي غيرت او جذبه به په كې وه،هارون رشيد ته خبر
راغئ چې:په اندلس كې يوه زنانه د كفارو سره په يو جيل كې بندئ
ده،هارون رشيد اواز وكړو چې:لبيک يا اختی،سره د دې چې پادشاهان به
پخپله جنګ ته نه تلل،مګر هارون رشيد په خپله لښكر واخيستو،په اندلس
يې حمله وكړه او ښځه يې د كفارو د زندان څخه خلاصه كړه،ليكن
متاسفانه چې:اوس د اكثرو مسلمانانو او د مسلمانانو د مشرانو او
حكمرانانو صرف نومونه د مسلمانانو دي،او نور د اسلام د دايري څخه
وتلي دي،څكه چې الله تعالى فرمايې: وَمَن لَّمْ يَحْكُم بِمَآ أَنزَلَ ٱللَّهُ او څوک
چې د الله تعالى په نازل شوي قانون باندې فيصلې نه كوي فَأُوْلَٰٓئِكَ نو
دغه خلک هُمُ ٱلْكَٰفِرُونَ همدوی كافران دي. ﴿٤٤﴾وَمَن لَّمْ يَحْكُم بِمَآ أَنزَلَ
ٱللَّهُ او څوک چې د الله تعالى په نازل شوي قانون باندې فيصلې نه كوي
فَأُوْلَٰٓئِكَ نو دغه خلک هُمُ ٱلظَّٰلِمُونَ همدوی ظالمان دي. ﴿٤٥﴾ وَمَن لَّمْ
يَحْكُم بِمَآ أَنزَلَ ٱللَّهُ او څوک چې د الله تعالى په نازل شوي قانون باندې
فيصلې نه كوي فَأُوْلَٰٓئِكَ نو دغه خلک هُمُ ٱلْفَٰسِقُونَ همدوی فاسقان
دي. ﴿٤٧﴾(سورةالمائده آيت-۴۵-۴۴- ۴۷). فكر وكړئ!څوک چې پخپله

کافر وي،څوک چې پخپله ظالم وي،څوک چې پخپله فاسق وي،او د طاغوتي قانون چلوونکې او منونکې وي، نو دوی به څنګه مظلومان د ظالمانو څخه خلاص کړي؟بلکې دوی خو پخپله هم د ظلمانو او کافرانو ملګرې دي.خو الحمد لله چې مرګ شته،آخرت شته،حساب او کتاب او جزا او سزا شته.

ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ يُقَٰتِلُونَ فِي سَبِيلِ ٱللَّهِۖ وَٱلَّذِينَ كَفَرُواْ يُقَٰتِلُونَ فِي سَبِيلِ ٱلطَّٰغُوتِ فَقَٰتِلُوٓاْ أَوۡلِيَآءَ ٱلشَّيۡطَٰنِۖ إِنَّ كَيۡدَ ٱلشَّيۡطَٰنِ كَانَ ضَعِيفًا ﴿٧٦﴾

ٱلَّذِينَ هغه(خلک) ءَامَنُواْ چې ایمان یې راوړی دی يُقَٰتِلُونَ جنګ کوي فِى سَبِيلِ په لار کې ٱللَّهِۖ د الله تعالی وَٱلَّذِينَ او هغه(خلک) كَفَرُواْ چې کافران دي يُقَٰتِلُونَ جنګ کوي فِى سَبِيلِ په لار کې ٱلطَّٰغُوتِ د طاغوت(شیطان) فَقَٰتِلُوٓاْ نو جنګ وکړئ(ای مؤمنانو) أَوۡلِيَآءَ د دوستانو ٱلشَّيۡطَٰنِۖ د شیطان سره إِنَّ بیشکه كَيۡدَ مکر ٱلشَّيۡطَٰنِ د شیطان كَانَ دی ضَعِيفًا کمزوری٧٦

أَلَمۡ تَرَ إِلَى ٱلَّذِينَ قِيلَ لَهُمۡ كُفُّوٓاْ أَيۡدِيَكُمۡ وَأَقِيمُواْ ٱلصَّلَوٰةَ وَءَاتُواْ ٱلزَّكَوٰةَ فَلَمَّا كُتِبَ عَلَيۡهِمُ ٱلۡقِتَالُ إِذَا فَرِيقٌ مِّنۡهُمۡ يَخۡشَوۡنَ ٱلنَّاسَ كَخَشۡيَةِ ٱللَّهِ أَوۡ أَشَدَّ خَشۡيَةًۚ وَقَالُواْ رَبَّنَا لِمَ كَتَبۡتَ عَلَيۡنَا ٱلۡقِتَالَ لَوۡلَآ أَخَّرۡتَنَآ إِلَىٰٓ أَجَلٍ قَرِيبٍۗ قُلۡ مَتَٰعُ ٱلدُّنۡيَا قَلِيلٌ وَٱلۡأٓخِرَةُ خَيۡرٌ لِّمَنِ ٱتَّقَىٰ وَلَا تُظۡلَمُونَ فَتِيلًا ٧٧

د مکې مشرکانو په مسلمانانو ډېر ظلمونه کول،نو مسلمانانو د پیغمبر صلی الله علیه وسلم څخه د جنګ کولو اجازه وغوښتله خو نبي علیه السلام وفرمایل چې تر اوسه پورې د جنګ کولو حکم نه دی شوی،تر څو چې د الله تعالی حکم ونشي تر هغې پورې د جنګ څخه لاسونه ونیسئ.

أَلَمۡ تَرَ ایا تا نه دي کتلي إِلَى ٱلَّذِينَ هغو(خلکو) ته قِيلَ چې ووېل
شو لَهُمۡ هغوی ته كُفُّوٓاْ چې بند کړئ(چې ونیسئ) أَيۡدِيَكُمۡ
لاسونه خپل(د جنګ نه،یعنی اوس د جنګ نه لاس ونیسئ یا جنګ مه
کوئ او د الله تعالی د حکم د راتلو انتظار کوئ) وَأَقِيمُواْ او ادا کوئ
ٱلصَّلَوٰةَ لمونځ وَءَاتُواْ او ورکوئ ٱلزَّكَوٰةَ زکات فَلَمَّا نو هر
کله كُتِبَ چې فرض شو عَلَيۡهِمُ په دوی باندې ٱلۡقِتَالُ جنګ(د
کافرانو سره) إِذَا (نو) په دې وخت کې فَرِيقٞ یوه ډله مِّنۡهُمۡ د
دوی يَخۡشَوۡنَ ویریدله ٱلنَّاسَ د خلکو نه(یعنی د کافرانو سره د
جنګ کولو نه،داسې) كَخَشۡيَةِ لکه پشان د ویریدلو ٱللَّهِ د الله تعالی
څخه أَوۡ یا أَشَدَّ (د دې نه هم) زیات خَشۡيَةٗۚ ویریدل
وَقَالُواْ او ویې ویل رَبَّنَا ای زمونږ ربه لِمَ ولې كَتَبۡتَ تا
فرض کړو عَلَيۡنَا په مونږ باندې ٱلۡقِتَالَ جنګ کول(د کافرانو سره)
لَوۡلَآ أَخَّرۡتَنَآ ولې مونږ ته مهلت نه راکوې؟ إِلَىٰٓ أَجَلٖ قَرِيبٖۗ د لږې
مودې پورې قُلۡ ( ورته) ووایه مَتَٰعُ فایده(ګټه) ٱلدُّنۡيَا د دنیا
قَلِيلٞ ډېره لږه ده وَٱلۡأٓخِرَةُ او آخرت خَيۡرٞ ډېر بهتر دی لِّمَنِ
د هغه چا دپاره ٱتَّقَىٰ چې ویریږي(د الله تعالی څخه) وَلَا تُظۡلَمُونَ
او په تاسو به ظلم نه کیږي فَتِيلًا ٧٧ د کجورې د هډوکي د نرې
تار(په اندازه،یعنی نه به مو په ثواب کې کموالی راځي او نه به مو ګناه
زیاتیږي)

أَيۡنَمَا تَكُونُواْ يُدۡرِككُّمُ ٱلۡمَوۡتُ وَلَوۡ كُنتُمۡ فِي بُرُوجٖ مُّشَيَّدَةٖۗ وَإِن تُصِبۡهُمۡ حَسَنَةٞ
يَقُولُواْ هَٰذِهِۦ مِنۡ عِندِ ٱللَّهِۖ وَإِن تُصِبۡهُمۡ سَيِّئَةٞ يَقُولُواْ هَٰذِهِۦ مِنۡ عِندِكَۚ قُلۡ كُلّٞ
مِّنۡ عِندِ ٱللَّهِۖ فَمَالِ هَٰٓؤُلَآءِ ٱلۡقَوۡمِ لَا يَكَادُونَ يَفۡقَهُونَ حَدِيثٗا ٧٨

أَيْنَمَا هر چيرته تَكُونُواْ چي تاسو ياستئ يُدْرِككُّمُ دروبه رسيږي تاسو ته(پيدا به كړي تاسو) ٱلْمَوْتُ مرگ(په يو ځاى كي هم د مرگ څخه نه خلاصيږئ) وَلَوْ او اگر كه كُنتُمْ ياستئ تاسو فِى بُرُوجٍ په برجونو(په قلاګانو) مُّشَيَّدَةٍۗ محكمو كې(هلته هم مرگ در رسيږي). وَإِن او كه چيرته تُصِبْهُمْ ورسيږي هغوى ته(يعني منافقانو ته) حَسَنَةٌ څه نيكي(او خوشالي) يَقُولُواْ هغوى وايې چې هَٰذِهِۦ دا(خوشالي) مِنْ عِندِ ٱللَّهِۖ د الله تعالى د طرف نه ده وَإِن او كه چيرته تُصِبْهُمْ ورسيږي هغوى ته سَيِّئَةٌ څه بدې(او غم) يَقُولُواْ وايې چې هَٰذِهِۦ دا(غم او تكليف) مِنْ عِندِكَۚ ستا د طرف نه(ستا د لاسه رارسيږي) قُلْ (ورته)ووايه كُلٌّ ټول(خوشالي او غم) مِّنْ عِندِ ٱللَّهِۖ د الله تعالى د طرف نه دي . او الله تعالى د دوى په باره كې فرمايې!

فَمَالِ نو څه شوي دي هَٰٓؤُلَآءِ ٱلْقَوْمِ په دې خلكو لَا يَكَادُونَ يَفْقَهُونَ چې دوى نه پوهيږي حَدِيثًا په هيڅ خبره. ٧٨

مَّآ أَصَابَكَ مِنْ حَسَنَةٍ فَمِنَ ٱللَّهِۖ وَمَآ أَصَابَكَ مِن سَيِّئَةٍ فَمِن نَّفْسِكَۚ وَأَرْسَلْنَٰكَ لِلنَّاسِ رَسُولًاۚ وَكَفَىٰ بِٱللَّهِ شَهِيدًا ٧٩

او الله تعالى فرمايي:چې اى انسانه!

مَّآ هر څه أَصَابَكَ چې تا ته دررسيږي مِنْ حَسَنَةٍ د نيكئ(او خوشالئ) نه فَمِنَ ٱللَّهِۖ نو دا د الله تعالى د طرف نه(فضل او مهرباني ده چې تا ته ئې ستا د نيكو اعمالو په نتيجه كې دركوې) وَمَآ او هر څه أَصَابَكَ چې تا ته دررسيږي مِن سَيِّئَةٍ د بدى(او غم ) نه فَمِن نَّفْسِكَۚ نو ستا د نفس د طرف نه دي(ستا د خپل لاسه دي ،چې الله

تعالی ئې تا ته ستا د کومې ګناه په نتیجه کې درکوي) وَأَرْسَلْنَـٰكَ
او(ای محمد«صلی الله علیه وسلم» مونږ لیږلئ یې ته لِلنَّاسِ د
انسانانو دپاره رَسُولًا ۚ پیغمبر وَكَفَىٰ او کافي دی بِٱللَّهِ الله
تعالی شَهِيدًا شاهد(په دې خبره چې ته د الله تعالی پیغمبر یې)

مَّن يُطِعِ ٱلرَّسُولَ فَقَدْ أَطَاعَ ٱللَّهَ ۖ وَمَن تَوَلَّىٰ فَمَآ أَرْسَلْنَـٰكَ عَلَيْهِمْ حَفِيظًا ٨٠

مَّن څوک (چې) يُطِعِ اطاعت کوي ٱلرَّسُولَ د پیغمبر«صلی الله
علیه وسلم» فَقَدْ أَطَاعَ نو بیشکه اطاعت ئې وکړو ٱللَّهَ ۖ د الله
تعالی وَمَن او څوک (چې) تَوَلَّىٰ ګرځي(او مخ اړوي ستا د
اطاعت نه) فَمَآ أَرْسَلْنَـٰكَ نو ته مونږ نه ئې لیږلئ عَلَيْهِمْ په دوی
باندې حَفِيظًا ساتونکئ(یعنی ته مونږ د دوی د اعمالو د نګرانۍ او
څوکیدارۍ دپاره نه ئې لیږلئ که څوک بد کار وکړي نو مونږ به یې ستا
څخه پوښتنه کوو،بلکې ستا کار هغوی ته د الله تعالی پیغام رسول وو او
هغه تا سر ته ورسولو. )٨٠

وَيَقُولُونَ طَاعَةٌ فَإِذَا بَرَزُوا۟ مِنْ عِندِكَ بَيَّتَ طَآئِفَةٌ مِّنْهُمْ غَيْرَ ٱلَّذِى تَقُولُ ۖ وَٱللَّهُ
يَكْتُبُ مَا يُبَيِّتُونَ ۖ فَأَعْرِضْ عَنْهُمْ وَتَوَكَّلْ عَلَى ٱللَّهِ ۚ وَكَفَىٰ بِٱللَّهِ وَكِيلًا ٨١

وَ او (منافقان ستا په مخکې) يَقُولُونَ وايي (چې مونږ ستا) طَاعَةٌ
اطاعت کوونکي یو فَإِذَا او کله چې بَرَزُوا۟ ووځي دوی مِنْ
عِندِكَ د ستا نه بَيَّتَ (نو)د شپې مشورې کوي طَآئِفَةٌ یوه ډله
مِّنْهُمْ د دوی غَيْرَ ٱلَّذِى په خلاف د هغو خبرو تَقُولُ ۖ چې ته
یې وایې(ای محمد صلی الله علیه وسلم،یعنی ستا د خبرو په خلاف پلانونه
او دسیسې جوړوي) وَٱللَّهُ او الله تعالی يَكْتُبُ لیکي مَا
هغه(مشورې او پلانونه) يُبَيِّتُونَ ۖ چې دوی یې د شپې کوي

فَأَعْرِضْ نو مخ واړوه عَنْهُمْ د دوی نه وَتَوَكَّلْ او توکل کوه
عَلَى ٱللَّهِ ۚ په الله تعالی باندې وَكَفَىٰ او کافي دی بِٱللَّهِ الله تعالی
وَكِيلًا كارساز. ٨١

أَفَلَا يَتَدَبَّرُونَ ٱلْقُرْءَانَ ۚ وَلَوْ كَانَ مِنْ عِندِ غَيْرِ ٱللَّهِ لَوَجَدُواْ فِيهِ ٱخْتِلَٰفًا كَثِيرًا
٨٢

أَفَلَا يَتَدَبَّرُونَ نو آيا دوی غور نکوي(آيا دا منافقان غور او فکر نه کوي)
ٱلْقُرْءَانَ ۚ په قرآنکريم کې (چې حقانيت يې ورته معلوم شي،ځکه چې)
وَلَوْ او كه چيرته كَانَ وو دغه(قرآنكريم) مِنْ عِندِ د طرف نه
غَيْرِ ٱللَّهِ د غيرالله(يعنى كه پرته د الله تعالى څخه د بل چا كلام وو)
لَوَجَدُواْ حتماً به دوى پيداكړئ وو فِيهِ په دې (قرآنكريم) كې
ٱخْتِلَٰفًا اختلاف كَثِيرًا ډېر ٨٢

څومره کتابونه چې په دنيا کې د انسانانو پواسطه ليکل شوي دي او يا ليکل کيږي،د وخت په تيريدو سره يې اکثره خبرې غلطې ثابتيږي ليکن برعکس د نورو کتابونو قرآنکريم يوازينی کتاب دی چې د وخت په تيريدلو سره ئې هره خبره صحيح ثابتيږي،دا په دې معنی چې د قرآنکريم د نزول په وخت کې چې:خلکو خصوصاً ساينسدانانو او فيلسوفانو ته د قرآن کومې خبرې غلطې ښکاريدلې،الحمدلله د وخت په تيريدلو سره ئې يوه-يوه خبره رښتيا کيږي،او د ۱۴۰۰ کلونو په تيريدو سره پکې هيڅ غلطې نه چا پيدا کړې ده او نه به يې د قيامت پورې پکې پيدا کړي.خو برعکس د ساينسدانانو او فيلسوفانو د کتابونو اکثره خبرې چې د ليکلو په وخت کې خلکو صحيح ګڼلې،د وخت په تيريدلو سره ئې اکثره خبرې

غلطیږي.توجه وکړئ څو مثالونو ته:۱۴۰۰ کلونه مخکې قرآنکریم فرمایل چې:کائنات د همیشه څخه موجود نه وو، الله تعالی پیدا کړي دي، په حرکت کې دي،لویږي،لمر ګرځې،خو د هغې وخت خلکو خصوصاً ساینسدانانو او فیلسوفانو ویل چې نعوذبالله قرآن غلط دی ځکه چې د ساینس په کتابونو کې حتی د شلمې پیړۍ پورې لیکلي وو چې کائنات د همیشه څخه موجود دي ،پیدا شوي نه دي،ساکن دی،نه لویږي او نه حرکت لري او لمر هم ساکن دی.لیکن د وخت په تیریدو سره الحمدلله د قرآن هره خبره یوه د بلې پسې صحیح ثابته شوه او ثابتیږي،یعنی ۱۳۰۰ کلونه وروسته د شلمې پیړۍ ساینس د الله تعالی د کتاب قرآن خبرې تصدیق کړي چې کائنات د همیشه څخه موجود نه وو بلکې پیدا شوي دي،ساکن نه دي،په حرکت کې دي،لویږي،او لمر ګرځې.او د فلسفې او ساینس د پخوانیو کتابونو  خبرې یې غلطې ثابتې کړي.باید په لنډ دول ووایو چې قرآنکریم په حقه دالله تعالی تعالی کلام دی ځکه چې د الله تعالی څخه پرته د هیڅ چا کلام هم د غلطۍ څخه خالي نه وي،که هر نابغه او متخصیص یې ولیکي بیا هم څه نا څه غلطې پکې وي،او بیا پرې نظر ثاني کوي او اصلاح کوي یې.مګر د الله په کتاب قرآنکریم کې د ۱۴۰۰ کلونو په تیریدو سره نه چا کومه غلطې پیدا کړه او نه به ئې د قیامت پورې  پکې پیدا کړي.

وَإِذَا جَآءَهُمْ أَمْرٌ مِّنَ ٱلْأَمْنِ أَوِ ٱلْخَوْفِ أَذَاعُواْ بِهِۦۖ وَلَوْ رَدُّوهُ إِلَى ٱلرَّسُولِ وَإِلَىٰٓ أُوْلِى ٱلْأَمْرِ مِنْهُمْ لَعَلِمَهُ ٱلَّذِينَ يَسْتَنۢبِطُونَهُۥ مِنْهُمْۗ وَلَوْلَا فَضْلُ ٱللَّهِ عَلَيْكُمْ وَرَحْمَتُهُۥ لَٱتَّبَعْتُمُ ٱلشَّيْطَـٰنَ إِلَّا قَلِيلًا ٨٣

وَإِذَا  او کله چې   جَآءَ  راشي   هُمْ  دوی ته(یعنې منافقانو او ناقصو مسلمانانو ته)   أَمْرٌ  یو خبر   مِّنَ ٱلْأَمْنِ  د امن(د مجاهدینو د فتحې)

أَوِ یا ٱلْخَوْفِ د ویرې(یا د شکست) أَذَاعُواْ بِهِۦ ۖ دوی هغه خوروي(پرته د دې چې تحقیق وکړي چې دا خبره دروغ ده که رښتیا او د مسلمانانو پکې خیر دی که شر؟ ،تول خلک خبروي،چې د امیر د اجازې نه پرته د داسې خبرونو خورول او د خلکو خبرول اکثره د مسلمانانو دپاره ډېر خطرناک وي) وَلَوْ او که چیرته رَدُّوهُ دوی رسولئ (راجع کولئ) دا(خبرونه) إِلَى ٱلرَّسُولِ پیغمبر(صلی الی الله علیه وسلم) ته وَإِلَىٰٓ أُوْلِي ٱلْأَمْرِ او حاکمانو ته مِنْهُمْ د دوی لَعَلِمَهُ خامخا به پوه شوي وَی په دې(خبرونو) ٱلَّذِينَ هغه خلک يَسْتَنۢبِطُونَهُۥ چې هغوی تحقیق کوي په دې(خبرونو کې) مِنْهُمْ ۗ د دوی نه(یعنی هغوی لټه کوي چې آیا دا خبر رښتیا دی او که دروغ،او نشر او خورول به یې په خلکو کې د مسلمانانو په ګټه وي او که په تاوان؟) وَلَوْلَا او که نه وَی فَضْلُ فضل ٱللَّهِ د الله تعالی عَلَيْكُمْ په تاسو باندې وَرَحْمَتُهُۥ او رحمت د هغه«جل جلاله»(یعنی که په تاسو د الله تعالی فضل او رحمت نه وَی) لَٱتَّبَعْتُمُ خامخا به تاسو پیروي کړې وه ٱلشَّيْطَـٰنَ د شیطان إِلَّا قَلِيلًا ٨٣ مګر ډېرو لږو(خلکو به د شیطان پیروي نه وه کړې)

فَقَـٰتِلْ فِي سَبِيلِ ٱللَّهِ لَا تُكَلَّفُ إِلَّا نَفْسَكَ ۚ وَحَرِّضِ ٱلْمُؤْمِنِينَ ۖ عَسَى ٱللَّهُ أَن يَكُفَّ بَأْسَ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ ۚ وَٱللَّهُ أَشَدُّ بَأْسًا وَأَشَدُّ تَنكِيلًا ﴿٨٤﴾

فَقَـٰتِلْ نو ته جنګ کوه(ای محمد «صلی الله علیه وسلم» فِي سَبِيلِ په لار کې ٱللَّهِ د الله تعالی لَا تُكَلَّفُ ته نه مکلف کیږې(یعنی په تاباندې ذمه واري نه در اچول کیږي،یا ته مسؤل نه یې د منافقانو دپاره چې حتماً به هغوی جهاد ته بیایې) إِلَّا مګر نَفْسَكَ ۚ ته د خپل ځان(مسؤل یې چې د الله په لار کې جهاد کوه) وَحَرِّضِ او تشویق

کوه (او ترغیب ورکوه) ٱلۡمُؤۡمِنِينَۖ مؤمنانو ته (د الله په لار کې د
جنګ کولو) عَسَى ٱللَّهُ زر به الله تعالی أَن يَكُفَّ کمزوری(او مات
کړي) بَأۡسَ قوت (اوزور) ٱلَّذِينَ د هغو خلکو كَفَرُواْۚ چې
کافران دي(لکه چې د دې مبارک آیت د نزول نه وروسته همداسې وشول
چې په نیزدې وخت کې مکه معظمه فتح شوه او د روم او ایران
امپراطوری د مسلمانانو په لاس توټې-توټې شوې) وَٱللَّهُ او الله
تعالی(چې دی) أَشَدُّ ډېر زیات دی بَأۡسٗا زور(د الله تعالی)
وَأَشَدُّ او ډېر سخت دی تَنكِيلٗا عذاب(د الله تعالی ) ٨۴

مَّن يَشۡفَعۡ شَفَٰعَةً حَسَنَةٗ يَكُن لَّهُۥ نَصِيبٞ مِّنۡهَاۖ وَمَن يَشۡفَعۡ شَفَٰعَةٗ سَيِّئَةٗ يَكُن لَّهُۥ
كِفۡلٞ مِّنۡهَاۗ وَكَانَ ٱللَّهُ عَلَىٰ كُلِّ شَيۡءٖ مُّقِيتٗا ﴿٨٥﴾

مَّن څوک يَشۡفَعۡ (چې)هغه شفاعت کوي شَفَٰعَةً حَسَنَةٗ نیک
شفاعت يَكُن وي به لَّهُۥ هغه(شفاعت کوونکې) ته نَصِيبٞ
برخه(د ثواب) مِّنۡهَاۖ د هغه(نیک شفاعت) وَمَن او څوک يَشۡفَعۡ
(چې) هغه شفاعت کوي شَفَٰعَةٗ سَيِّئَةٗ بد سفارش يَكُن وي به لَّهُۥ
هغه(سفارش کوونکې)ته كِفۡلٞ برخه(د ګناه) مِّنۡهَاۗ د هغه(بد
سفارش) وَكَانَ او دی ٱللَّهُ الله تعالی عَلَىٰ كُلِّ شَيۡءٖ په هرشي
باندې مُّقِيتٗا قدرت لرونکې ٨٥

وَإِذَا حُيِّيتُم بِتَحِيَّةٖ فَحَيُّواْ بِأَحۡسَنَ مِنۡهَآ أَوۡ رُدُّوهَآۗ إِنَّ ٱللَّهَ كَانَ عَلَىٰ كُلِّ شَيۡءٍ
حَسِيبًا ٨٦

وَإِذَا او کله چې حُيِّيتُم دعا وشي تاسو ته بِتَحِيَّةٖ په سلام سره
فَحَيُّواْ نو تاسو(هم)دعا وکړئ بِأَحۡسَنَ بهتره (دعا) مِنۡهَآ د هغې

(دعا څخه چې تاسو ته يې کړي ده،يعنى كه څوک درته وو‌ايي چې:السلام عليكم،نو ته ورته وو‌ايه:وعليكم السلام و رحمت الله ،او كه څوک درته وو‌ايي چې:السلام عليكم و رحمت الله،نو ته ورته په جواب كې وو‌ايه چې وعليكم السلام و رحمت الله و بركاته......) أَوْ يا رُدُّوهَآ ورووګرځوئ همهغه(د هغه د سلام الفاظ د هغه پشان،مثلاً كه څوک درباندې سلام واچوي چې السلام عليكم،نو تاسو ورته هم وو‌ايئ چې وعليكم السلام يعنى كه زياتوالئ نكوئ نو لږ تر لږه د هغه خپل الفاظ خو بيرته ورووګرځوئ) إِنَّ ٱللَّهَ بيشک الله تعالى كَانَ دى عَلَىٰ كُلِّ شَيْءٍ په هر شي باندې حَسِيبًا حساب كوونكئ. ۸۶

ٱللَّهُ لَآ إِلَٰهَ إِلَّا هُوَۚ لَيَجۡمَعَنَّكُمۡ إِلَىٰ يَوۡمِ ٱلۡقِيَٰمَةِ لَا رَيۡبَ فِيهِۗ وَمَنۡ أَصۡدَقُ مِنَ ٱللَّهِ حَدِيثٗا ﴿٨٧﴾

ٱللَّهُ الله تعالى لَآ نشته إِلَٰهَ لايق د عبادت(معبود) إِلَّا مګر هُوَۚ هغه(جل جلاله لايق د عبادت دى) لَيَجۡمَعَنَّكُمۡ خامخا به هغه«جل جلاله» راجمع كړي تاسو إِلَىٰ يَوۡمِ ورځ ته ٱلۡقِيَٰمَةِ د قيامت لَا (چې) نشته رَيۡبَ هيڅ شک فِيهِۗ په دې(ورځ كې،حتماً راتلونكې ده) وَمَنۡ او څوک أَصۡدَقُ ډېر رښتينئ دى مِنَ ٱللَّهِ د الله تعالى نه حَدِيثٗا (په) خبره كې؟(هيڅوک نه دى.) ﴿٨٧﴾

۞ فَمَا لَكُمۡ فِي ٱلۡمُنَٰفِقِينَ فِئَتَيۡنِ وَٱللَّهُ أَرۡكَسَهُم بِمَا كَسَبُوٓاْۚ أَتُرِيدُونَ أَن تَهۡدُواْ مَنۡ أَضَلَّ ٱللَّهُۖ وَمَن يُضۡلِلِ ٱللَّهُ فَلَن تَجِدَ لَهُۥ سَبِيلٗا ﴿٨٨﴾

۞ فَمَا لَكُمۡ نو څه شوي په تاسو(اى مؤمنانو) فِي ٱلۡمُنَٰفِقِينَ د منافقانو په باره كې فِئَتَيۡنِ چې دوه ډلې شوئ(يوه ډله وايي چې مسلمانان دي او بله ډله وايي چې كافر دي) وَ حال دا چې ٱللَّهُ الله تعالى أَرۡكَسَهُم ذليله كړي دي هغوى(منافقين) بِمَا په سبب(د هغو

بدو عملونو) كَسَبُوٓاْۚ چې دوی کړې دي أَتُرِيدُونَ آیا تاسو
غواړئ(ای مؤمنانو) أَن چې تَهۡدُواْ سمه لار وښایئ مَنۡ هغه
چا ته أَضَلَّ چې هغه بې لارې کړئ دی(چې هغه گمراه کړئ دی)
ٱللَّهُۖ الله تعالی(یعنی چې د هغه د بدو اعمالو په سبب د الله تعالی عدالت
وربانديې د گمراه فیصله کړې ده ) وَمَن او څوک يُضۡلِلِ چې
گمراه کوي ٱللَّهُ الله تعالی(یعنی د چا اعمال چې د الله تعالی په عدالت
کې د گمراهۍ مستحق شي) فَلَن تَجِدَ نو ته به هیڅکله پیدا نکړې
لَهُۥ هغه ته سَبِيلٗا سمه لاره ﴿٨٨﴾

وَدُّواْ لَوۡ تَكۡفُرُونَ كَمَا كَفَرُواْ فَتَكُونُونَ سَوَآءٗۖ فَلَا تَتَّخِذُواْ مِنۡهُمۡ أَوۡلِيَآءَ حَتَّىٰ
يُهَاجِرُواْ فِي سَبِيلِ ٱللَّهِۚ فَإِن تَوَلَّوۡاْ فَخُذُوهُمۡ وَٱقۡتُلُوهُمۡ حَيۡثُ وَجَدتُّمُوهُمۡۖ وَلَا
تَتَّخِذُواْ مِنۡهُمۡ وَلِيّٗا وَلَا نَصِيرًا ﴿٨٩﴾

وَدُّواْ هغوی غواړي(یعنی منافقان غواړي) لَوۡ کاشکې تَكۡفُرُونَ
چې تاسو کافران شئ كَمَا لکه څنګه چې كَفَرُواْ هغوی کافران
شوي دي فَتَكُونُونَ نو شئ به تاسو(یعنی تاسو او کافران) سَوَآءٗۖ
یو برابر فَلَا تَتَّخِذُواْ نو تاسو مه نیسئ مِنۡهُمۡ د دغو(منافقانو نه)
أَوۡلِيَآءَ دوستان(دوستي ورسره مه کوئ) حَتَّىٰ تر هغې پورې
يُهَاجِرُواْ چې هغوی هجرت وکړي فِي سَبِيلِ په لار کې ٱللَّهِۚ د الله
تعالی فَإِن نو که چیرته (منافقان سره د دې چې د هجرت وسه او
توان لري او بیا هم د هجرت کولو څخه) تَوَلَّوۡاْ دوی مخ اړوي(او د
کافرانو سره یو ځای ستا سو په خلاف جنګ کوي،او تاسو ته دسیسې
جوړوي.) فَخُذُو نونیسئ هُمۡ هغوی وَٱقۡتُلُو او وژنئ هُمۡ
هغوی حَيۡثُ هر ځای کې وَجَدتُّمُو چې تاسو پیدا کوئ هُمۡۖ

هغوی وَلَا تَتَّخِذُواْ او تاسو مه نیسئ مِنۡهُمۡ د د غو(منافقانو) څخه وَلِيّٗا دوست وَلَا او نه نَصِيرًا مدد کوونکئ. ﴿٨٩﴾

إِلَّا ٱلَّذِينَ يَصِلُونَ إِلَىٰ قَوۡمِۭ بَيۡنَكُمۡ وَبَيۡنَهُم مِّيثَٰقٌ أَوۡ جَآءُوكُمۡ حَصِرَتۡ صُدُورُهُمۡ أَن يُقَٰتِلُوكُمۡ أَوۡ يُقَٰتِلُواْ قَوۡمَهُمۡۚ وَلَوۡ شَآءَ ٱللَّهُ لَسَلَّطَهُمۡ عَلَيۡكُمۡ فَلَقَٰتَلُوكُمۡۚ فَإِنِ ٱعۡتَزَلُوكُمۡ فَلَمۡ يُقَٰتِلُوكُمۡ وَأَلۡقَوۡاْ إِلَيۡكُمُ ٱلسَّلَمَ فَمَا جَعَلَ ٱللَّهُ لَكُمۡ عَلَيۡهِمۡ سَبِيلٗا ﴿٩٠﴾

إِلَّا مګر(مه وژنئ) ٱلَّذِينَ هغه (منافقان) يَصِلُونَ چې هغوی يو ځای شي إِلَىٰ قَوۡمِۭ د (داسې)يو قوم سره(د داسې خلکو سره) بَيۡنَكُمۡ چې ستاسوپه منځ وَبَيۡنَهُم او د هغوی(يعنی د هغې قوم يا خلکو)په منځ کې مِّيثَٰقٌ يوه معاهده(او تړون) وي أَوۡ يا (هغه منافقين هم مه وژنئ) جَآءُو چې راشي هغوی كُمۡ تاسو ته(په داسې حال کې) حَصِرَتۡ چې تنګي شوې وي صُدُورُ سينې هُمۡ د هغوی(يعنی چې زړونه يې تنګ شوي وي، د دې خبرې څخه :) أَن چې يُقَٰتِلُو جنګ وکړي كُمۡ ستاسو سره( يعنی چې د خپل قوم سره ملګري شی او ستاسو سره جنګ وکړي،نور د دې نه تنګ شوي وي) أَوۡ يا (ستاسو سره ملګري شی،يعنې د جنګ نه تنګ شوي وي نور نه د خپل قوم سره ملګري کيږي چې ستاسو سره جنګ وکړي،او نه د ستاسو سره ملګري کيږي چې) يُقَٰتِلُواْ جنګ وکړي قَوۡمَهُمۡۚ د خپل قوم سره وَلَوۡ او که شَآءَ اراده کړي وه ٱللَّهُ الله تعالی لَسَلَّطَهُمۡ خامخا به يې مسلط کړي وو هغوی عَلَيۡكُمۡ په تاسو باندې فَلَقَٰتَلُو نو خامخا به يې جنګ کړئ وو كُمۡۚ ستاسو سره (يعنی دغه منافقان چې تاسو ته راځي او جنګ کول نه غواړي،که چيرته الله تعالی دوی ته جرءت او زړه ورکړئ وو نو حتماً به دوی د نورو کفارو سره يو ځای شوي وو او په شريکه به يې په تاسو باندې حمله کړي وه او په تاسو به زورور شوي

وو) فَإِنِ نو كه چيرته(دغه منافقان) ٱعۡتَزَلُو ډډه كوي كُمۡ ستاسو(سره د جنګ كولو نه) فَلَمۡ او نه يُقَٰتِلُو جنګيږي كُمۡ ستاسو(په ضد) وَأَلۡقَوۡاْ او درخواست وكړي إِلَيۡكُمُ تاسو ته ٱلسَّلَمَ د سولې فَمَا نو(بيا)نه ده جَعَلَ جوړه كړي ٱللَّهُ الله تعالى لَكُمۡ تاسو ته عَلَيۡهِمۡ په هغوی باندې(د وژلو) سَبِيلٗا كومه لار(يعنى هغه منافقان چې د نورو كافرانو سره نه ستاسو په خلاف كومک كوي،او نه ستاسو سره جنګ كوي،او نه ستاسو سره د كافرانو په خلاف كومک كوي او د نه كافرانو سره جنګ كوي،او تاسو ته د سولې درخواست كوی،نو ستاسو په دوی نور د وژلو حق نشته دی. ﴿٩٠﴾

سَتَجِدُونَ ءَاخَرِينَ يُرِيدُونَ أَن يَأۡمَنُوكُمۡ وَيَأۡمَنُواْ قَوۡمَهُمۡ كُلَّ مَا رُدُّوٓاْ إِلَى ٱلۡفِتۡنَةِ أُرۡكِسُواْ فِيهَاۚ فَإِن لَّمۡ يَعۡتَزِلُوكُمۡ وَيُلۡقُوٓاْ إِلَيۡكُمُ ٱلسَّلَمَ وَيَكُفُّوٓاْ أَيۡدِيَهُمۡ فَخُذُوهُمۡ وَٱقۡتُلُوهُمۡ حَيۡثُ ثَقِفۡتُمُوهُمۡۚ وَأُوْلَٰٓئِكُمۡ جَعَلۡنَا لَكُمۡ عَلَيۡهِمۡ سُلۡطَٰنٗا مُّبِينٗا ٩١

اوس د دريم قسم منافقانو ذكر كيږي.

سَتَجِدُونَ زر به تاسو پيدا كړئ ءَاخَرِينَ نور (داسې منافقان) يُرِيدُونَ چې دوی به غواړي أَن چې يَأۡمَنُو په امن كې شي كُمۡ ستاسو(د طرف نه،ای مؤمنانو،نو ستاسو په مخكې كليمه وايي او تاسو ته ځانونه مسلمانان معرفي كوي) وَيَأۡمَنُواْ او(همدارنګه غواړي چې په امن كې شي) قَوۡمَهُمۡ د خپل قوم (د طرف نه،نو د دې دپاره د هغوی په مخكې د مسلمانانو پورې ريشخند وهي،او د بتانو عبدادت او نور د كفر عملونه كوي) كُلَّ مَا (او دا دريم قسم منافقان چې:) هر كله رُدُّوٓاْ وبلل شي إِلَى ٱلۡفِتۡنَةِ فتنې ته(فساد ته) أُرۡكِسُواْ نسكور پريوځي فِيهَاۚ په هغې(فتنه) كې(يعنى كه كفار د مسلمانانو په ضد د جنګ پلان جوړوي،نو دوی د مسلمانو سره چې كوم د منافقت وعدې

کړي دي،په هغې وعدو خيژي او خپل ملاتړ د کافرانو او مشرکانو سره
کوي،چې دا قسم منافقان د مسلمانانو دپاره ډېر خطر ناک دي ځکه چې:د
يو طرف څخه د مسلمانانو د لاسه يو قوت چې دوی د خپل ځان دپاره
حساب کړئ وو،هغه يې د لاسه وځې،او د بل طرف نه د مسلمانانو داسې
يو دښمن په جنګ کې زياتيږي چې دوی يې نه تيارئ نيولئ وي او نه
ترې خبر وي.) فَإِن نو که چيرته لَّمْ يَعْتَزِلُو دوی ډډه ونکړي(د
جنګ کولو نه،يعنی که چيرته دا منافقان څنګ ونکړي د جنګ نه) كُمْ
د ستاسو سره وَيُلْقُوٓاْ او درخواست (ونکړي) إِلَيْكُمُ تاسو ته
ٱلسَّلَمَ د سولې وَيَكُفُّوٓاْ او ونه نيسي (منع نکړې) أَيْدِيَهُمْ لاسونه
خپل ( د جنګ نه ستاسو سره) فَخُذُو نو نيسئ هُمْ هغوی
وَٱقْتُلُو او وژنئ هُمْ هغوی حَيْثُ هر چيرته ثَقِفْتُمُو چې پيدا
کوئ هُمْ ۚ هغوی وَأُوْلَـٰٓئِكُمْ او دغه(منافقان چې دي) جَعَلْنَا
مونږ کرځولئ(مونږ درکړئ دی) لَكُمْ تاسو ته عَلَيْهِمْ په دوی
باندې (د دوی خلاف د جنګ کولو) سُلْطَـٰنًا مُّبِينًا ښکاره دليل. ٩١

وَمَا كَانَ لِمُؤْمِنٍ أَن يَقْتُلَ مُؤْمِنًا إِلَّا خَطَـًٔا ۚ وَمَن قَتَلَ مُؤْمِنًا خَطَـًٔا فَتَحْرِيرُ
رَقَبَةٍ مُّؤْمِنَةٍ وَدِيَةٌ مُّسَلَّمَةٌ إِلَىٰٓ أَهْلِهِۦٓ إِلَّآ أَن يَصَّدَّقُواْ ۚ فَإِن كَانَ مِن قَوْمٍ عَدُوٍّ
لَّكُمْ وَهُوَ مُؤْمِنٌ فَتَحْرِيرُ رَقَبَةٍ مُّؤْمِنَةٍ ۖ وَإِن كَانَ مِن قَوْمٍ بَيْنَكُمْ وَبَيْنَهُم مِّيثَـٰقٌ
فَدِيَةٌ مُّسَلَّمَةٌ إِلَىٰٓ أَهْلِهِۦ وَتَحْرِيرُ رَقَبَةٍ مُّؤْمِنَةٍ ۖ فَمَن لَّمْ يَجِدْ فَصِيَامُ شَهْرَيْنِ
مُتَتَابِعَيْنِ تَوْبَةً مِّنَ ٱللَّهِ ۗ وَكَانَ ٱللَّهُ عَلِيمًا حَكِيمًا ٩٢

وَمَا كَانَ او نه دي(جايز) لِمُؤْمِنٍ يو مؤمن ته أَن چې يَقْتُلَ
وژني مُؤْمِنًا يو مؤمن(يعنی يو مؤمن ته د بل مؤمن مرګ او وژل
جايز نه دي)

إِلَّا مګر (دا چې) خَطَـًٔاۚ په خطا (غلطۍ) سره وي وَمَن او
څوک قَتَلَ چې قتل کړي(مړ کړي) مُؤْمِنًا يو مؤمن خَطَـًٔا په
خطا سره (قاتل ګنهګار نه دى خو کفاره به ورکوى) فَتَحْرِيرُ نو(
کفاره يې) ازادول دي رَقَبَةٍ د يو غلام مُّؤْمِنَةٍ مؤمن( ښځه وى او
که نر) وَدِيَةٌ او ديت(د وينې قيمت) مُّسَلَّمَةٌ ورکول دي إِلَىٰٓ أَهْلِهِۦٓ
د هغه ( مقتول يا وژل شوي) کورنۍ ته إِلَّآ مګر أَن چې
يَصَّدَّقُواْۚ هغوى يې ورته وبښي(يعنى چې د مقتول يا وژل شوي
وارثان ورته ديت معاف کړي نو بيا به يې نه ورکوي) فَإِن او که
چيرته كَانَ وي هغه(وژل شوئ کس يا مقتول) مِن قَوْمٍ عَدُوٍّ لَّكُمْ
ستاسو د دښمنانو د قوم نه وَهُوَ او هغه(مقتول) مُؤْمِنٌ مؤمن وي
فَتَحْرِيرُ نو(په دې صورت کې) ازادول رَقَبَةٍ مُّؤْمِنَةٍۖ د يو مؤمن
غلام دي( يعنى که يو سړى په غلطۍ سره د مسلمانانو د دښمنانو د قوم
څخه يو مسلمان مړ يا قتل کړي نو په دې صورت کې ګنهګار نه دى،ديت
يا د وينې قيمت ورباندې نشته خو د يو مؤمن غلام ازاديدل ورباندې
واجب دي) وَإِن او که چيرته كَانَ يې هغه(مقتول يا وژل شوئ
کس) مِن قَوْمٍ د داسې يو قوم نه بَيْنَكُمْ چې ستاسو په منځ وَبَيْنَهُم
او د هغوى په منځ کې مِّيثَـٰقٌ يو عهد (او د سولې تړون) وي فَدِيَةٌ
(نوپه دې صورت کې ) ديت يا د وينې قيمت مُّسَلَّمَةٌ ورکول دي إِلَىٰٓ
أَهْلِهِۦ د مقتول يا وژل شوي کورنۍ ته وَتَحْرِيرُ او ازادول دي
رَقَبَةٍ مُّؤْمِنَةٍۖ د يو مؤمن غلام(که ښځه وي او که نر) فَمَن نو څوک
چې لَّمْ يَجِدْ نشي پيدا کولاى (مؤمن غلام يا وينځه چې ازاده يې کړي)
فَصِيَامُ نو روژې نيول دي شَهْرَيْنِ دوه مياشتې مُتَتَابِعَيْنِ پرله
پسې (دپاره د قبلولو د تَوْبَةً د توبې مِّنَ ٱللَّهِۗ د الله تعالى د

طرف نه وَكَانَ او دی ٱللَّهُ الله تعالی عَلِيمًا ښه عالم حَكِيمًا (او) حکمت والا. ٩٢

وَمَن يَقۡتُلۡ مُؤۡمِنٗا مُّتَعَمِّدٗا فَجَزَآؤُهُۥ جَهَنَّمُ خَٰلِدٗا فِيهَا وَغَضِبَ ٱللَّهُ عَلَيۡهِ وَلَعَنَهُۥ وَأَعَدَّ لَهُۥ عَذَابًا عَظِيمٗا ٩٣

وَمَن او څوک يَقۡتُلۡ چې قتلوې(چې وژني) مُؤۡمِنٗا يو مؤمن مُّتَعَمِّدٗا قصداً فَجَزَآؤُهُۥ نو د هغه جزا جَهَنَّمُ جهنم دی خَٰلِدٗا چې هميشه به وي فِيهَا په هغه کې(چې هميشه به اوسيږي په جهنم کې) وَغَضِبَ او غضب به کوي ٱللَّهُ الله تعالی عَلَيۡهِ په هغه باندې وَلَعَنَهُۥ او لعنت به کوي په هغه وَأَعَدَّ او تيار کړئ ئې دی لَهُۥ هغه ته عَذَابًا عذاب عَظِيمٗا ډېر لوی. ٩٣

يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوٓاْ إِذَا ضَرَبۡتُمۡ فِي سَبِيلِ ٱللَّهِ فَتَبَيَّنُواْ وَلَا تَقُولُواْ لِمَنۡ أَلۡقَىٰٓ إِلَيۡكُمُ ٱلسَّلَٰمَ لَسۡتَ مُؤۡمِنٗا تَبۡتَغُونَ عَرَضَ ٱلۡحَيَوٰةِ ٱلدُّنۡيَا فَعِندَ ٱللَّهِ مَغَانِمُ كَثِيرَةٞۚ كَذَٰلِكَ كُنتُم مِّن قَبۡلُ فَمَنَّ ٱللَّهُ عَلَيۡكُمۡ فَتَبَيَّنُوٓاْۚ إِنَّ ٱللَّهَ كَانَ بِمَا تَعۡمَلُونَ خَبِيرٗا ٩٤

يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ای هغو(خلکو) ءَامَنُوٓاْ چې ايمان يې راوړئ دی(ای مؤمنانو) إِذَا کله چې ضَرَبۡتُمۡ تاسو سفر کوئ فِي سَبِيلِ ٱللَّهِ د الله تعالی په لار کې(جهاد کوئ) فَتَبَيَّنُواْ نو ښه تحقيق کوئ وَلَا تَقُولُواْ او مه وايئ لِمَنۡ هغه چا ته أَلۡقَىٰٓ چې واچوي إِلَيۡكُمُ تاسو ته ٱلسَّلَٰمَ سلام لَسۡتَ (ورته مه وايئ چې) ته نه يې مُؤۡمِنٗا مؤمن(مسلمان،يعنی کومي داسې منطقې ته چې تاسو جهاد ته ځئ چې دارالحرب وي،حکومت او قدرت د کافرانو په لاس کې وي خو هلته مسلمانان هم موجود وي،نو که د هغې منطقې د خلکو څخه څوک

درباندې سلام واچوي،تاسو ورته داسې مه وایئ چه ته مسلمان نه يې،او د ويرې دې سلام واچولو،او د ويرې كليمه وايې،نو داسې مه كوئ چې په خوله يې باور نه كوئ او د زړه نه يې خبر نه يئ چې آيا په رښتيا مسلمان دی او كه نه،او بيا پخپله قاضيان هم شئ، فيصله هم وكړئ،د كافر نوم هم ورباندې كيږدئ،او بې د صحيح تحقيق نه سړی مړ كړئ او مال يې د غنيمت په نوم واخلئ) تَبْتَغُونَ غواړئ تاسو عَرَضَ مال(سامان) ٱلْحَيَوٰةِ د ژوند ٱلدُّنْيَا د دنيا (يعنى كه تاسو د دنيا ګټه غواړئ) فَعِندَ ٱللَّهِ نو د الله تعالى سره مَغَانِمُ غنيمتونه كَثِيرَةٌ ۚ ډېر زيات دي كَذَٰلِكَ همدا سې (خو) كُنتُم تاسو (هم) وئ مِّن قَبْلُ د دې نه مخكې(يعنى يو وخت خو تاسو هم داسې وئ چې د كفارو د ظلم او ويرې مو خپل اسلام نشو ښكاره كولاى فَمَنَّ ٱللَّهُ نو الله تعالى احسان وكړو عَلَيْكُمْ په تاسو باندې(چې د هجرت او جهاد توفيق ئې دركړو) فَتَبَيَّنُوٓا۟ ۚ نو ښه تحقيق كوئ(او پرته د پوره تحقيق څخه مه په چا د كفر ټاپه لګوئ او مه ئې وژنئ،ځكه چې كه تاسو فكر كوئ چې امكان لري چې يو كافر مونږ غلط او خطا باسي او ځان راخخه خلاصوي،خو د بل پلوه د دې امكان هم شته چې تاسو يو مؤمن مړ كړئ،نو د ستاسو دا غلطي چې يو كافر خوشي كړئ د دې نه په څو چنده بهتره ده چې يو مؤمن مړ يا قتل كړئ.) إِنَّ ٱللَّهَ بيشكه الله تعالى كَانَ دی بِمَا په هغو (عملونو) تَعْمَلُونَ چې تاسو يې كوئ خَبِيرًا ښه خبر. ٩٤

لَّا يَسْتَوِى ٱلْقَـٰعِدُونَ مِنَ ٱلْمُؤْمِنِينَ غَيْرُ أُو۟لِى ٱلضَّرَرِ وَٱلْمُجَـٰهِدُونَ فِى سَبِيلِ ٱللَّهِ بِأَمْوَٰلِهِمْ وَأَنفُسِهِمْ ۚ فَضَّلَ ٱللَّهُ ٱلْمُجَـٰهِدِينَ بِأَمْوَٰلِهِمْ وَأَنفُسِهِمْ عَلَى ٱلْقَـٰعِدِينَ دَرَجَةً ۚ وَكُلًّا وَعَدَ ٱللَّهُ ٱلْحُسْنَىٰ ۚ وَفَضَّلَ ٱللَّهُ ٱلْمُجَـٰهِدِينَ عَلَى ٱلْقَـٰعِدِينَ أَجْرًا عَظِيمًا ٩٥

دَرَجَٰتٍ مِّنۡهُ وَمَغۡفِرَةً وَرَحۡمَةًۚ وَكَانَ ٱللَّهُ غَفُورًا رَّحِيمًا ٩٦

لَّا يَسۡتَوِي نه دي برابر ٱلۡقَٰعِدُونَ كيناستونكي(په كور كې) مِنَ ٱلۡمُؤۡمِنِينَ د مؤمنانو نه غَيۡرُ په غير أُوْلِي ٱلضَّرَرِ د(شرعي) عذر نه وَٱلۡمُجَٰهِدُونَ او جهاد كوونكي فِي سَبِيلِ ٱللَّهِ د الله تعالى په لار كې بِأَمۡوَٰلِهِمۡ په خپلو مالونو سره وَأَنفُسِهِمۡۚ او په خپلو ځانونو سره(يعنى هغه مؤمنان چې پرته د عذر نه په كورونو كې ناست وي او جهاد ته نه ځي،او هغه مؤمنان چې جهاد كوي،دا دواړه سره برابر نه دي،بلكې) فَضَّلَ ٱللَّهُ الله تعالى غوره كړي دي ٱلۡمُجَٰهِدِينَ جهاد كوونكي(مؤمنان، چې جهاد كوي) بِأَمۡوَٰلِهِمۡ په خپلو مالونو سره وَأَنفُسِهِمۡ او په خپلو ځانونو سره(نو الله تعالى بهتر كړي دي دوى) عَلَى ٱلۡقَٰعِدِينَ (په كورونو كې) په كيناستونكو(مؤمنانو باندې) دَرَجَةًۚ په لويو مرتبو سره وَكُلًّا او د هر يو سره وَعَدَ وعده كړي ده ٱللَّهُ الله تعالى ٱلۡحُسۡنَىٰۚ د ښې بدلې وَفَضَّلَ ٱللَّهُ او الله تعالى غوره والى وركړئ دى(خو الله تعالى بهترې وركړي ده) ٱلۡمُجَٰهِدِينَ جهاد كوونكو(مؤمنانو) ته عَلَى ٱلۡقَٰعِدِينَ په (كورنو كې) په ناستو مؤمنانو باندې أَجۡرًا عَظِيمًا په ډېر لوى اجر سره. ٩٥

دَرَجَٰتٍ (چې دا لوى اجر) مرتبې دي مِّنۡهُ د هغه جل جلاله د طرف نه وَمَغۡفِرَةً او بخښنه ده(د الله تعالى د طرف نه) وَرَحۡمَةًۚ او مهرباني ده(د الله تعالى د طرف نه) وَكَانَ او دى ٱللَّهُ الله تعالى غَفُورًا بخښونكئ رَّحِيمًا (او) بې حده رحم كوونكئ. ٩٦

إِنَّ ٱلَّذِينَ تَوَفَّىٰهُمُ ٱلۡمَلَٰٓئِكَةُ ظَالِمِيٓ أَنفُسِهِمۡ قَالُواْ فِيمَ كُنتُمۡۖ قَالُواْ كُنَّا مُسۡتَضۡعَفِينَ فِي ٱلۡأَرۡضِۚ قَالُوٓاْ أَلَمۡ تَكُنۡ أَرۡضُ ٱللَّهِ وَٰسِعَةً فَتُهَاجِرُواْ فِيهَاۚ فَأُوْلَٰٓئِكَ مَأۡوَىٰهُمۡ جَهَنَّمُۖ وَسَآءَتۡ مَصِيرًا ٩٧

إِلَّا ٱلْمُسْتَضْعَفِينَ مِنَ ٱلرِّجَالِ وَٱلنِّسَآءِ وَٱلْوِلْدَٰنِ لَا يَسْتَطِيعُونَ حِيلَةً وَلَا يَهْتَدُونَ سَبِيلًا ٩٨ فَأُوْلَـٰٓئِكَ عَسَى ٱللَّهُ أَن يَعْفُوَ عَنْهُمْ ۚ وَكَانَ ٱللَّهُ عَفُوًّا غَفُورًا ٩٩

إِنَّ ٱلَّذِينَ بيشکه هغه خلک تَوَفَّىٰهُمُ چې روح ئې اخلي ٱلْمَلَـٰٓئِكَةُ ملائېکې ظَالِمِىٓ په داسې حال کې چې ظلم کوونکي وي أَنفُسِهِمْ په خپلو ځانونو(یعنی څوک چې په دار اکفر یا داسې ملک کې اوسیږي چې حکومت او قدرت د کافرانو پلاس کې وي،او دوی د کافرانو د خوا نه قسم-قسم تکلیفونه برداشت کوي،او څنګه چې لازم دې د اسلام د دښمنانو د ویرې نه د الله تعالی عبادت نشي کولای،نو په دې مسلمانانو باندې د دی ظالم ملک نه دارالاسلام ته یا داسې ملک ته هجرت کول فرض دي چې هلته دوی ته د عبادت کولو او نورو اسلامي فعالیتونو پوره-پوره ازادې وي،او که هجرت و نه کړي نو الله تعالی داسې خلکو ته په خپلو ځانونو باندې ظلم کوونکي وایې،نو د داسې خلکو چې کله ځنکدن شي او د مرګ ملائیکې وګورې چې: سړی خو مسلمان دی خو د اسلام دپاره ئې هیڅ نه دې کړي) قَالُواْ نو هغوی (یعنی د مرګ فریښتې ورته) وایې فِيمَ كُنتُمْ ۖ تاسو په څه حالت کې وئ(یعنی دا تاسو څه کړي دي؟یئ خو مسلمانان خو نه مو د الله تعالی صحیح او پوره عبادت کړئ دی،او نه مو د اسلام دپاره خدمت کړئ دی.) قَالُواْ دوی به ورته وایې كُنَّا چې مونږه وو مُسْتَضْعَفِينَ کمزوري فِى ٱلْأَرْضِ ۚ په ځمکه کې(یعنی مونږ په داسې ملک کې اوسیدو چې دولت او قدرت د کافرانو په لاس کې وو،په دین یې پابندي لګولې وه، مونږ د زړه څخه مسلمانان وو،خو د ویرې نه مو نه ښکاره لمونځ کولای شو،نه مو روژه نیولئ شوه،او نه موکلیمه ویلای شوه ځکه چې د کافرانو د خوانه د مرګ او درد،وهلو او بند خطر وو) قَالُوٓاْ (نو د مرګ فریښتې به ورته) وایې أَلَمْ تَكُنْ آیا نه وه أَرْضُ ځمکه ٱللَّهِ د الله تعالی وَٰسِعَةً فراخه(آیا د الله

تعالی ځمکه دومره لویه نه وه) فَتُهَاجِرُواْ چې تاسو هجرت کړئ وو
فِيهَا ۚ په هغې کې(یعنی د الله تعالی ځمکه خو ډېره پراخه وه نو د دې
ظالم او کافر حکومت نه به مو بل ملک ته هجرت کړئ وو، چیرته چې
تاسو ته پوره دیني ازادي وه،ځکه چې د دې ملک نه خو هجرت په تاسو
فرض وو،دا د الله تعالی حکم وو،نو سره د دې چې تاسو د هجرت وسه
او طاقت هم لرلو،بیا هم تاسو د الله تعالی په حکم عمل نه دی کړئ.نو الله
تعالی د دوی په باره کې فرمایي:) فَأُوْلَٰٓئِكَ نو دغه خلک(چې د وسې
او طاقت سره-سره یې هجرت نه دی کړئ) مَأْوَىٰهُمْ ځای د دوی
جَهَنَّمُ ۖ جهنم دی(دا یې د الله تعالی د خوا نه د آخرت فیصله ده)
وَسَآءَتْ او(جهنم) ډېر بد ځای مَصِيرًا د ورتللو دی. ٩٧

إِلَّا مګر ٱلْمُسْتَضْعَفِينَ کمزوره(او معیوبین) مِنَ ٱلرِّجَالِ د
سړیو څخه وَٱلنِّسَآءِ او د ښځو څخه وَٱلْوِلْدَٰنِ او د ماشومانو څخه
لَا يَسْتَطِيعُونَ چې طاقت نلري حِيلَةً د هیڅ تدبیر(او چل د هجرت
کولو) وَلَا يَهْتَدُونَ او نه پیژني سَبِيلًا هیڅ لار (د هجرت
کولو،یعنی واقعاً د هجرت کولو طاقت په کې نشته دی.) ٩٨ فَأُوْلَٰٓئِكَ نو
دغه (خلک چې واقعاً د هجرت کولو طاقت نلري) عَسَى نزدې ده
ٱللَّهُ (چې) الله تعالی أَن يَعْفُوَ معاف کړي عَنْهُمْ ۚ هغوی وَكَانَ
او دی ٱللَّهُ الله تعالی عَفُوًّا معافي کوونکئ غَفُورًا (او) بخښونکئ
٩٩ ۞

وَمَن يُهَاجِرْ فِى سَبِيلِ ٱللَّهِ يَجِدْ فِى ٱلْأَرْضِ مُرَٰغَمًا كَثِيرًا وَسَعَةً ۚ وَمَن يَخْرُجْ
مِنۢ بَيْتِهِۦ مُهَاجِرًا إِلَى ٱللَّهِ وَرَسُولِهِۦ ثُمَّ يُدْرِكْهُ ٱلْمَوْتُ فَقَدْ وَقَعَ أَجْرُهُۥ عَلَى
ٱللَّهِ ۗ وَكَانَ ٱللَّهُ غَفُورًا رَّحِيمًا ١٠٠

وَمَن او څوک يُهَاجِرْ چې هجرت كوي فِى سَبِيلِ په لار كې
ٱللَّهِ د الله تعالى يَجِدْ پيدا به کړي فِى ٱلْأَرْضِ په ځمکه کې
مُرَٰغَمًا د اوسيدلو ځايونه كَثِيرًا ډېر وَسَعَةً ۚ او(پيدا به کړي)
فراخوالئ(د رزق) وَمَن او څوک يَخْرُجْ چې وځي مِنۢ بَيْتِهِۦ
د خپل کور نه مُهَاجِرًا هجرت كوونكئ(يعنى د هجرت په نيت)
إِلَى ٱللَّهِ الله تعالى ته وَرَسُولِهِۦ او د الله تعالى رسول ته(يعنى څوک
چې د الله تعالى او د الله تعالى د رسول دپاره د كور څخه د هجرت په نيت
ووځي) ثُمَّ بيا(په لار کې) يُدْرِكْهُ ورته راشي ٱلْمَوْتُ
مرګ(يعنى د کور څخه د هجرت په نيت ووځي خو په لار کې مړ شي)
فَقَدْ نو بيشكه وَقَعَ لازم شو أَجْرُهُۥ اجر(او ثواب د هجرت) د ده
عَلَى ٱللَّهِ ۗ په الله تعالى باندې وَكَانَ او دى ٱللَّهُ الله تعالى غَفُورًا
بخښونكئ رَّحِيمًا (او) مهربان. ١٠٠

وَإِذَا ضَرَبْتُمْ فِى ٱلْأَرْضِ فَلَيْسَ عَلَيْكُمْ جُنَاحٌ أَن تَقْصُرُوا۟ مِنَ ٱلصَّلَوٰةِ إِنْ خِفْتُمْ
أَن يَفْتِنَكُمُ ٱلَّذِينَ كَفَرُوٓا۟ ۚ إِنَّ ٱلْكَٰفِرِينَ كَانُوا۟ لَكُمْ عَدُوًّا مُّبِينًا ١٠١

وَإِذَا او كله چې ضَرَبْتُمْ سفر كوئ فِى ٱلْأَرْضِ په ځمکه کې
فَلَيْسَ نو نشته عَلَيْكُمْ په تاسو باندې جُنَاحٌ ګناه أَن تَقْصُرُوا۟ په
لنډه ولو(په كوتاه كولو،په قصر كولو) مِنَ ٱلصَّلَوٰةِ د لمونځ کې(چې د
څلور رکعتي لمونځ په ځاى دوه رکعته لمونځ وکړئ) إِنْ كه خِفْتُمْ
تاسو ويرېږئ أَن يَفْتِنَكُمُ چې وبه مو ځوروي ٱلَّذِينَ هغه خلک
كَفَرُوٓا۟ ۚ چې كافران دي إِنَّ بيشكه چې ٱلْكَٰفِرِينَ كافران كَانُوا۟
دي لَكُمْ ستاسو دپاره عَدُوًّا دښمنان مُّبِينًا ښكاره. ١٠١

په اول کې د قصر لمونځ د ويرې په حالت کې مشروع شو،خو بيا
وروسته د صحيح مسلم او بخاري د حديثو څخه ثابته ده:چې رسول الله

صلى الله عليه وسلم به د سفر په وخت كې تل قصر كاوه،كه ويره به وه او كه نه.د امام ابو حنيفه رحمت الله عليه په نزد:د سفر حد ۴۸ ميله يا ۸۸ كيلو كتره دی،د سفر نيت كه د ۱۵ او يا د ۱۵ ورځو څخه زيات وي بيا به پوره لمونځ كوي،او كه ۱۴ يا د ۱۴ ورځو څخه كم وي قصر به كوي،قصر يوازې د ماسپښين،مازديگر او د عشا په لمونځونو كې كيږي،د څلورو فرض ركعتونو په ځای به دوه كوي،د سهار او ماښام په لمونځونو كې قصر نشته.

وَإِذَا كُنتَ فِيهِمْ فَأَقَمْتَ لَهُمُ ٱلصَّلَوٰةَ فَلْتَقُمْ طَآئِفَةٌ مِّنْهُم مَّعَكَ وَلْيَأْخُذُوٓاْ أَسْلِحَتَهُمْ فَإِذَا سَجَدُواْ فَلْيَكُونُواْ مِن وَرَآئِكُمْ وَلْتَأْتِ طَآئِفَةٌ أُخْرَىٰ لَمْ يُصَلُّواْ فَلْيُصَلُّواْ مَعَكَ وَلْيَأْخُذُواْ حِذْرَهُمْ وَأَسْلِحَتَهُمْۗ وَدَّ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ لَوْ تَغْفُلُونَ عَنْ أَسْلِحَتِكُمْ وَأَمْتِعَتِكُمْ فَيَمِيلُونَ عَلَيْكُم مَّيْلَةً وَٰحِدَةًۚ وَلَا جُنَاحَ عَلَيْكُمْ إِن كَانَ بِكُمْ أَذًى مِّن مَّطَرٍ أَوْ كُنتُم مَّرْضَىٰٓ أَن تَضَعُوٓاْ أَسْلِحَتَكُمْۖ وَخُذُواْ حِذْرَكُمْۗ إِنَّ ٱللَّهَ أَعَدَّ لِلْكَٰفِرِينَ عَذَابًا مُّهِينًا ۱۰۲

دا مبارک آيت د صلاةُ الخوف يا د ويرې په وخت د لمونځ په باره كې دی،خطاب نبي عليه السلام ته دی،او حكم يې د قيامت پورې ټولو مسلمانانو ته دی،الله تعالى نبي عليه السلام ته فرمايې:

وَإِذَا او كله چې (د جنگ او خطر به وخت كې) كُنتَ ته يې فِيهِمْ په دوی كې فَأَقَمْتَ او قائموې(وركوې) لَهُمُ دوی ته ٱلصَّلَوٰةَ (په جماعت سره) لمونځ فَلْتَقُمْ نو(مسلمانان دې دوه ډلې شي او) ودې دريږې طَآئِفَةٌ يو گروپ(يا يوه ډله) مِّنْهُم د دوی څخه مَّعَكَ

ستاسره(په جمعه) وَلْيَأْخُذُوٓا۟ او ودې نیسي أَسْلِحَتَهُمْ خپلې وسلې(د ځانو سره) فَإِذَا نو کله چې سَجَدُوا۟ دوی سجده وکړي(یعنی یو رکعت یې پوره شي) فَلْيَكُونُوا۟ نو شي دې دوی مِن وَرَآئِكُمْ د ستاسو شا ته(یعنی چې د اول رکعت سجده یې وکړه،نو دوی دې ستاسو شا ته لاړ شي) وَلْتَأْتِ او را دې شي طَآئِفَةٌ یو ګروپ(یا ډله) أُخْرَىٰ بله لَمْ يُصَلُّوا۟ (چې) لمونځ یې نه وي کړي فَلْيُصَلُّوا۟ نو لمونځ دې وکړي مَعَكَ ستا سره وَلْيَأْخُذُوا۟ او و دې نیسي حِذْرَهُمْ خپل احتیاطي تدابیر وَأَسْلِحَتَهُمْ ۗ او خپلې وسلې(د ځان سره)

وَدَّ ارزو لري(خوښوي) ٱلَّذِينَ هغه خلک كَفَرُوا۟ چې هغوی کافران دي چې: لَوْ کاشکې تَغْفُلُونَ غافل شئ تاسو عَنْ أَسْلِحَتِكُمْ د خپلو وسلو نه وَأَمْتِعَتِكُمْ او د خپلو سامانونو نه فَيَمِيلُونَ او دوی حمله وکړي عَلَيْكُم په تاسو باندې مَّيْلَةً وَٰحِدَةً ۚ یوه (زوروره) حمله.

وَلَا جُنَاحَ او نشته ګناه عَلَيْكُمْ په تاسو باندې إِن که چیرته كَانَ وي بِكُمْ په تاسو باندې أَذًى څه تکلیف مِّن مَّطَرٍ د باران (په سبب) أَوْ یا كُنتُم یاستئ تاسو مَّرْضَىٰٓ مریضان أَن تَضَعُوٓا۟ چې کیږدئ أَسْلِحَتَكُمْ ۖ خپلې وسلې وَخُذُوا۟ او ونیسئ حِذْرَكُمْ ۗ خپل احتیاطي تدابیر إِنَّ ٱللَّهَ بیشکه الله تعالی أَعَدَّ تیار کړئ دی لِلْكَٰفِرِينَ کافرانو ته عَذَابًا عذاب مُّهِينًا سپکوونکئ.
١٠٢

یعني کله چې مسلمانانو ته د دښمن د خوا څخه خطر وي ،چې هسې نه چې مسلمانان ټول په جمع لمونځ کوي،او دشمن ورباندې ناڅاپي حمله

وکړي،نو په دې صورت کې به صلاةُ الخوف کوي:داسې چې د امام پسې به نیمایي مسلمانان یعني مجاهدین ودریږي،او کله چې د اول رکعت سجده وشي،یا اول رکعت پوره شي،امام به جګ شي خو دوهم رکعت به ځانته کوي،او خلک به هم جګ شي هغوي به هم دوهم رکعت پرته د امام څخه کوي،کله چې دوهم رکعت پوره کړي،سلام به وګرځوي،او شا ته به لاړ شي،د پاتې نیمایي مسلمانو په ځای به ودریږي،او هغوی به راشي او د امام پسې به نیت وتړي،یعني په دوهم رکعت کې به د امام سره شریک شي،اوس امام ته راځو:امام چې کله دوهم رکعت ته جګ شي باید دومره اوږد سورت شروع کړي،یا دومره رکعت اوږد کړي،چې د ده اولني مقتدیان دوهم رکعت خلاص کړي سلام وګرځوي،شا ته لاړ شي.د هغه نورو په ځای ودریږي،او هغوی یعني پاتې نیمایي کسان راشي،او د امام سره په دوهم رکعت کې شریک شي،نور به امام رکعت پوره کړي،دوه رکعته به یې پوره شي،سلام به وګرځوي.خو شا ته مقتدیان به سلام نه ګرځوي،هغوی به جګ شي ،یو رکعت به بل وکړي،بیا به سلام وګرځوي،په دې ترتیب به د ټولو دوه دوه رکعتونه پوره شي .

په جهاد کې د لمانځه په مهال وسلې د ځان سره ساتل یا په غاړه یا په لاس کې یا په اوږه سنت او افضل دي،خو که مجبوري وي،باران یا مریضي وي او د ځان سره یې نشي نیولای،جایز دي خو باید په داسې ځای کې کیښودل شي چې ورته ښکارې او زر ورته لاس رسی کولای شي،لکه مخې ته څنګ ته خو نږدې وي او ورته ښکارې،یعنی احتیاطي تدابیر به نیسي.)

فَإِذَا قَضَيْتُمُ ٱلصَّلَوٰةَ فَٱذْكُرُوا۟ ٱللَّهَ قِيَـٰمًا وَقُعُودًا وَعَلَىٰ جُنُوبِكُمْ ۚ فَإِذَا ٱطْمَأْنَنتُمْ فَأَقِيمُوا۟ ٱلصَّلَوٰةَ ۚ إِنَّ ٱلصَّلَوٰةَ كَانَتْ عَلَى ٱلْمُؤْمِنِينَ كِتَـٰبًا مَّوْقُوتًا ١٠٣

فَإِذَا نو كله چې قَضَيْتُمُ تاسو ادا كړئ ٱلصَّلَوٰةَ لمونځ فَٱذْكُرُواْ
بيا يادوئ ٱللَّهَ الله تعالى قِيَٰمًا په ولاړي وَقُعُودًا او په ناستي
وَعَلَىٰ جُنُوبِكُمْۚ او په خپلو اړخونو باندې(چې پراته يئ) فَإِذَا نو كله
چې ٱطْمَأْنَنتُمْ مطمئين شئ (په ارام شئ) فَأَقِيمُواْ نو ادا كوئ
ٱلصَّلَوٰةَۚ لمونځ (د اطمنان د حالت) إِنَّ بيشكه ٱلصَّلَوٰةَ لمونځ
كَانَتْ دى عَلَى ٱلْمُؤْمِنِينَ په مؤمنانو باندې كِتَٰبًا فرض شوئ
مَّوْقُوتًا په معلومو وختونو كې ١٠٣

وَلَا تَهِنُواْ او(اى مؤمنانو) سستي مكوئ فِى ٱبْتِغَآءِ په تعقيبولو كې
ٱلْقَوْمِۖ د قوم(د دښمنانو،ځكه چې) إِن كه چيرته تَكُونُواْ تَأْلَمُونَ
تاسو په تكليف كيږئ فَإِنَّهُمْ يَأْلَمُونَ نو بيشكه هغوى (يعنى ستاسو
دښمنان هم) په تكليف كيږي كَمَا لكه څنګه چې تَأْلَمُونَۖ تاسو په
تكليف كيږئ(يعنى لكه څنګه چې تاسو زخميان او شهيدان كيږئ،دردونه
او تكليفونه درسيږي،همداسې ستاسو دښمنان هم زخميان او مړه
كيږي،دردونه او تكليفونه ورسيږي) وَتَرْجُونَ او تاسو(خو)اميد لرئ
مِنَ ٱللَّهِ د الله تعالى نه مَا د هغه څه لَا يَرْجُونَۗ چې هغوى يې
نلري(يعنى تاسو بختور يئ چې الله تعالى به اجرونه او ثوابونه دركړي او
جنت ته به لاړ شئ خو د دښمنانو خو مو دا اميد هم نشته او جهنم ته به
لاړ شي ) وَكَانَ او دى ٱللَّهُ الله تعالى عَلِيمًا ښه پوه حَكِيمًا
(او) حكمت والا. ١٠٤

إِنَّآ أَنزَلْنَآ إِلَيْكَ ٱلْكِتَٰبَ بِٱلْحَقِّ لِتَحْكُمَ بَيْنَ ٱلنَّاسِ بِمَآ أَرَىٰكَ ٱللَّهُۚ وَلَا تَكُن
لِّلْخَآئِنِينَ خَصِيمًا ١٠٥

إِنَّآ بيشكه مونږ أَنزَلْنَآ نازل كړئ دى إِلَيْكَ تا ته ٱلْكِتَٰبَ
كتاب (قرآنكريم) بِٱلْحَقِّ په حق سره لِتَحْكُمَ د دې دپاره چې ته

فيصله وکړي بَيْنَ په منځ ٱلنَّاسِ د خلکو کې بِمَآ په
هغه(طريقه) أَرَىٰكَ چې خودلي تا ته ٱللَّهُۚ الله تعالى وَلَا تَكُن او
ته مه کيږه لِّلْخَآئِنِينَ د خائينانو دپاره خَصِيمًا جګړه کوونکئ(او
بحث کوونکئ چې د فاع ورڅخه وکړي.يعنى د خائنانو نه به دفاع نه
کوي،هغه که زناکار وي ،که غل وي،که قاتل وي،او که ستا هر څه
وي،که دې ځوي وي،که دې ورور وي،که دې ماما،کاکا،تربور يا قومي
وي،خو چې خائين وي دفاع به ترې نه کوي.) ١٠٥

وَ (او که د خاين څخه دې دفاع کړي وي) ٱسْتَغْفِرِ بخښنه وغواړه
ٱللَّهَۖ د الله تعالى نه إِنَّ بيشکه ٱللَّهَ الله تعالى كَانَ دى
غَفُورًا بخښوونکئ رَّحِيمًا (او) مهربا١٠٦

وَلَا تُجَٰدِلْ عَنِ ٱلَّذِينَ يَخْتَانُونَ أَنفُسَهُمْۚ إِنَّ ٱللَّهَ لَا يُحِبُّ مَن كَانَ خَوَّانًا أَثِيمًا
١٠٧

وَلَا تُجَٰدِلْ او جګړه مه کوه(وکالت او دفاع مه کوه) عَنِ د طرف نه
ٱلَّذِينَ د هغو خلکو يَخْتَانُونَ چې خيانت کوي أَنفُسَهُمْۚ د خپلو
ځانونو سره(ځکه چې هر خيانت په حقيقت کې د خپل ځان سره خيانت
دى،خپل ځان ته جهنم ته لار جوړول دي ) إِنَّ بيشکه ٱللَّهَ الله
تعالى لَا يُحِبُّ نه خوښوي مَن څوک كَانَ چې وي خَوَّانًا
خاين أَثِيمًا ګنهګار 107

يَسْتَخْفُونَ مِنَ ٱلنَّاسِ وَلَا يَسْتَخْفُونَ مِنَ ٱللَّهِ وَهُوَ مَعَهُمْ إِذْ يُبَيِّتُونَ مَا لَا
يَرْضَىٰ مِنَ ٱلْقَوْلِۚ وَكَانَ ٱللَّهُ بِمَا يَعْمَلُونَ مُحِيطًا ١٠٨

ځکه چې دا خاينان داسې خلک دي چې:

يَسْتَخْفُونَ دوی پټوي (خپل خيانتونه) مِنَ ٱلنَّاسِ د انسانانو نه (يعنی خاينان خپل خيانت،غلا،زنا،قتل و غيره د انسانانو نه پټوي،د انسانانو نه حيا کوي،د انسانانو نه شرميږي، دانسانانو د جزا نه ويريږي) وَلَا يَسْتَخْفُونَ او دوی نه پټوي (خپل خيانت) مِنَ ٱللَّهِ د الله تعالی نه(.يعنی د انسانانو نه يې حيا کيږي خو د الله تعالی څخه يې حيا نه کيږي،د انسانانو نه شرميږي خو د الله تعالی څخه نه شرميږي او د انسانانو د جزا نه ويريږي خو د الله تعالی د جزا څخه نه ويريږي.) وَ په داسې حال کې هُوَ چې هغه «جل جلاله» مَعَهُمْ د دوی سره(په هغې وخت کې هم وي) إِذْ يُبَيِّتُونَ کله چې دوی د شپې مشورې کوي مَا لَا يَرْضَىٰ مِنَ ٱلْقَوْلِ د هغې خبرې په باره کې چې هغه«جل جلاله»يې نه خوښوي(يعنی که څوک د شپې د غلا،زنا او قتل په باره کې مشورې او مصلحتونه کوي،الله تعالی دوی او د دوی نيتونه ګورې او مشورې او مصلحتونه يې اورې،او هر کار چې کوي د الله تعالی نه پټ نه دی مګر بيا هم د دې سره-سره الله تعالی ورته ګورې خو دوی غلا کوي.الله تعالی ورته ګورې خو دوی زنا کوي،الله تعالی ورته ګورې خو دوی قتلونه، ظلمونه او داسې نور جرمونه کوې) وَكَانَ او دی ٱللَّهُ الله تعالی بِمَا په هغو (اعمالو) يَعْمَلُونَ چې دوی يې کوې مُحِيطًا راګيروونکئ(احاطه کوونکئ) ١٠٨

هَٰٓأَنتُمْ هَٰٓؤُلَآءِ جَٰدَلْتُمْ عَنْهُمْ فِى ٱلْحَيَوٰةِ ٱلدُّنْيَا فَمَن يُجَٰدِلُ ٱللَّهَ عَنْهُمْ يَوْمَ ٱلْقِيَٰمَةِ أَم مَّن يَكُونُ عَلَيْهِمْ وَكِيلًا ١٠٩

هَٰٓأَنتُمْ خبردار(واورئ ای د خاينانو او مجرمانو وکيلانو او دفاع کوونکو) تاسو هَٰٓؤُلَآءِ هغه خلک يئ جَٰدَلْتُمْ چې جګړه مو وکړه عَنْهُمْ د هغوی د طرف نه(يعنی د خاينانو او مجرمانو د ګناه نه د پاکولو

او د جزا نه د خلاصولو دپاره مو په محکمو او عدالتونو کې د درغو
قسمونه وخوړل،او د دروغو شاهدۍ مو ورکړه تر څو چې غله او قاتلان
د جزا نه خلاص کړئ) فِى ٱلْحَيَوٰةِ په ژوند ٱلدُّنْيَا د دنيا کې(نو
واورئ ای دروغجنو قسم خورو او رشوت خورو چې تاسو به هم د
همدې خاینانو او منافقانو سره یو ځای د قیامت په ورځ راپاڅیږئ)
فَمَن نو(بیا) به څوک يُجَٰدِلُ جګړه کوي ٱللَّهَ د الله تعالى سره
عَنْهُمْ د هغوی د طرف نه يَوْمَ په ورځ ٱلْقِيَٰمَةِ د
قیامت؟(هیڅوک به نه وي.) أَم یا مَّن څوک دی يَكُونُ چې شي
به عَلَيْهِمْ د دوی وَكِيلًا وکیل(چې د دوی په ځای د الله تعالى سره
جګړه وکړي او د الله تعالى د جزا او عذاب نه يې خلاص کړي؟.یعنی په
دنیا کې خو تاسو د رشوتونو او دنیاوي ګټو دپاره د خاینانو او مجرمانو
وکالت کوئ،په محکمو او عدالتونو کې په دروغو قسمونه خورئ، د
دروغو شاهدۍ وایئ او ورځخه دفاع کوئ خو د قیامت په ورځ به تاسو
هم د دوی سره یو ځای راپاڅیږئ،او هیڅوک به نه وي چې هغوی او
تاسو د الله تعالى د عذاب ځخه خلاص کړي.) ۱۰۹

وَمَن او څوک يَعْمَلْ چې کوي سُوٓءًا یوه ګناه أَوْ یا يَظْلِمْ
ظلم کوي نَفْسَهُۥ په خپل ځان ثُمَّ بیا يَسْتَغْفِرِ بخښنه
غواړي(توبه وباسي) ٱللَّهَ د الله تعالى نه (نو) يَجِدِ یقین به
وکړي(یعني په زړه کې به ئې د مغفرت او بخښنې احساس او اثر پیدا
شي،ګناه به ورته بده ښکاره شي،او په خپلو نیکو اعمالو کې به په زړه
کې د رحمت اثرات احساس کړي،د تکبر په ځای به پکې عاجزۍ پیدا
شي،نو یقین به يې راشي) ٱللَّهَ چې الله تعالى غَفُورًا بخښوونکۍ
رَّحِيمًا (او) رحم کوونکۍ دی.۱۱۰

(په دې مبارک آیت کې توبې او استغفار ته ترغیب ورکول شوئ دی.عبدالله ابن عباس رضی الله تعالی عنهما فرمايي:چې دا مبارک آيت د دې امت دپاره د دنيا او مافيها نه ډېر بهتر دی.د يجدالله ښخه معلوميږي چې د توبې او استغفار سره سمدستي د الله تعالی مغفرت او رحمت بنده ته حاضريږي.)حکمت القرآن

وَمَن يَكْسِبْ إِثْمًا فَإِنَّمَا يَكْسِبُهُۥ عَلَىٰ نَفْسِهِۦ ۚ وَكَانَ ٱللَّهُ عَلِيمًا حَكِيمًا ١١١

وَمَن او څوک يَكْسِبْ چې کوي إِثْمًا يوه ګناه فَإِنَّمَا نو بيشکه همدا خبره ده يَكْسِبُهُۥ چې کوي عَلَىٰ نَفْسِهِۦ ۚ په خپل ځان باندې (ظلم،يعنی که هر ظلم او جرم کوي په حقيقت کې په خپل ځان ظلم کوي او جهنم ته ځانته لار جوړوي) وَكَانَ او دی ٱللَّهُ الله تعالی عَلِيمًا پوه حَكِيمًا (او)حکمت والا ١١١

وَمَن يَكْسِبْ خَطِيٓـَٔةً أَوْ إِثْمًا ثُمَّ يَرْمِ بِهِۦ بَرِيٓـًٔا فَقَدِ ٱحْتَمَلَ بُهْتَٰنًا وَإِثْمًا مُّبِينًا ١١٢

د بنه يوهيدو دپاره د يو څه معلومات ذکر کول ضروري دي.

يو منافق د يو مسلمان ښخه غلا وکړه،خو کله چې خبره رسوا شوه،خلک د منافق کور ته راغلل نو منافق د غلا مال د يو يهودي کور ته ورواچولو او غلا ئې په يهودي ورواړوله،يهودي ډېرې چغې ووهلې چې ما غلا نه ده کړې زه بې ګناه يم،مګر د منافق قوم او نور ناخبره مسلمانان هم د منافق په طرف شو،او پيغمبر صلی الله عليه وسلم ته يې غلط معلومت ورکړل،او نيزدې وو چې نبي عليه سلام د ظاهري غلطو معلوماتو په اساس فيصله کړې وه او د يهودي لاس غوڅ شوئ وو،مګر الله تعالی نبي

علیه سلام د وحي پواسطه خبر کړو،او حقیقت معلوم شو،او بې ګناه یهودي د جزا نه بچ شو.

وَمَن او څوک يَكْسِبْ چې کوي خَطِيٓـَٔةً یوه خطا (چې سهواً یوه ګناه وکړي) أَوْ یا إِثْمًا (قصداً) یوه ګناه (وکړي) ثُمَّ بیا يَرْمِ متهم کوي(تورن کوي) بِهِۦ په هغې (ګناه) باندې بَرِيٓـًٔا یو بې ګناه (انسان) فَقَدِ نو بیشکه ٱحْتَمَلَ بار اچوي(دا سړی په خپل ځان باندې) بُهْتَـٰنًا (د یو لوی) تهمت وَإِثْمًا مُّبِينًا او د یوې ښکاره ګناه.(چې د قیامت په ورځ به دا بار د حشر په میدان کې پنځوس زره کلونه په سر باندې ګرځوي،چې دا هم لوی عذاب دی،پنځوس زره کلونه په ګرمه ځمکه ګرځیدل په داسې حال کې چې نه ونه وي نه دیوال وي او نه سوری،نه خولۍ،نه څپلۍ او نه جامې ،او د تهمت او ګناهونو پنډ په سر سړی ګرځې،او بیا هم د حساب نه وروسته که د الله تعالی په عدالت کې خلاص شي خو ښه ده، او که په دې یې جزا پوره نشي نو د نورې جزا ورکولو دپاره به دوزخ ته لیږل کیږي.) ١١٢

وَلَوْلَا فَضْلُ ٱللَّهِ عَلَيْكَ وَرَحْمَتُهُۥ لَهَمَّت طَّآئِفَةٌ مِّنْهُمْ أَن يُضِلُّوكَ وَمَا يُضِلُّونَ إِلَّآ أَنفُسَهُمْ ۖ وَمَا يَضُرُّونَكَ مِن شَىْءٍ ۚ وَأَنزَلَ ٱللَّهُ عَلَيْكَ ٱلْكِتَـٰبَ وَٱلْحِكْمَةَ وَعَلَّمَكَ مَا لَمْ تَكُن تَعْلَمُ ۚ وَكَانَ فَضْلُ ٱللَّهِ عَلَيْكَ عَظِيمًا ١١٣

وَلَوْلَا او که نه وو فَضْلُ فضل ٱللَّهِ د الله تعالی عَلَيْكَ په تا باندې(ای محمد صلی الله علیه وسلم) وَ او(که نه وو) رَحْمَتُهُۥ رحمت د هغه«جل جلاله»(په تاباندې) لَهَمَّت ( نو) یقیناً قصد کړی وو طَّآئِفَةٌ یوې ډلې مِّنْهُمْ د هغوی(منافقینو او خاینانو) أَن چې يُضِلُّوكَ (نعوذبالله)ګمراه کړي تا(یعنی چې د هغوی د دروغو په قسمونو او د غلطو معلوماتو په درکولو به ته غلطه فیصله وکړې) وَمَا

يُضِلُّونَ ليکن دوی نه ګمراه کوي(دوی نه تيرباسي) إِلَّآ أَنفُسَهُمۡۖ
مګر خپل ځانونه ګمراه کوي(خپل ځانونه تيرباسي) وَمَا يَضُرُّونَكَ او
دوی نشي رسولای تا ته ضرر مِن شَيۡءٖۚ د هيڅ شي(هيڅ ضرر او
نقصان نشي درسولای) وَأَنزَلَ او نازل کړې دی ٱللَّهُ الله تعالی
عَلَيۡكَ په تا باندې ٱلۡكِتَٰبَ کتاب (قرآنکريم) وَٱلۡحِكۡمَةَ او
حکمت(سنت) وَعَلَّمَكَ او تا ته ئې درزده کړې دي مَا هغه(څه)
لَمۡ تَكُن تَعۡلَمُۚ چې ته وربانديې نه پوهيدلې وَكَانَ او دی فَضۡلُ
فضل ٱللَّهِ د الله تعالی عَلَيۡكَ په تا باندې عَظِيمٗا ډېر لوی. ۱۱۳

لَّا خَيۡرَ فِي كَثِيرٖ مِّن نَّجۡوَىٰهُمۡ إِلَّا مَنۡ أَمَرَ بِصَدَقَةٍ أَوۡ مَعۡرُوفٍ أَوۡ إِصۡلَٰحِۭ بَيۡنَ
ٱلنَّاسِۚ وَمَن يَفۡعَلۡ ذَٰلِكَ ٱبۡتِغَآءَ مَرۡضَاتِ ٱللَّهِ فَسَوۡفَ نُؤۡتِيهِ أَجۡرًا عَظِيمٗا ﴿١١٤﴾

لَّا نشته خَيۡرَ خير فِي كَثِيرٖ مِّن نَّجۡوَىٰهُمۡ د دوی په اکثرو
مشورو کې(چې د خاينانو د جرمونو د پټولو او د هغوی څخه د دفاع کولو
دپاره دپاره يې کوي) إِلَّا مګر(د هغه چا په مشوره کې خير شته دی)
مَنۡ څوک چې أَمَرَ حکم کوې بِصَدَقَةٍ په صدقه کولو باندې
أَوۡ يا مَعۡرُوفٍ په نيکۍ کولو باندې أَوۡ يا إِصۡلَٰحِۭ په صلح
کولو باندې بَيۡنَ په منځ ٱلنَّاسِ د خلکو کې وَمَن او څوک
يَفۡعَلۡ چې هغه کوې ذَٰلِكَ دا (کارونه) ٱبۡتِغَآءَ (دپاره) د لټولو
مَرۡضَاتِ د رضا ٱللَّهِ د الله تعالی(يعنی د ريا او ځان ښودنې دپاره يې
نه کوې چې خلکو ته وايې چې فلانکې ته ما ويلې وو چې صدقه
وکړه،فلانکې ته ما ويلې وو چې:مسجد جوړ کړه،او د فلانکې او فلانکې
دښمنې ما ختمه کړه،نو که داسې نه وي او مطلب صرف يوازې د الله
تعالی رضا وي): فَسَوۡفَ نو ډېر زر به نُؤۡتِيهِ مونږ ورکړو هغه
ته أَجۡرًا اجر عَظِيمٗا ډېر لوی ﴿١١٤﴾

وَمَن يُشَاقِقِ ٱلرَّسُولَ مِنۢ بَعۡدِ مَا تَبَيَّنَ لَهُ ٱلۡهُدَىٰ وَيَتَّبِعۡ غَيۡرَ سَبِيلِ ٱلۡمُؤۡمِنِينَ نُوَلِّهِۦ مَا تَوَلَّىٰ وَنُصۡلِهِۦ جَهَنَّمَۖ وَسَآءَتۡ مَصِيرًا ﴿١١٥﴾

وَمَن او څوک چې يُشَاقِقِ مخالفت كوي ٱلرَّسُولَ د پيغمبر«صلى الله عليه وسلم» مِنۢ بَعۡدِ مَا وروسته د دې تَبَيَّنَ چې ښکاره شي(چې معلومه شي) لَهُ هغه ته ٱلۡهُدَىٰ سمه لار وَ او(د پوهې سره-سره بيا هم) يَتَّبِعۡ پيروي كوي غَيۡرَ په غير سَبِيلِ د لارې ٱلۡمُؤۡمِنِينَ د مؤمنانو نه(د نورو غيرې شرعي لارو.مثلاً ښه به پوهيږې چې د شريعت مطابق بايد واده څنګه وشي،مګر د پوهې سره-سره به د واده مراسم په غيرې اسلامي طريقو سره كوي،او نور داسې ډېر زيات مثالونه شته دی چې مسلمانان به وي،روا او ناروا به هم پيژني مګر د ژوند اكثره چارې او مسائيل به په غيرې اسلامي طريقو سره مخ ته وړي،نو د داسې سړي په باره كې الله تعالى فرمايي:) نُوَلِّهِۦ مونږ به وګرځوو هغه مَا هغه(څه ته) تَوَلَّىٰ چې هغه(پخپله) وګرځيدلی دی وَنُصۡلِهِۦ او داخل به ئې كړو جَهَنَّمَۖ جهنم ته وَسَآءَتۡ مَصِيرًا او دغه( جهنم) د ورتلو(ډېر) بد ځای دی(څنګه چې لکه په دنيا کې چې هر شی د مادې نه جوړ شوئ دی مثلاً د كور ديوالونه مادې دي،د كوټې ديوالونه مادې،چتونه مادې،فرشونه
مادې،توشک،بړستن،بالښتونه او دروازې ټول د مادې څخه جوړشوي دي.همداسې په جهنم کې هم هرشی د اور څخه جوړ شوئ دی،د كور ديوالونه د اور نه جوړ شوي دي،چتونه د اور دي،كټونه او توشكونه د اور دي،بړستنې او بالښتونه د اور دي،دروازې كړكۍ ګانې د اور دي،كميس او پرتوک د اور دي،خولۍ او څپلۍ د اور دي،خوراک او څښاک ذقوم او د دوزخيانو وينې او زوې دي ......نو هر څوک دې

غور او فکر وکړي چې څه بايد وکړي چې ددې ځای ښخه ځان بچول په کار دي او که ورتلل؟ ١١٥

إِنَّ ٱللَّهَ لَا يَغۡفِرُ أَن يُشۡرَكَ بِهِۦ وَيَغۡفِرُ مَا دُونَ ذَٰلِكَ لِمَن يَشَآءُۚ وَمَن يُشۡرِكۡ بِٱللَّهِ فَقَدۡ ضَلَّ ضَلَٰلَۢا بَعِيدًا ﴿١١٦﴾

إِنَّ بيشکه ٱللَّهَ الله تعالی لَا يَغۡفِرُ نه بخښې أَن چې يُشۡرَكَ شريک ونيول شي بِهِۦ د هغه «جل جلاله» سره وَيَغۡفِرُ او بخښې مَا هغه(ګناهونه) دُونَ چې پرته ذَٰلِكَ د شرک نه دي لِمَن هغه چاته يَشَآءُۚ چې هغه«جل جلاله» غواړي وَمَن او څوک يُشۡرِكۡ چې شرک کوي بِٱللَّهِ د الله تعالی سره فَقَدۡ نو يقيناَ ضَلَّ ګمراه شو هغه ضَلَٰلَۢا بَعِيدًا په ډېره لرې ګمراهۍ سره(يعنی د حق دلارې ښخه بې لارې او د حق نه ډېر لرې لاړو.) ﴿١١٦﴾

إِن يَدۡعُونَ مِن دُونِهِۦٓ إِلَّآ إِنَٰثٗا وَإِن يَدۡعُونَ إِلَّا شَيۡطَٰنٗا مَّرِيدٗا ﴿١١٧﴾

إِن يَدۡعُونَ هغوی نه رابلي(عبادت نه کوي مشرکان) مِن دُونِهِۦٓ پرته د هغه «جل جلاله)ځني إِلَّآ مګر إِنَٰثٗا د ښځو(په شکل د جوړو شوو بتانو عبادت کوي،مثلا د مکې مشرکانو په بتانو د ښځو نومونه ايښي وو لکه عزیَ،مناة او نائلة.هندوان د ښځو په قوارو بتان جوړوي او ورته عبادت کوي،غربيانو د مريم عليها السلام بتان جوړ کړي دي،اکثره خلک د هر کار او بار دپاره د ښځو بتان جوړوي،په دکانو،کارخانو او توليداتو باندې يې لړوې د مثال په ډول تاسو ګورئ چې د هرې شمپو دپاسه د يوې ښايسته ښځې بت لړيدلئ وي .....او نور ډېر مثالونه) وَإِن يَدۡعُونَ او دوی نه رابلي(او دا مشرکان عبادت نه کوي) إِلَّا مګر(دوی په حقيقت کې) شَيۡطَٰنٗا د شيطان مَّرِيدٗا سرکش(او نافرمانه عبادت کوي،څوک يې دې ته هڅولي دي چې د مريم عليهاالسلام

مجسمه جوړه کړي،څوک يې دي ته هڅولي دي چې د خپلو خور ګانو او
مورګانو مجسمې د خپلو دنيايي ګټو د لاس ته راوړلو دپاره استعمال
کړي،او څوک يې دې ته هڅولي دي چې د مختلفو ښځو مجسمې په
کورونو او عبادت خانو کې مخې ته کيږدي،سجدې ورته ولږوي،عبادت
يې وکړي او ټول خير او شر د همدې په خپل لاس جوړو شوو مجسمو
څخه وغواړي.) ﴿١١٧﴾

لَّعَنَهُ ٱللَّهُ وَقَالَ لَأَتَّخِذَنَّ مِنۡ عِبَادِكَ نَصِيبًا مَّفۡرُوضًا ﴿١١٨﴾

لَّعَنَهُ رټلئ دى هغه(شيطان) ٱللَّهُ الله تعالى وَقَالَ او هغه وويل(او
شيطان وويل الله تعالى ته) لَأَتَّخِذَنَّ زه به خامخا راګيروم مِنۡ عِبَادِكَ
ستا د بندګانو څخه نَصِيبًا مَّفۡرُوضًا يوه ټاکلي برخه ﴿١١٨﴾

وَلَأُضِلَّنَّهُمۡ وَلَأُمَنِّيَنَّهُمۡ وَلَأٓمُرَنَّهُمۡ فَلَيُبَتِّكُنَّ ءَاذَانَ ٱلۡأَنۡعَٰمِ وَلَأٓمُرَنَّهُمۡ فَلَيُغَيِّرُنَّ خَلۡقَ
ٱللَّهِۚ وَمَن يَتَّخِذِ ٱلشَّيۡطَٰنَ وَلِيًّا مِّن دُونِ ٱللَّهِ فَقَدۡ خَسِرَ خُسۡرَانًا مُّبِينًا ﴿١١٩﴾

وَلَأُضِلَّنَّهُمۡ (شيطان وويل)او زه به خامخا هغوى(انسانان) ګمراه کوم(او
زه به خامخا هغوى د سمې لارې څخه بې لارې کوم) وَلَأُمَنِّيَنَّهُمۡ او
زه به خامخا هغوى په (غلطو)اميدونو کې اچوم) وَلَأٓمُرَنَّهُمۡ او زه به
خامخا هغوى ته حکم کوم(يعنى په زړه کې به وسوسه وراچوم چې
حيوانات د بتانو او نيکانو په نوم نذر کړئ،او د بتانو او نيکانو په نوم
باندې د غوږونو په غوڅولو سره په کې خاص نښې وکړئ،چې خلک يې
د لرې نه پيژني چې دا د فلانکې بت يا نيک بنده نذر دى) فَلَيُبَتِّكُنَّ نو
حتماً به هغوى غوڅوي ءَاذَانَ غوږونه ٱلۡأَنۡعَٰمِ د حيواناتو(او د
بتانو په نوم به پکې نښه کوې) وَلَأٓمُرَنَّهُمۡ او زه به خامخا هغوى ته

امر کوم(یعنی شیطان وویل چې زه به د انسانانو په زړه کې خامخا دا سې وسوسې وراچوم چې د الله تعالی د تخلیق فطرې طریقو ته تغیر ورکړي) فَلَيُغَيِّرُنَّ نو دوی به خامخا تغیرراولې خَلۡقَ ٱللَّهِۚ د الله تعالی په تخلیق کې (اول باید واضح شي چې دوی د خالق کار یعنی تخلیق نشي کولای،خو دوی د خالق د تخلیق یا پیداکیدلو فطرې طریقو ته تغیر ورکوي،دا په دي معنی چې دوی نشې کولای چې د نش او عدم نه د یو ژوندې موجود پُرزې لکه مړه اتومونه،مالیکولونه او د دې خڅه بیا ډي این ای،جینونه او بالآخره یوه ژوندۍ حجره او نطفې جوړې کړي یعنی د قیامت پورې به هم انسانې تیکنالوژې د انسان د جوړولو اساسې پُرزې یعنی اتوم،مالیکول،ډي این ای،جین حجره او نطفه جوړه نه کړي،خو دوی د هغه علم پواسطه چې الله تعالی ورکړۍ دی کولای شي چې د الله د تخلیق په فطرې طریقو پوه شي یعنی چې الله تعالی نوموړي پُرزې په فطرې ډول څنګه سره یو ځای کوی او څنګه یې استعمالوي،نو دوی ته شیطان وسوسه وراچوې چې د نوموړو انسانې پُرزو یو ځای کیدلو او استعالولو ته چې په فطرې طریقو باندې صورت نیسې تاسو دې ته تغیر ورکړي،یعنی همدغه د خالق جوړې شوې پُرزې په غیرې فطرې طریقو په خپله خوښه یو ځای کوئ او استعمالوئ یې.چې په دې ۲۱ تمه پیړۍ کې لویه شیطانې او دجالې فتنه همدغه ده چې دا د شیطان پیروان کوشش کوي چې د ژوندیو موجوداتو تولد او تناسل په غیرې فطرې طریقو وکړي ،البته د ساینس په ژبه دې کار ته کلونینګ وایې،د کلونینګ معنی فوټو کافي ده یعنی هو به هو د یو شي جوړول،البته په دې ځای کې د کلونینګ په باره کې هر اړخیزه معلومات مناسب نه دی یعنی د حیواناتو او نباتاتو څخه تیریږو او یوازې په انسانې کلونینګ باندې په لنډ ډول خبرې کوو،پوهیږو چې الله تعالی د انسان د تولد او تناسل سلسله په

فطرې طریقه سره داسې مخ ته بیایې چې:د مور او پلار د یو ځای کیدو پواسطه نارینه او ښځینه نطفې سره یو ځای کیږي،او نطفة امشاج یا ذایګوټ جوړوي،او ذایګوټ یا نطفة امشاج د مور په رحم کې ځای نیسې او د څو مرحلو څخه وروسته انسان ترې جوړیږي،خو باید وواېو چې د ذکر شوي انسان ۵۰ فیصده ډي این ای د مور نه اخستل شوئ دی او ۵۰ فیصده یې د پلار څخه اخستل شوئ دی،لیکن د نوی جوړ شوی انسان ډي این ای نه د مور پشان وي او نه د پلار په شان وي همدا هغه علت او راز دی چې انسانان یو د بل په قواره نه دي،یو د بل سره فرق لرې او هر انسان بل انسان په واضح ډول پیژنې چې دا مې ماما دی ،دا مې پلار دی،دا مې خور ده ،دا مې ورور دی،ښځه خاوند پیژني او خاوند ښځه پیژنې.مګر که چېرته د ټولو خلکو ډي این ای او جینونه مشابه او یو قسم وي نو بیا به ټول خلک یو قسم او په یوه قواره وي،د ټولو به یو قسم قدونه وي،یو شان پوزې،یو شان ویښتان،یو شان سترګې یو شان خولې،یو شان خبرې،یو شان لاسونه او پښې وي یعنی هو به هو به یو انسان د بل کاپي وي،که د دې ځای پورې پوه شوي يئ نو دا معلومات په ذهن کې ونیسئ چې مخکې لاړ شو او که نه نو یوځلې یې بیا ولولئ،موضوع ته راځو:نو دا د شیطان پیروان او دجالي ډله کوشش کوي چې:د الله تعالی دې ښایسته فطرې طریقې ته چې د مور او پلار پواسطه د انساني نسل دوام او هر انسان ته مختلفه قواره ورکول دي،تغیر ورکړي،او د الله تعالی پواسطه انساني جوړي شوي پُرزې سره په غیرې فطرې طریقو یو ځای او په خپله خوښه یې استعمال کړي،چې د ساینس په ژبه ورته کلونینګ وایې،داسې چې دوی د ښځې د هګۍ (یا اوم) څخه هسته یا نوکلیوس لرې کوي(یعنی مکمل جنیټیک سیستم یا« ډي این ای» ترې لرې کوي) نو یوه بي هستې حجره پاتې کیږي چې «ډي این ای» نلرې،بیا د هر انسان چې

دوی يې کافې جوړول غواړې د هغه د يوي حجرې څخه هسته راوباسې او په دې بې هستې حجره يا هګۍ کې يې د لرې شوي هستې په ځای ږدې،او بيا ذکر شوې هګۍ د ښځې په رحم کې ږدې،او بيا وروسته د څو مرحلو څخه ترې نه انسان جوړيږي،خو دلته ښه متوجه شئ،کوم انسان چې په دې غيرې فطرې طريقه منځ ته راځې نو د ده «ډي اين ای» لکه د فطرې طريقې پشان نيم د پلار او نيم د مور څخه نه دی،او نه د نورو خلکو څخه مختلف دی،بلکه هو به هو د هغه چا د «ډي اين ای» په شان وي د چا د حجرې څخه چې هسته راوړل شوي وه،نو په دې غيرې فطرې طريقه چې کوم انسان منځ ته راځې هغه بالکل د هستې د ورکوونکې انسان ژوندی فوټو کافې ده،فکر وکړئ د لږ وخت دپاره دا ومنئ که په دې شيطانې طريقه يا د کلونينګ په طريقه انسانان زيات شي نو څه حال به وي؟د ټولو هغو انسانانو «ډي اين ای» او جينونه به يو قسم وي چا چې هستې يا نوکليوس ورکړي دي او چا چې اخستئ دی،او چې «ډی اين ای» او جينونه يې يو قسم وي نو قوارې به يې هم يو شان وي،يعنی
سرونه،سترګې،غوږونه،مخونه،ويښتان،اوازونه،عادتونه،جنسونه، لاسونه،پښې او نور ټول شيان به يې يو شان وي او چې دا ټول يوشان او يوه قواره وي ،پوهيږئ چې څه حال به وي؟هيڅوک به په هيڅ چا باور نشي کولای،، پلار په ځوی باور نشي کولای چې آيا دا ځما ځوی دی او که نه؟ ځکه پلار دا نشي معلومولای چې دا ځما حقيقې ځوی دی او که دا دهغه کافې ده؟ ښځه په ميړه باور نه شي کولای چې ايا دا ځما خاوند دی او که د خاوند کافې مې ده؟ همدارنګه مور په لور ،ورور په خور او خور په ورور لنډه دا چې په ټولنه کې هيڅوک يو په بل باور نشې کولای چې دا اصلي دی او که فوټوکافې ده.بايد ذکر شي چې په انسانې کلونينګ

په ټوله دنيا کې قانوناً کلکه پابندي ده،خو بيا هم کيداى شي چې شايد ځنې شيطاني او دجالي ډلي په خفيه لابراتوارونو کې وربانديې کار کوي،دا د قرآنکريم علمي اعجاز دى چې ۱۴۰۰ کلونه مخکې داسې شيطاني او دجالي فتني ته اشاره کوي کومه چې په شلمه او يويشتمه پيړۍ کې پيدا شوه) وَمَن يَتَّخِذِ او څوک چې نيسي ٱلشَّيۡطَٰنَ شيطان وَلِيّٗا دوست(يعنى د شيطان په حکمونو او وسوسو عمل کوي) مِّن دُونِ ٱللَّهِ په غير د الله تعالى څخه(يعنى د قرآنکريم احکام اولارښودني نه مني او د شيطان مني) فَقَدۡ نو بيشکه خَسِرَ هغه تاوان وکړو خُسۡرَانٗا تاوان مُّبِينٗا ښکاره ﴿۱۱۹﴾

يَعِدُهُمۡ وَيُمَنِّيهِمۡۖ وَمَا يَعِدُهُمُ ٱلشَّيۡطَٰنُ إِلَّا غُرُورًا ﴿۱۲۰﴾

يَعِدُ هغه (يعنى شيطان) وعدې ورکوي هُمۡ دوى ته(انسانانو ته) وَيُمَنِّيهِمۡۖ او په(غلطو اميدونو او) ارزوګانو کې يې اچوي وَمَا يَعِدُ او نه ورکوي هُمُ دوى ته ٱلشَّيۡطَٰنُ شيطان(د ربښتيا وعدې) إِلَّا مګر غُرُورًا د دوکې (او چل ول وعدې ورکوي)﴿۱۲۰﴾

أُوْلَٰٓئِكَ مَأۡوَىٰهُمۡ جَهَنَّمُ وَلَا يَجِدُونَ عَنۡهَا مَحِيصٗا ﴿۱۲۱﴾

أُوْلَٰٓئِكَ دغه (د شيطان پيروان او منونکې) مَأۡوَىٰهُمۡ د دوى د اوسيدلو ځاى جَهَنَّمُ جهنم دى وَلَا يَجِدُونَ او دوى به ونه مومي عَنۡهَا د دغه(جهنم) نه مَحِيصٗا هيڅ خلاصئ(او ځاى د تيښتي) ﴿۱۲۱﴾

وَٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ وَعَمِلُواْ ٱلصَّٰلِحَٰتِ سَنُدۡخِلُهُمۡ جَنَّٰتٖ تَجۡرِي مِن تَحۡتِهَا ٱلۡأَنۡهَٰرُ خَٰلِدِينَ فِيهَآ أَبَدٗاۖ وَعۡدَ ٱللَّهِ حَقّٗاۚ وَمَنۡ أَصۡدَقُ مِنَ ٱللَّهِ قِيلٗا ﴿۱۲۲﴾

وَٱلَّذِينَ او هغه خلک ءَامَنُواْ چې ايمان يې راوړئ دى وَعَمِلُواْ ٱلصَّٰلِحَٰتِ او نيک عملونه يې کړي دي(د دې خلکو په باره کې فرمايې

چې) سَنُدۡخِلُهُمۡ مونږ به داخل کړو دوی جَنَّٰتٖ په(داسې) جنتونو کې تَجۡرِي چې بهیږي مِن تَحۡتِهَا د هغې لاندې ٱلۡأَنۡهَٰرُ نهرونه خَٰلِدِينَ وي به(دوی) فِيهَآ په هغې (جنتونو کې) أَبَدٗاۖ همیشه(چیرته به چې سړی همیشه ژوندی او صحت مند وي،مرګ به نه وي،غریبي به نه وي همیشه به ځواني او خوشالي وي،دا د نیکانو مؤمنانو سره د الله تعالی وعده ده او) وَعۡدَ وعده ٱللَّهِ د الله تعالی حَقّٗاۚ رښتیا ده وَمَنۡ او څوک أَصۡدَقُ ډېر رښتینی دی مِنَ ٱللَّهِ د الله تعالی څخه قِيلٗا (په) خبره کې؟(هڅوک نه دی.) ﴿١٢٢﴾

لَّيۡسَ بِأَمَانِيِّكُمۡ وَلَآ أَمَانِيِّ أَهۡلِ ٱلۡكِتَٰبِۗ مَن يَعۡمَلۡ سُوٓءٗا يُجۡزَ بِهِۦ وَلَا يَجِدۡ لَهُۥ مِن دُونِ ٱللَّهِ وَلِيّٗا وَلَا نَصِيرٗا ١٢٣

د یهودیانو او نصرانیانو دا خیال دی چې مونږ جنتیان یو ځکه چې مونږ د الله تعالی خاص بندګان یو،په کومو ګناهونو باندې چې عام خلک نیول کیږي مونږ پرې نه نیول کیږو،پیغمبران علیهم السلام مو حمایت کوي،او نجات راکوي.او ځنې مسلمانان هم ځانونو ته جنتیان وایي سره د دې چې شرک،ظلمونه او قتلونه هم کوي،خو بیا هم په دې امید او هیله چې نبي علیه السلام به مو شفاعت کوي او جنت زمونږ حق دی.او ځنې خلک بیا د ځنو نیکانو خلکو څخه دا طمعه او امیدونه لري چې هغوی به نجات ورکړي او جنت ته به یې بوځي.خو

الله تعالی فرمایي:

لَّيۡسَ بِأَمَانِيِّكُمۡ (دا فیصله چې څوک جنتي دی او څوک دوزخي) نه ستاسو د (خیالي) امیدونو په اساس کیږي(یعنی چې تاسو هر څه کوئ،که په قرآن او سنتو عمل کوئ او که نه یې کوئ،که ظلمونه،غلاګانې او قتلونه کوئ او که نه یې کوئ،خو په هر حالت کې به پیغمبر«صلی الله

علیه وسلم» د حشر په میدان کې راځې،شفاعت به موکوې او تاسو به سره د پنډ پنډ ګناهونو جنت ته روان یئ،او هغه مظلومان او یتیمان به درته ګورې چې تاسو یې کورونه وران کړي وو،عزتونه مو ورته لوټ کړي وو،بې ګناه مو وژلي وو،نه هیڅکله داسې نه ده، دا ستاسو خیالي امیدونه او هیلې دي،ولې نه:پیغمبر «صلی الله علیه وسلم» د الله تعالی په اذن شفاعت کوي خو د هغه چا چې په قرآن او د پیغمبر په سنتو یې عمل کړئ وی،او د پیغمبر په نقش قدم تللئ وي) وَلَآ أَمَانِيِّ أَهْلِ ٱلْكِتَـٰبِ ۗ او نه(د جنت او دوزخ فیصله) د اهل کتابو(یعنی د یهودو او نصرانیانو) د (خیالي) امیدونو په اساس کیږي(یعنی نه به د یهودانو نیکونه د هغوی حمایت وکړي او نه به عیسی علیه السلام نصرانیان د الله تعالی د عذاب نه خلاص کړي او جنت ته به یې بوځې، بلکې دا فیصله ستاسو د اعمالو په اساس کیږي چې څوک باید جنت ته لاړ شي او څوک باید جهنم ته ولیږل شي. ځکه چې د الله تعالی قانون دی) مَن څوک چې يَعْمَلْ سُوٓءًا یو بد عمل کوي يُجْزَ بدل(جزا) به ورکول کیږي بِهِۦ د هغه(بد عمل.کله چې دا آیت نازل شو نو ابوبکر صدیق«رضی الله عنه»پوښتنه وکړه چې ای د الله تعالی رسوله!د دې آیت نه وروسته څوک د نجات او کامیابۍ امید کولای شي چې هر چاته به د(وړې او غټې) بدی بدل(یعنی جزا) ورکول کیږي،په مونږ کې به داسې څوک وي چې هغه به بدې نه وي کړي،نو دا خو به زمونږ ملا ماته کړي،پیغمبر «صلی الله علیه وسلم ورته وفرمایل:ای ابوبکر! الله تعالی دې تا ته بخنه وکړي،آیا ته نه مریض کیږې؟آیا په تا باندې غم نه راځې؟آیا په تا کوم تکلیف او پریشانې نه راځې؟ابوبکر«رضی الله تعالی عنه»وویل،ولې نه،زه مریض کیږم هم او غم او پریشانې راباندې هم راځې،نو نبي«صلی الله علیه وسلم وفرمایل چې دا هم بدله(جزا) ده،د بخارې او مسلم حدیث شریف دی

چې:پیغمبر «صلی الله علیه وسلم فرمايي:یو مسلمان ته چې کله یو
تکلیف،مصیبت،مریضي،غم یا پریشاني ورسیږي نو الله تعالی د هغه
ګناهونه معاف کوي،یعنی جنت ته د ننوتلو نه مخکې د ګناهونو جزا حتماً
ورکوي ځکه چې د ګناه سره یوځای جنت ته د ننوتلو اجازه نشته،نو بیا به
دا د خیالونو او امیدونو په دریابونو کې غرقو خلکو ته د حشر په میدان
کې څنګه پیغمبر «صلی الله علیه وسلم»راشي ،شفاعت به یې وکړي او د
شرک،قتلونو،غلاګانو او ظلمونو د ګناهونو د غټو-غټو پنډونو سره به
جنت ته داخل شي،د قرآن او سنتو په رڼا کې به، د دوی دا خیالې هیلې او
امیدونه هیڅکله رښتیا نه شي،بلکې هرچا ته به حتماً د ګناه جزا ورکول
کیږي.نو کله چې په مجرمانو د الله تعالی غذاب د جزا په شکل راشي نو
مجرمان به وارخطا شی،**یو خوا او بل خوا به وارخطا -وارخطا**
**ګوري،هر څوک به هغه څوک لټوي چې د دنیا نه د هغه په امید راغلئ**
**دی چې د الله تعالی د عذاب څخه یې خلاص کړي او جنت ته یې بوځې)**
وَلَا يَجِدْ او (لیکن یو مجرم به هم) پیدا نکړي لَهُۥ خپل ځانته
مِن دُونِ پرته ٱللَّهِ د الله تعالی څخه وَلِيًّا څوک دوست وَلَا
نَصِيرًا او نه څوک کومک کونکئ (چې د الله تعالی د عذاب څخه یې
خلاص کړي او یا د عذاب په کمولو کې ورسره یو څه کومک
وکړي،لمسیان او مریدان به په عذاب کې سوځې خو نیکونه او پیران به
یې نه د عذاب څخه خلاص کړي او نه به ورسره څه کومک وکړي)
١٢٣

وَمَن يَعْمَلْ مِنَ ٱلصَّـٰلِحَـٰتِ مِن ذَكَرٍ أَوْ أُنثَىٰ وَهُوَ مُؤْمِنٌ فَأُو۟لَـٰٓئِكَ يَدْخُلُونَ
ٱلْجَنَّةَ وَلَا يُظْلَمُونَ نَقِيرًا ١٢٤

وَمَن او څوک يَعۡمَلۡ چې عمل کوي مِنَ د ٱلصَّٰلِحَٰتِ
نیکوو(کارونو) مِن ذَكَرٍ د نارينه أَوۡ يا أُنثَىٰ د ښځې(ښځه) وَ
او (خو په دې شرط) هُوَ (چې) هغه مُؤۡمِنٞ مؤمن وي(یعنی په الله
تعالی،قرآنکریم او محمد«صلی الله علیه وسلم»باندې ئې د زړه د کومې
ښخه ایمان راوړئ وي) فَأُوْلَٰٓئِكَ نو دغه(قسم خلک) يَدۡخُلُونَ
داخلیږي ٱلۡجَنَّةَ جنت ته(یعنی تر څو چې څوک مؤمن نشي او په الله
تعالی او محمد «صلی الله علیه وسلم او قرآن عظیم الشان باندې ایمان
رانوړي،که هر څوک وي او په هر مذهب وي،که یهودي وي که
نصراني،که هندو وي که ملحد......و غیره وغیره،او هر څومره نیک
کارونه کوي،البته په دنیا کې به یې خلک ډېر صفت او عزت وکړي،مګر
د الله تعالی په دربار کې ئې یو عمل هم قبول نه دی،او جهنم ته به لیږل
کیږي) وَلَا يُظۡلَمُونَ او ظلم به نه کیږي په دوی نَقِيرٗا د نقیر(په
اندازه، نقیر د کجورې په هډوکي کې وړوکي داغ ته وایې) ١٢٤

وَمَنۡ أَحۡسَنُ دِينٗا مِّمَّنۡ أَسۡلَمَ وَجۡهَهُۥ لِلَّهِ وَهُوَ مُحۡسِنٞ وَٱتَّبَعَ مِلَّةَ إِبۡرَٰهِيمَ حَنِيفٗاۗ
وَٱتَّخَذَ ٱللَّهُ إِبۡرَٰهِيمَ خَلِيلٗا ١٢٥

وَمَنۡ او څوک أَحۡسَنُ ډېر بهتر دی دِينٗا په دین کې مِّمَّنۡ د
هغه چا څخه أَسۡلَمَ چې تسلیم کړئ ئې وي وَجۡهَهُۥ خپل ځان لِلَّهِ
الله تعالی ته وَ او(خو داسې نه وي چې ځان ئې الله تعالی ته تسلیم
کړئ وي او نور ئې پښې اوږدې غزولې وي،په جونګړه کې پروت وي
او الله تعالی ته وایې چې ته ئې راکوه او زه به ئې خورم،بلکې الله ته د
تسلیمیدوو سره-سره) هُوَ هغه مُحۡسِنٞ نیکې کوونکئ(هم)وی(یعنی
د قرآنکریم او سنتو مطابق په دنیا کې نیک اعمال، حلال کار او بار او د
الله تعالی د بنګانو سره نیکې او مرسته کوي،داسې نه چې شکرانو او

نذرونو ته سترګي په لار وي ځکه چي دا رهبانيت په اسلام کې نشته دی)
وَ او(همدارنګه چې) ٱتَّبَعَ پيروي کوي مِلَّةَ د دين إِبْرَٰهِيمَ
د ابراهيم«عليه السلام» حَنِيفًا ۗ چې حنيف دی(د شرک او غلطو عقايدو
او بدعتونو څخه پاک دی) وَٱتَّخَذَ او نيولئ دی ٱللَّهُ الله تعالى
إِبْرَٰهِيمَ ابراهيم عليه السلام خَلِيلًا دوست. ١٢٥

وَلِلَّهِ مَا فِى ٱلسَّمَـٰوَٰتِ وَمَا فِى ٱلْأَرْضِ ۚ وَكَانَ ٱللَّهُ بِكُلِّ شَىْءٍ مُّحِيطًا ١٢٦

وَلِلَّهِ او خاص د الله تعالى دي مَا هغه(څه) فِى ٱلسَّمَـٰوَٰتِ چې په
آسمانونو کې دي وَمَا او هغه (څه) فِى ٱلْأَرْضِ ۚ چې په ځمکه
کې دي وَكَانَ او دی ٱللَّهُ الله تعالى بِكُلِّ شَىْءٍ په هر شي باندې
مُّحِيطًا احاطه کوونکئ(په علم او قدرت سره،يعنى هرشی د الله تعالى د
علم او قدرت په دايره کې احاطه دی) ١٢٦

وَيَسْتَفْتُونَكَ فِى ٱلنِّسَآءِ ۖ قُلِ ٱللَّهُ يُفْتِيكُمْ فِيهِنَّ وَمَا يُتْلَىٰ عَلَيْكُمْ فِى ٱلْكِتَـٰبِ فِى
يَتَـٰمَى ٱلنِّسَآءِ ٱلَّـٰتِى لَا تُؤْتُونَهُنَّ مَا كُتِبَ لَهُنَّ وَتَرْغَبُونَ أَن تَنكِحُوهُنَّ
وَٱلْمُسْتَضْعَفِينَ مِنَ ٱلْوِلْدَٰنِ وَأَن تَقُومُوا۟ لِلْيَتَـٰمَىٰ بِٱلْقِسْطِ ۚ وَمَا تَفْعَلُوا۟ مِنْ خَيْرٍ
فَإِنَّ ٱللَّهَ كَانَ بِهِۦ عَلِيمًا ١٢٧

وَيَسْتَفْتُونَكَ او دوی پوښتنه کوي ستا نه(او خلک پوښتنه کوي ستا څخه)
فِى ٱلنِّسَآءِ ۖ د ښځو په باره کې قُلِ (ورته) ووايه ٱللَّهُ الله تعالى
يُفْتِيكُمْ حکم کوي تاسو ته فِيهِنَّ د هغوی(يعنى ښځو) په باره کې وَ
او الله تعلى حکم کوي تاسو ته) مَا د هغه(څه په باره کې) يُتْلَىٰ
چې لوستل کيږي عَلَيْكُمْ په تاسو باندې فِى ٱلْكِتَـٰبِ په کتاب(يعنى
قرآنکريم) کې فِى يَتَـٰمَى په باره د يتيمانو ٱلنِّسَآءِ ښځو کې
ٱلَّـٰتِى هغه(يتيماني ښځې) لَا تُؤْتُونَهُنَّ چې تاسو نه ورکوئ هغوی ته
مَا هغه (د هغوی حقونه) كُتِبَ چې مقرر شوي دي لَهُنَّ هغوی

ته وَتَرْغَبُونَ او غواړئ أَن چې تَنكِحُو نكاح كړئ هُنَّ
هغوی وَ او (الله تعالی حکم کوي تاسو ته ) ٱلْمُسْتَضْعَفِينَ مِنَ
ٱلْوِلْدَٰنِ د کمزورو وړو هلکانو(په باره کې) وَ (او الله تعالی تاسو
ته حکم کوي) أَن چې تَقُومُواْ ودریږئ لِلْيَتَـٰمَىٰ د یتیمانو
دپاره بِٱلْقِسْطِ ۚ په عدل(او انصاف)باندې وَمَا او هغه(څه) تَفْعَلُواْ
چې تاسو يې کوئ مِنْ خَيْرٍ د یوې نیکۍ څخه فَإِنَّ نو بیشکه
ٱللَّهَ الله تعالی كَانَ دی بِهِۦ په هغې(نیکۍ) باندې عَلِيمًا ښه
عالم. ١٢٧

وَإِنِ ٱمْرَأَةٌ خَافَتْ مِنۢ بَعْلِهَا نُشُوزًا أَوْ إِعْرَاضًا فَلَا جُنَاحَ عَلَيْهِمَآ أَن يُصْلِحَا بَيْنَهُمَا صُلْحًا ۚ وَٱلصُّلْحُ خَيْرٌ ۗ وَأُحْضِرَتِ ٱلْأَنفُسُ ٱلشُّحَّ ۚ وَإِن تُحْسِنُواْ وَتَتَّقُواْ فَإِنَّ ٱللَّهَ كَانَ بِمَا تَعْمَلُونَ خَبِيرًا ١٢٨

وَإِنِ او كه چیرته ٱمْرَأَةٌ یوه ښځه خَافَتْ ویریږي مِنۢ بَعْلِهَا د
خپل خاوند نُشُوزًا د زیاتي أَوْ یا إِعْرَاضًا مخ اړوني
څخه(یعنی چې یا به پرې زیاتئ کوي او یا به ئې د حق څخه مخ اړوي)
فَلَا نو نشته جُنَاحَ گناه عَلَيْهِمَآ په دوی باندې أَن چې
يُصْلِحَا دواړه صلحه(او جوړه) وكړي بَيْنَهُمَا په خپل منځ كې
صُلْحًا ۚ صلحه(په څه قسم) وَٱلصُّلْحُ او صلحه (او روغه جوړه)
خَيْرٌ ۗ ډیره بهتره ده(د جدا كیدلو او طلاق څخه) وَأُحْضِرَتِ ٱلْأَنفُسُ
ٱلشُّحَّ ۚ او (اكثر چې) انسان بُخل او حرص لري(یعنی د خاوندانو په
فطرت كې هم داسې بُخل او حرص دی چې:هر څه خپل ځان ته غواړي
او بل چا ته په وركولو باندې بخیلي كوي.مثلاً غواړي چې
واک،اختیار،دولت او صلاحیت دې د ده په لاس كې وي،ښځه باید د ده په
اشارو كار وكړي،د مال او پوره نفقې په وركولو كې د وسې سره-سره بیا

هم بخيلي کوي،د يو څخه د زياتو ودونو په صورت کې د هرې ښځې سره چې زيات محبت لرې،د هغې سره وخت تيرول غواړي او پوره حقوق ورکوي او د نوره ښځو خيال څنګه چې د هغوی حق دی،نه ساتي.مګر د ښځو په فطرت کې هم هماغسې بخيلې او حرص شته دی څنګه چې د خاوندانو په فطرت کې دی،لکه څنګه چې خاوندان غواړي چې مال،دولت او صلاحيت دې ځما وي،همدارنګه د هرې ښځې هم دا حرص وي او دا غواړي چې هر څه دې د هغې په کنترول کې وي،مال،دولت،حثيت او صلاحيت دې د هغې وي،خاوند دې د هغې په اشارو تاويږي،که ښځه وايي چې شپه ده خاوند دې هم وايي چې شپه ده او که ښځه وايي چې ورځ ده خاوند دې هم وايي چې ورځ ده،او د خپلې نفقې نه پرته د خاوند ټول مال خپلول غواړي،او د يو څخه د زياتو ودونو په صورت کې د هرې ښځې دا حرص وي چې خاوند دې صرف د دې يوازې وي،او نورو ښځو ته د هغوی په خپل حق ورکولو باندې هم بخيلي کوي.نو څنګه چې په ښځو او نرانو دواړو کې ُبخل او حرص شته دی،او حرص او بخل داسې شی دی چې دوی صلحې او روغې او جوړې ته نه پريږدې) وَإِن او(ليکن) که چيرته تُحْسِنُواْ تاسو احسان کوئ(يو دبل سره،او هر يو خپل بُخل او حرص کنټرول کړئ،ځکه لکه کوم حرص او بُخل چې په تا کې دی،همداسې بُخل او حرص په بل کې هم دی نو که لږ يو تير شي او لږ بل،يعنی که يو څه ګزاره خاوند وکړي او څه ښځه،يو څه قدم نارينه په خپل نفس کيږدي او څه قدم ښځه په خپل نفس کيږدي،او هر څوک فکر وکړي چې:لکه څنګه چې ځما زړه هرڅه غواړي همداسې د هر انسان زړه هرڅه غواړي،نو که څوک اول د خپلو او بيا د نورو د نفس او حقوقو خيال وساتي،انشاء الله چې کورنی او ټولنه به ټول اصلاح شي) وَتَتَّقُواْ او د الله تعالی څخه ويريږئ فَإِنَّ نو بيشکه ٱللَّهَ

الله تعالى كَانَ دى بِمَا په هغه(څه)باندې تَعۡمَلُونَ چې تاسو يې كوئ خَبِيرٗا خبر ١٢٨

وَلَن تَسۡتَطِيعُوٓاْ أَن تَعۡدِلُواْ بَيۡنَ ٱلنِّسَآءِ وَلَوۡ حَرَصۡتُمۡۖ فَلَا تَمِيلُواْ كُلَّ ٱلۡمَيۡلِ فَتَذَرُوهَا كَٱلۡمُعَلَّقَةِۚ وَإِن تُصۡلِحُواْ وَتَتَّقُواْ فَإِنَّ ٱللَّهَ كَانَ غَفُورٗا رَّحِيمٗا ١٢٩

وَلَن تَسۡتَطِيعُوٓاْ او تاسو به هيڅكله ونه شئ كولاى أَن چې(په هر شي كې ) تَعۡدِلُواْ (پوره)عدالت وكړئ بَيۡنَ په منځ د ٱلنِّسَآءِ ښځو كې (ځكه چې هر شى ستاسو په اختيار كې نه دى) وَلَوۡ اګر كه حَرَصۡتُمۡۖ تاسو (د پوره عدالت )حرص(او كوشش) هم وكړئ(مګر بيا هم نشئ كولاى چې د هرې ښځې دپاره په زړه كې يو قسم مينه او محبت پيدا كړئ،مګر سره د دې چې د زړه په محبت باندې كنټرول نلرئ او د يوې ښځې سره مو ډېره مينه او محبت وي،مګر د دې سره-سره ) فَلَا تَمِيلُواْ بيا(هم) مه كږيږئ كُلَّ ٱلۡمَيۡلِ په پوره كوږوالي(يعنى ټول حقوق صرف هغې ښځې ته مه وركوئ د كومې سره چې زړه كې محبت لرئ) فَتَذَرُو او پرېږدئ هَا هغه(بله ښځه د كومې سره چې په زړه كې كمه مينه لرئ) كَٱلۡمُعَلَّقَةِۚ زوړنده غوندې(چې نه كونډه وي او نه خاوند والا وي) وَإِن تُصۡلِحُواْ او كه تاسو اصلاح وكړئ(خپل ځانونه اصلاح كړئ او نورو ښځو ته هم د ښځو په سترګه وګورئ،او ټوله توجه صرف هغې ښځې ته ورنكړئ د كومې سره چې د زړه محبت لرئ ) وَتَتَّقُواْ او ځان وساتئ(د ظلم نه،يعنى د الله تعالى د وېرې څخه هرې ښځې ته په داسې سترګه وګورې لكه څنګه چې د هغوى حق دى) فَإِنَّ ٱللَّهَ نو بيشكه چې الله تعالى كَانَ دى غَفُورٗا بخښونكې رَّحِيمٗا (او)رحم كوونكې ١٢٩

وَإِن يَتَفَرَّقَا يُغۡنِ ٱللَّهُ كُلّٗا مِّن سَعَتِهِۦۚ وَكَانَ ٱللَّهُ وَٰسِعًا حَكِيمٗا ١٣٠

وَإِن او كه چيرته(ښځه او خاوند يو دبل څخه) يَتَفَرَّقَا بيل شول
يُغْنِ غني(او بي نيازه)به كړي ٱللَّهُ الله تعالى كُلًّا دواړه (د احتياج
څخه) مِّن سَعَتِهِۦۚ د خپلو پراخه (خزانو) نه وَكَانَ ٱللَّهُ او دى الله
تعالى وَٰسِعًا پراخه(فضل والا) حَكِيمًا (او)حكمتونو والا. ١٣٠

وَلِلَّهِ مَا فِى ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَمَا فِى ٱلْأَرْضِۗ وَلَقَدْ وَصَّيْنَا ٱلَّذِينَ أُوتُوا۟ ٱلْكِتَٰبَ مِن
قَبْلِكُمْ وَإِيَّاكُمْ أَنِ ٱتَّقُوا۟ ٱللَّهَۚ وَإِن تَكْفُرُوا۟ فَإِنَّ لِلَّهِ مَا فِى ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَمَا فِى
ٱلْأَرْضِۚ وَكَانَ ٱللَّهُ غَنِيًّا حَمِيدًا ١٣١

وَلِلَّهِ او خاص د الله تعالى دي مَا هغه (څه) فِى ٱلسَّمَٰوَٰتِ (چې)
په آسمانونو كې دي وَمَا او هغه (څه) فِى ٱلْأَرْضِۗ (چې) په
ځمكه كې دى وَلَقَدْ او بيشكه وَصَّيْنَا مونږ حكم كړى وو ٱلَّذِينَ
هغو(خلكو)ته أُوتُوا۟ چې وركول شوى وو ٱلْكِتَٰبَ كتاب مِن
قَبْلِكُمْ ستاسو نه مخكې وَإِيَّاكُمْ او تاسو ته(هم حكم كوو) أَنِ
چې ٱتَّقُوا۟ ويريږئ ٱللَّهَۚ د الله تعالى نه وَإِن او كه چيرته
تَكْفُرُوا۟ انكار كوئ فَإِنَّ نو بيشكه لِلَّهِ صرف د الله تعالى دي
مَا هغه(څه) فِى ٱلسَّمَٰوَٰتِ (چې) په آسمانونو كې دي وَمَا او
هغه(څه) فِى ٱلْأَرْضِۚ (چې) په ځمكه كې دي وَكَانَ او دى
ٱللَّهُ الله تعالى غَنِيًّا بي پروا حَمِيدًا (او)د حمد او ثنا لايق ١٣١

وَلِلَّهِ مَا فِى ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَمَا فِى ٱلْأَرْضِۚ وَكَفَىٰ بِٱللَّهِ وَكِيلًا ١٣٢

وَلِلَّهِ او خاص د الله تعالى دي مَا هغه(څه) فِى ٱلسَّمَٰوَٰتِ (چې)
په آسمانونو كې دي وَمَا او هغه(څه) فِى ٱلْأَرْضِۚ (چې) په
ځمكه كې دي وَكَفَىٰ او كافي دى بِٱللَّهِ الله تعالى وَكِيلًا
وكيل(كار جوړونكئ) ١٣٢

إِن يَشَأۡ يُذۡهِبۡكُمۡ أَيُّهَا ٱلنَّاسُ وَيَأۡتِ بِـَٔاخَرِينَۚ وَكَانَ ٱللَّهُ عَلَىٰ ذَٰلِكَ قَدِيرٗا ١٣٣

إِن يَشَأۡ كه هغه «جل جلاله»وغواړي يُذۡهِبۡكُمۡ تاسو به د منځ نه يوسي(د ځمكې د مخ څخه به مو نيست او نابود كاندې) أَيُّهَا ٱلنَّاسُ اى انسانانو وَيَأۡتِ او را به ولي بِـَٔاخَرِينَۚ نور (انسانان ستاسو په ځاى) وَكَانَ او دى ٱللَّهُ الله تعالى عَلَىٰ ذَٰلِكَ په دې(كار) باندې(چې تاسو ختم كړي او ستاسو په ځاى نوې انسانان دنيا ته راولي) قَدِيرٗا قادر(يعنى دا كار الله تعالى ته ډېر اسانه دى،ځكه كله چې الله تعالى د كوم كار د كولو اراده وفرمايي،نو هغه ته وفرمايي چې وشه نو هغه كار وشي) ١٣٣

مَّن كَانَ يُرِيدُ ثَوَابَ ٱلدُّنۡيَا فَعِندَ ٱللَّهِ ثَوَابُ ٱلدُّنۡيَا وَٱلۡأٓخِرَةِۚ وَكَانَ ٱللَّهُ سَمِيعَۢا بَصِيرٗا ١٣٤

مَّن كَانَ څوك چې(داسې) وي يُرِيدُ چې غواړي ثَوَابَ اجر(يعنى بدل) ٱلدُّنۡيَا د دنيا (نو اى انسانه په دې پوه شه چې: د دنيا د شهرت،عزت او دولت د لاس ته راوړلو دپاره كوشش كوي،كار كوي،او كله چې دولت،عزت او شهرت راشي بيا فكر كوي چې دا هر څه ما پخپله لاس ته راوړل،خو حقيقت بلكل داسې نه دى،تا خو صرف د دولت،عزت او شهرت اراده كړې وه د دې د حاصلولو دپاره چې تا ځومره اسباب استعمال كړي دي دا يو هم ستا نه وو،تا چې د دې شيانو د حاصلولو دپاره كوم اسباب يعنى لاسونه، پښې ،سترګې او عقل استعمال كړي دي،دا خو تا پخپله نه ځان ته جوړ كړي دي،او نه دې مور او پلار په بيه درته اخستي دي، بلكې دا خو د هغه حقيقى خالق پورې اړه لرې او د هغه ملكيت دى چا چې جوړ كړي دي،او لحظه په لحظه يې پالنه كوي،نو په حقيقت كې تا هيڅ نه دې كړي ستا صرف نيت او اراده

استعمال شوي ده،او ستا د ارادې او نيت دپوره کولو دپاره چې څومره
فزيکي او غيرې فزيکي اسباب استعمال شوي دي هغه ټول د خالق يعنی
الله تعالی دي،انسانه ته خو يې حتی پيژني هم نه،ته خو لا تر اوسه پورې
په دې هم نه پوهيږي چې عقل څه شی دی،د څه شي نه جوړ شوئ
دی،چيرته دی،ته خو لا تر اوسه په دې هم نه پوهيږي چې زړه دې څنګه
کار کوي او د کوم ځايه او په څه ترتيب ورته برق راځي ، و غيره
وغيره ........نو که په دې اسبابو کې يو سبب هم نه وو نو تا به څنګه دا
عزت،دولت او شهرت حاص کړئ وو،که عقل دې نه وو او معيوب وي
ستا او د ځناور به څه فرق وو،او تا به د الله تعالی څه کړي وو،دا دومره
بې شماره ړندو،معيوبينو او ليونيانو د الله تعالی څه وکړل چې تا به کړې
وو،نو حقيت دا دی چې په غيرې مستقيم ډول ستا نيت او اراده الله تعالی
پوره کړه،او په دنيا کې يې ستا د ارادې بدل يا جزا درکړه.نو انسانه لکه
څنګه چې د د نيا د حاصلولو دپاره الله تعالی ستا نيت او اراده پوره
کوي،همدارنګه که ته يې منې او که نه يې منې،د دنيا نه پرته ستا دپاره
يوه بله د آخرت نه ختميدونکې دنيا هم شته دی،چې هلته د جنت پشان
نعمتونه دي،نو ای د دنيا په مزو کې ډوب غافله انسانه که د دنيا د
حاصلولو غوندې د جنت د حاصلولو نيت او اراده هم وکړي،او لکه څنګه
چې د دنيا د حاصلولو دپاره د مشقتونو او تکليفونو د تيرولو اراده کوي،او
همداسې نيت او اراده د جنت د حاصلولو او د نيکو اعمالو د کولو دپاره
هم وکړي. فَعِندَ ٱللَّهِ نو د الله تعالی سره ثَوَابُ اجر(يعنی بدل)
ٱلدُّنْيَا د دنيا (هم شته) وَٱلْـَٔاخِرَةِ ۚ او(اجر) د آخرت ( هم شته) دی (نو
لکه څنګه چې په دنيا کې اجر درکوې همداسې اجر به په آخرت کې هم
درکړي،ان شاءالله) وَكَانَ او دی ٱللَّهُ الله تعالی سَمِيعًۢا
اوريدونکئ بَصِيرًا (او)ليدونکئ. ١٣٤

۞ يَـٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ كُونُواْ قَوَّٰمِينَ بِٱلْقِسْطِ شُهَدَآءَ لِلَّهِ وَلَوْ عَلَىٰٓ أَنفُسِكُمْ أَوِ
ٱلْوَٰلِدَيْنِ وَٱلْأَقْرَبِينَ ۚ إِن يَكُنْ غَنِيًّا أَوْ فَقِيرًا فَٱللَّهُ أَوْلَىٰ بِهِمَا ۖ فَلَا تَتَّبِعُواْ ٱلْهَوَىٰٓ
أَن تَعْدِلُواْ ۚ وَإِن تَلْوُۥٓاْ أَوْ تُعْرِضُواْ فَإِنَّ ٱللَّهَ كَانَ بِمَا تَعْمَلُونَ خَبِيرًا ١٣٥

۞ يَـٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ اى هغو(خلکو) ءَامَنُواْ چې ایمان يې راوړې دی(یعنی ای مؤمنانو) كُونُواْ شئ قَوَّٰمِينَ بِٱلْقِسْطِ په انصاف باندې ولاړ شُهَدَآءَ شاهدان لِلَّهِ د الله تعالی دپاره(یعنی کله چې قضاء،عدالت او جرګې ته د شاهدی ورکولو دپاره غوښتل کیږئ،شاهدی ورکولو ته به ورځئ،او کله چې شاهدۍ وایئ،بې عدالتي او بې انصافي به نه کوئ بلکې په عدالت او انصاف به کلک ودریږئ،د هیڅ چا طرفداری به نه کوئ او صرف د الله تعالی دپاره به شاهدۍ وایئ.) وَلَوْ اګر که (وي دا شاهدۍ ستاسو) عَلَىٰٓ أَنفُسِكُمْ ستاسو په خپلو ځانونو باندې أَوِ یا ٱلْوَٰلِدَيْنِ (ستاسو په) مور او پلار وَٱلْأَقْرَبِينَ ۚ او (ستاسو په) دوستانو (باندې،څه چې انصاف او عدالت وي، فرق به نه کوئ او د الله تعالی د رضا دپاره به شاهدۍ وایئ،همدارنګه) إِن يَكُنْ که چیرته وي هغه(د چا دپاره چې تاسو شاهدۍ ورکوي) غَنِيًّا مالدار أَوْ یا فَقِيرًا غریب (خو تاسو به د مالدار دپاره د کومې طمعې په خاطر او په غریب باندې د هغه سره د کومک کولو په خاطر شاهدۍ نه بدلوې، عدالت او انصاف به کوئ،ځکه چې: فَٱللَّهُ الله تعالی أَوْلَىٰ ډېر مهربانه دی بِهِمَا ۖ په دوی دواړو باندې(د ستاسو څنې،تاسو صرف حق وایئ) فَلَا تَتَّبِعُواْ نو پیروي مکوئ تاسو ٱلْهَوَىٰٓ د خواهشاتو (یعنی د نفسې خواهشاتو مه منه چې:که چیرې حق ووایم یا به ما ته یا به ځما مور او پلار ته یا به مې خپلوانو ته څه خپګان پیدا شي،یا مالدار ته د طمعې په خاطر او غریب سره د کومک کولو په خاطر) أَن چې تَعْدِلُواْ ۚ د عدل (او انصاف)څخه اوړئ وَإِن نو که

چيرته تَلْوُۥٓاْ غلط بيان وكړئ(يعنى غلطه شاهدې وركړئ) أَوْ يا
تُعْرِضُواْ مخ واړوئ (د شاهدی وركولو څخه) فَإِنَّ نو(غوړونه مو
خلاص كړئ چې) بيشكه ٱللَّهَ الله تعالى كَانَ دی بِمَا په
هغه(اعمالو) تَعْمَلُونَ چې تاسو يې كوئ خَبِيرًا خبر(نو د غلطې
شاهدی وركولو او يا د شاهدی پټولو به جزا دركړي) ١٣٥

يَـٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ اى هغو (كسانو) ءَامَنُوٓاْ چې ايمان يې راوړئ دی(يعنى
اى مؤمنانو) ءَامِنُواْ ايمان راوړئ بِٱللَّهِ په الله تعالى باندې
وَرَسُولِهِۦ او د هغه «جل جلاله» په پيغمبر(محمد«صلى الله عليه
وسلم») باندې وَٱلْكِتَـٰبِ او په كتاب(قرآنكريم) باندې ٱلَّذِى
هغه(قرآن) نَزَّلَ چې نازل كړئ دی هغه«جل جلاله» عَلَىٰ رَسُولِهِۦ
په خپل پيغمبر(محمد«صلى الله عليه وسلم»)باندې وَٱلْكِتَـٰبِ او
(ايمان راوړئ په هغو) كتابونو باندې ٱلَّذِىٓ هغه(چې) أَنزَلَ نازل
كړې دي هغه(جل جلاله» مِن قَبْلُ ۚ مخكې د دې(قرآنكريم)څخه
وَمَن او څوک چې يَكْفُرْ انكار كوي(د ايمان راوړلو څخه) بِٱللَّهِ
په الله تعالى باندې وَمَلَـٰٓئِكَتِهِۦ او په ملائيكو (د الله تعالى )باندې
وَكُتُبِهِۦ او په كتابونو(د الله تعالى)باندې وَرُسُلِهِۦ او په پيغمبرانو
(د الله تعالى) باندې وَٱلْيَوْمِ ٱلْـَٔاخِرِ او په ورځ د آخرت باندې فَقَدْ
نو بيشكه ضَلَّ گمراه شو هغه ضَلَـٰلًۢا په گمراهی بَعِيدًا
ډېره لرې(د حق څخه) ١٣٦

إِنَّ ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ ثُمَّ كَفَرُواْ ثُمَّ ءَامَنُواْ ثُمَّ كَفَرُواْ ثُمَّ ٱزْدَادُواْ كُفْرًا لَّمْ يَكُنِ ٱللَّهُ
لِيَغْفِرَ لَهُمْ وَلَا لِيَهْدِيَهُمْ سَبِيلًۢا ١٣٧

إِنَّ بيشكه ٱلَّذِينَ هغه خلک ءَامَنُواْ چې ايمان يې راوړئ دی ثُمَّ
بياوروسته( د ايمان راوړلو څخه بيرته) كَفَرُواْ كافران شوي دي

ثُمَّ بیا يې (د کفر نه وروسته بیرته) ءَامَنُواْ ایمان راوړئ دی
ثُمَّ بیا(د دوهم ځل ایمان راوړلو وروسته بیرته) كَفَرُواْ كافران
شوي دي ثُمَّ (او د دوهم ځل كفر نه وروسته) ٱزْدَادُواْ كُفْرًا
دوی په کفر کې بنه مخ په وړاندې تللي دي(یعنی د کفر سره-سره د
مسلمانانو په خلاف سازشونه او توطیې جوړوي،د اسلام په خلاف
تبلیغات کوي،او کوشش کوي چې د نورو مسلمانو عقیدې هم خرابې کړي
او د اسلام څخه یې واړوي لَّمْ يَكُنِ ٱللَّهُ (نو) الله تعالی داسې نه دی(یعنی
د الله تعالی عدالت داسې نه دی) لِيَغْفِرَ چې هغه «جل جلاله» بخښنه
وکړي لَهُمْ دوی ته وَلَا او نه(د الله تعالی عدالت داسې دی)
لِيَهْدِيَهُمْ چې هغه «جل جلاله»وښايي دوی ته سَبِيلًۢا سمه
لاره.(یعنی د دوی د خپلو اعمالو په سبب د الله تعالی بخښني او هدایت
څخه محروم شوي دي،نه دا چې الله تعالی په دوی نعوذبالله ظلم ۱۳۷

بَشِّرِ ٱلْمُنَـٰفِقِينَ بِأَنَّ لَهُمْ عَذَابًا أَلِيمًا ۱۳۸

بَشِّرِ زیری ورکړه ٱلْمُنَـٰفِقِينَ منافقانو ته بِأَنَّ لَهُمْ چې د دهغوی
دپاره عَذَابًا أَلِيمًا ډیر دردناک عذاب دی. ۱۳۸

ٱلَّذِينَ يَتَّخِذُونَ ٱلْكَـٰفِرِينَ أَوْلِيَآءَ مِن دُونِ ٱلْمُؤْمِنِينَ ۚ أَيَبْتَغُونَ عِندَهُمُ ٱلْعِزَّةَ فَإِنَّ
ٱلْعِزَّةَ لِلَّهِ جَمِيعًا ۱۳۹

ٱلَّذِينَ (منافقان)هغه خلک دي يَتَّخِذُونَ چې نیسي ٱلْكَـٰفِرِينَ
کافران أَوْلِيَآءَ دوستان مِن دُونِ پرته د ٱلْمُؤْمِنِينَ ۚ مؤمنانو
څخه أَيَبْتَغُونَ آیا دوی(یعنی منافقان) لټوي عِندَهُمُ د هغوی سره(یعنی
د کافرانو سره په دوستی کولو کې) ٱلْعِزَّةَ خپل عزت؟(هیڅکله هم نه،د
کافرانو په دوستۍ کې به هیڅکله د عزت خاوندان نشي،بلکې په ژوند کې
به هم خلک په سپکه سترګه ورته ګوري،پس د مرګه به یې هم د تاریخ په

پاڼو کې نوم د سپکو خلکو په لیست کې لیکل کیږي،او په آخرت کې به هم خوار او ذلیل وي.ځکه ) فَإِنَّ بیشکه چې ٱلْعِزَّةَ عزت لِلَّهِ جَمِيعًا ټول د الله تعالی په اختیار کې دی(دا صرف د الله تعالی په اختیار کې ده چې چاته عزت ورکوي او که نه). ١٣٩

باید پوه شو چې:اولیاء-داسې قلبي دوستۍ ته وایي چې یو د بل رازونه ساتي،یو د بل ملاتړ او د زړه د کومې یو د بل سره محبت لري،د داسې کولو اجازه د کافرانو او د الله تعالی د دښمنانو سره نشته دی،البته د کافرانو سره ښه رویه،ښه سلوک،ښه دار مدار،ښه اخلاق کول او په ښو اخلاقو سره خبرې او راشه درشه کول دا بیله خبره ده.

وَقَدْ نَزَّلَ عَلَيْكُمْ فِى ٱلْكِتَـٰبِ أَنْ إِذَا سَمِعْتُمْ ءَايَـٰتِ ٱللَّهِ يُكْفَرُ بِهَا وَيُسْتَهْزَأُ بِهَا فَلَا تَقْعُدُوا۟ مَعَهُمْ حَتَّىٰ يَخُوضُوا۟ فِى حَدِيثٍ غَيْرِهِۦٓ ۚ إِنَّكُمْ إِذًا مِّثْلُهُمْ ۗ إِنَّ ٱللَّهَ جَامِعُ ٱلْمُنَـٰفِقِينَ وَٱلْكَـٰفِرِينَ فِى جَهَنَّمَ جَمِيعًا ١٤٠

وَقَدْ او بیشکه نَزَّلَ هغه «جل جلاله»نازل کړئ دی عَلَيْكُمْ په تاسو باندې فِى ٱلْكِتَـٰبِ په(دې)کتاب کې(داحکم) أَنْ چې إِذَا کله سَمِعْتُمْ تاسو اورئ ءَايَـٰتِ آیاتونه ٱللَّهِ د الله تعالی يُكْفَرُ چې کفر کیږي بِهَا په هغو(آیاتونو)باندې وَيُسْتَهْزَأُ او ټوقې کیږي بِهَا په هغو(آیاتونو)باندې(یعنی که په داسې مجلس کې ناست یئ،چې د مجلس خلک د الله تعالی د آیاتونو او دین پورې ټوقې او مسخرې کوي) فَلَا تَقْعُدُوا۟ نو مه کینئ مَعَهُمْ د هغوی سره(په مجلس کې) حَتَّىٰ د هغې پورې يَخُوضُوا۟ چې مشغول شي هغه(د مجلس خلک) فِى حَدِيثٍ غَيْرِهِۦٓ د دې نه علاوه په نورو خبرو کې(یعنی په کوم مجلس کې چې د مجلس خلک د الله تعالی په دین پورې ټوقې کوي،نو دالله تعالی حکم دی چې تاسو به د هغې پورې په دې مجلس کې نه کینئ تر څو

پورې چې د مجلس د بحث او خبرو مضوع بدله شوي نه وي،یعنی چې د مجلس خلک داسې بحث او خبرې شروع کړي چې د الله تعالی د آیاتونو او دین سپکاوئ او ریشخند په کي نه وي،او که داسې ونکړئ،او په داسې مجلسونو کې ناسته کوئ چې:د مجلس خلک د الله تعالی د دین او قرآنکریم نه انکار کوي او په قرآن او دین او پیغمبر علیه السلام باندې ریشخند وهي،او په تاسو بد نه لړیږي،او نه غوصه درځي،بلکي ځني خو یې ساعت تیرې ګڼې او خولې ورسر هم یو قسم چینګوې،نو تاسو چې په هغه چا چې په تاسو ئې دومره لوی احسان کړئ دی چې: تاسو خبر هم نه وئ او اشرف المخلوقات انسانان یې پیدا کړئ یئ، کورونه،ښځې ،اولادونه او د اسلام لوی نعمت یې درکړئ دی،لحظه په لحظه ستاسو او ستاسو د اولادونو پالنه کوي،نو تاسو چې په خپل داسې محسن (الله تعالی)باندې خفه نشئ،د هغه جل جلاله د آیاتونو او دین پورې خلک ټوقې او مسخرې کوي،تاسو ناست یې،په غوږونو یې اورئ،خو نه خفه کیږئ،نه درباندې بدې لړیږي ،نه غصه درځي،نه د هغې مجلس نه جګیږي چې په کې ستا د محسن(الله تعالی)د دین پسې مسخرې کیږي، یا خو تاسو د سره مسلمانان نه یئ او یا خو په لایتناهې اندازه بې غیرته یاستئ،چې د داسې بې غیرتو د جزا په باره کې الله تعالی فرمایې:)

إِنَّكُمْ بیشکه تاسو إِذًا په هغې وخت کې(چې ځما د دین او آیاتونو پورې د مسخره کوونکو او ریشخند وهونکو په مجلس کې ناست یئ) مِّثْلُهُمْ ۗ (کټ مټ یا هو به هو) د هغو(مسخره کوونکو کافرانو) پشان یاستئ(یعنی کوم سر نوشت چې د هغوی وي هغه به ستاسو هم وي،څنګه چې مو په دنیا کې ورسره خولې چینګولې همداسې به یې په جهنم کې هم ورسره چینګوئ) إِنَّ ٱللَّهَ بیشکه الله تعالی جَامِعُ را جمع کوونکئ(راټولوونکئ) دی ٱلْمُنَـٰفِقِينَ د منافقانو وَٱلْكَـٰفِرِينَ او کافرانو

فِى جَهَنَّمَ په جهنم کې جَمِيعًا ټولو(یعنی څوک چې د الله تعالی،پیغمبر «صلی الله علیه وسلم)،قرآنکریم ،او د الله تعالی د دین پورې ټوقې او مسخرې کوي،او هغه څوک چې دوی ته ناست وي او بدې ورباندې نه لرېږي،نو که تر اوسه په دې نه پوهیدل ،د دې نه وروسته دې پوه شي چې دوی منافقان دي،او کافران او دوی ټول به الله تعالی سره یوځای په جهنم کې وراچوي) ١٤٠

ٱلَّذِينَ يَتَرَبَّصُونَ بِكُمْ فَإِن كَانَ لَكُمْ فَتْحٌ مِّنَ ٱللَّهِ قَالُوٓا۟ أَلَمْ نَكُن مَّعَكُمْ وَإِن كَانَ لِلْكَـٰفِرِينَ نَصِيبٌ قَالُوٓا۟ أَلَمْ نَسْتَحْوِذْ عَلَيْكُمْ وَنَمْنَعْكُم مِّنَ ٱلْمُؤْمِنِينَ ۚ فَٱللَّهُ يَحْكُمُ بَيْنَكُمْ يَوْمَ ٱلْقِيَـٰمَةِ ۗ وَلَن يَجْعَلَ ٱللَّهُ لِلْكَـٰفِرِينَ عَلَى ٱلْمُؤْمِنِينَ سَبِيلًا ١٤١

ٱلَّذِينَ (منافقان یعنی هغه خلک چې هم د مسلمانانو سره لار لرې،او هم د کافرو سره لار لرې،دوی د زړه څخه نه پوره مسلمانان دي ځکه چې په اسلام کې شک کوي، او نه پوره کافر دي ځکه چې ښکاره خو کلیمه وایې)هغه خلک دي(چې کله ستاسو د کافرانو سره جنګ شي،نو) يَتَرَبَّصُونَ دوی انتظار کوي بِكُمْ ستاسو(او حالاتو ته ګورې) فَإِن نو که چیرته كَانَ لَكُمْ فَتْحٌ فتح(او کامیابي) ستاسو په برخه شي مِّنَ ٱللَّهِ د الله تعالی د طرف نه(یعنی د تلې پله ستاسو خوا ته درنه شي) قَالُوٓا۟ (نو تاسو ته دا منافقان) وایې أَلَمْ نَكُن چې آیا نه وو مونږ مَّعَكُمْ ستاسو سره؟(یعنی ستاسو په کامیابی کې مونږ هم ډېر رول لوبولئ دی،قسم -قسم دروغ به جوړوي چې تاسو ته ځانونه ډېر ښه مسلمانان معرفي کړي،تر څو چې تاسو پرې باور وکړئ او ډول-ډول امتیازات ورکړئ. ) وَإِن او که چیرته كَانَ لِلْكَـٰفِرِينَ نَصِيبٌ یو څه کامیابي د کافرانو په برخه شي (یعنی د تلې پله د کافرانو خوا ته درنه شي) قَالُوٓا۟ (نو بیا به دا منافقان کافرانو ته) وایې أَلَمْ نَسْتَحْوِذْ عَلَيْكُمْ

آیا مونږ په تاسو غلبه نشوه کولای (یعنی آیا مونږ په تاسو کامیابیدلای نه شو که چیرته مونږ د مسلمانانو ملګري شوې وو،او ستاسو خلاف مو جنګ کړۍ وو نو مونږ به تاسو ته حتماً شکست درکړۍ وو) وَنَمْنَعْكُم (خو بیا هم) مونږ بچ کړۍ تاسو مِّنَ ٱلْمُؤْمِنِينَ ۚ د مؤمنانو څخه (یعنی مؤمنان مو در څخه یو خوا بل خوا واړول،او دا هر څه مونږ ځکه وکړل چې مونږ د هغوی پشان متعصب نه یو،مونږ هم ستاسو غوندې ازاد خیاله یوو،او اسلامې پابندې نه غواړو،مونږ هم ستاسو پشان خلک غوښتل وغیره وغیره......تر څو چې د کافرو باور پرې راشې او یو څه امتیازات ورکړي) فَٱللَّهُ نو الله تعالی يَحْكُمُ به فیصله وکړي بَيْنَكُمْ ستاسو په منځ کې يَوْمَ ٱلْقِيَـٰمَةِ ۗ د قیامت په ورځ وَلَن يَجْعَلَ او هیڅکله به جوړه نه کړي ٱللَّهُ الله تعالی لِلْكَـٰفِرِينَ کافرانو ته عَلَى ٱلْمُؤْمِنِينَ په مؤمنانو باندې سَبِيلًا لاره. یعنی دا د الله تعالی وعده ده چې کافرانو ته به هیڅکله په مؤمنانو غلبه ورنکړي، حال دا چې په ډېرو ځایونو کې کافرانو په مسمانانو باندې غلبه کړیده،فی الحال هم په دنیا کې مسلمانان د کافرانو دتسلط لاندې دي.

جواب:په دې مبارک آیت کې الله تعالی د«المؤمنین»کلیمه ذکر کړې ده،او کله چې مؤمنین مطلق ذکر شي نو کامل ایمان ترې نه مراد وي،نو مطلب دا دی چې کله په مؤمنانو کې کامل ایمان وي نو دا د الله تعالی قانون دی چې کافران به پرې هیڅکله نه غالبه کوي،لیکن کله چې کافران پرې غلبه کوي نو علت او سبب به ئې د دوی عملونه وي،یعنی کله چې د کافرانو غلبه وربانديې راځې نو سبب ئې دا وي چې په مسلمانانو کې ډېر کم خلک د صحیح ایمان والا وي،اکثره په کې منافقان،ظالمان،فاسقان او ریاءکاران وي.چې د داسې حالت علاج صرف الله تعالی ته رجوع کول او د ګناهونو څخه د زړه د اخلاصه توبه ویستل دي،او که مسلمانان داسې ونکړي،نو

حاكمان او مشران به يې د كافرانو مزدوران ، غلامان او ظالمان وي،نو د چا چې حاكمان،رهبران او مشران غلامان او مزدوران او جاسوسان وي نو د هغوى به څه عزت او څه حيثيت وي پرته د ذلت څخه،چې دا هم د الله تعالى د طرفه د حاكم،رهبر او مشر په شكل يو عذاب دى چې علاج يې صرف په رښتيا د زړه د اخلاصه توبه باندې كيږي. ١٤١

إِنَّ ٱلْمُنَٰفِقِينَ يُخَٰدِعُونَ ٱللَّهَ وَهُوَ خَٰدِعُهُمْ وَإِذَا قَامُوٓاْ إِلَى ٱلصَّلَوٰةِ قَامُواْ كُسَالَىٰ يُرَآءُونَ ٱلنَّاسَ وَلَا يَذْكُرُونَ ٱللَّهَ إِلَّا قَلِيلًا ١٤٢

إِنَّ بيشكه ٱلْمُنَٰفِقِينَ منافقان(فكر كوي چې ګنې) يُخَٰدِعُونَ دوى دوكه وركوي ٱللَّهَ الله تعالى ته وَ حال دا چې هُوَ هغه«جل جلاله» خَٰدِعُهُمْ ( منافقانو ته) د هغوى د دوكې جزا وركوونكئ دى وَ او(بل صفت د منافقانو دا دى) إِذَا كله چې قَامُوٓاْ دوى ودريږي(يا پاڅيږي) إِلَى ٱلصَّلَوٰةِ لمونځ ته قَامُواْ (نو) ودريږي(يا پاڅيږي) كُسَالَىٰ ډېر په سستئ(او لټئ سره،دا هم د دې دپاره چې:) يُرَآءُونَ ځانونه ښيي ٱلنَّاسَ خلكو ته(يعنى د رياء او ځان خودنې دپاره لمونځ كوي نه د ثواب د ګټلو او د ګناه نه د بچ كيدلو دپاره) وَ او بل صفت يې دا دى چې:) لَا يَذْكُرُونَ ٱللَّهَ دوى الله تعالى تعالى نه يادوي(يعنى شپه او ورځ يې ذهنونه،ژبې او اندامونه په چټياتو او عبسياتو كې مصروف او مشغول وي) إِلَّا مګر قَلِيلًا ډېر لږ(ئې يادوي)١٤٢

مُّذَبْذَبِينَ بَيْنَ ذَٰلِكَ لَآ إِلَىٰ هَٰٓؤُلَآءِ وَلَآ إِلَىٰ هَٰٓؤُلَآءِ ۚ وَمَن يُضْلِلِ ٱللَّهُ فَلَن تَجِدَ لَهُۥ سَبِيلًا ١٤٣

مُّذَبْذَبِينَ (منافقان) زړه او نازړه دي (يعنى حيران دي) بَيْنَ په منځ ذَٰلِكَ د دغو(اسلام او كفر)كې لَآ إِلَىٰ هَٰٓؤُلَآءِ نه(سم) د دوى(يعنى

مسلمانانو) په طرف دي. وَلَآ إِلَىٰ هَٰٓؤُلَآءِ ۚ او نه(سم) د هغوی(یعنی کافرانو)په طرف دي. وَمَن او څوک يُضْلِلِ چې ګمراه کړي ٱللَّهُ الله تعالی(یعنی د چا د بدو اعمالو په سبب چې د الله تعالی په عدالت کې په هغه د ګمراه فيصله وشي) فَلَن تَجِدَ نو ته به هیڅکله پیدا نکړې لَهُۥ د هغه دپاره سَبِيلًا (سمه)لار١٤٣

يَـٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ لَا تَتَّخِذُوا۟ ٱلْكَـٰفِرِينَ أَوْلِيَآءَ مِن دُونِ ٱلْمُؤْمِنِينَ ۚ أَتُرِيدُونَ أَن تَجْعَلُوا۟ لِلَّهِ عَلَيْكُمْ سُلْطَـٰنًا مُّبِينًا ١٤٤

يَـٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ای هغو خلکو ءَامَنُوا۟ چې ایمان یې راوړئ دی لَا تَتَّخِذُوا۟ مه نیسئ ٱلْكَـٰفِرِينَ کافران أَوْلِيَآءَ دوستان (اولیاء-داسي قلبي دوستی ته وایې چې یو د بل رازونه ساتي،یو د بل ملاتړ او د زړه د کومې یو د بل سره محبت لري او د مسلمانانو رازونه کافرانو ته وایې ،یا خور او لور ورکوي نو د داسې کولو اجازه د کافرانو او د الله تعالی د دښمنانو سره نشته دی،البته د کافرانو سره ښه رویه،ښه سلوک،ښه دار مدار،ښه اخلاق کول او په ښو اخلاقو سره خبرې او راشه درشه کول جایز دي،کیدای شي چې ستاسو د ښو اخلاقو او ښه سلوک په سبب یې الله تعالی په زړونو کې د اسلام مینه پیدا کړي) . مِن دُونِ پرته د ٱلْمُؤْمِنِينَ ۚ مؤمنانو نه(یعنی د زړه دوستي او دخور او لور ورکول به صرف د مؤمنانو سره کوئ،او که داسې ونکړئ نو) أَتُرِيدُونَ آیا تاسو(دا) غواړئ أَن چې تَجْعَلُوا۟ جوړ کړئ(چې ورکړئ) لِلَّهِ الله تعالی ته عَلَيْكُمْ په تاسو باندې(د خپل ځان په خلاف) سُلْطَـٰنًا مُّبِينًا ښکاره سند (یعنی داسې سند یا دلیل، چې د قیامت په ورځ صرف په همدې دلیل سره د جهنم مستحق شئ) ۱۴۴

إِنَّ ٱلْمُنَـٰفِقِينَ فِى ٱلدَّرْكِ ٱلْأَسْفَلِ مِنَ ٱلنَّارِ وَلَن تَجِدَ لَهُمْ نَصِيرًا ١٤٥

دوزخ (۷) طبقې لرې یوه د بلې دپاسه: ۱-جهنم. ۲- لظىَ، ۳-حُطَمَه، ۴-سَعِیر، ۵-سَقَر، ۶جَحِیم، ۷-هَاوِیَه او دې ټولو ته اور وایي.

إِنَّ بیشکه ٱلۡمُنَٰفِقِينَ منافقان فِى ٱلدَّرۡكِ ٱلۡأَسۡفَلِ په لاندې طبقه مِنَ ٱلنَّارِ د اور کې وي وَلَن تَجِدَ او ته به پیدا نکړې لَهُمۡ دوی ته نَصِيرًا څوک کومک کوونکی(چې یا ئې د عذاب نه خلاص کړي او یا پرې یو څه عذاب کم کړي) ۱٤٥

إِلَّا ٱلَّذِينَ تَابُواْ وَأَصۡلَحُواْ وَٱعۡتَصَمُواْ بِٱللَّهِ وَأَخۡلَصُواْ دِينَهُمۡ لِلَّهِ فَأُوْلَٰٓئِكَ مَعَ ٱلۡمُؤۡمِنِينَۖ وَسَوۡفَ يُؤۡتِ ٱللَّهُ ٱلۡمُؤۡمِنِينَ أَجۡرًا عَظِيمًا ١٤٦

إِلَّا مګر ٱلَّذِينَ هغه(منافقان) تَابُواْ چې توبه یې وویستله وَأَصۡلَحُواْ او ځانونه یې اصلاح کړل وَٱعۡتَصَمُواْ او منګولې یې ولږولې بِٱللَّهِ د الله تعالی په دین باندې وَأَخۡلَصُواْ او خالص یې کړو دِينَهُمۡ دین خپل(یعنی خالص او پاک ئې کړو عبادت خپل د ریا او ځان ښودنې څخه) لِلَّهِ د الله تعالی دپاره فَأُوْلَٰٓئِكَ نو دغه(خلک چې د منافقت څخه یې توبه ویستلې او نیک اعمال پرته د ریاء څخه کوي) مَعَ ٱلۡمُؤۡمِنِينَۖ د مؤمنانو سره(ملګري) دي وَسَوۡفَ او زر به يُؤۡتِ ورکړي ٱللَّهُ الله تعالی ٱلۡمُؤۡمِنِينَ مؤمنانو ته أَجۡرًا عَظِيمًا ډیر لوی اجر(او ثواب) ١٤٦

مَّا يَفۡعَلُ ٱللَّهُ بِعَذَابِكُمۡ إِن شَكَرۡتُمۡ وَءَامَنتُمۡۚ وَكَانَ ٱللَّهُ شَاكِرًا عَلِيمًا ١٤٧

مَّا يَفۡعَلُ څه کوي ٱللَّهُ الله تعالی بِعَذَابِكُمۡ تاسو ته په عذاب درکولو باندې إِن شَكَرۡتُمۡ که چیرته تاسو شکر وباسئ وَءَامَنتُمۡۚ او ایمان راوړئ وَكَانَ او دی ٱللَّهُ الله تعالی شَاكِرًا شکر قبلوونکی عَلِيمًا (او) پوه.(یعنی ای د الله تعالی بندګانو نعوذبالله الله تعالی داسې نه

دی،لکه تاسو چې تر څو خپل بدل د چا څخه وانخلی او جزا ورنکړئ نو نه مو غصه سړېږي او نه مو فشار کمیږي،مګر الله تعالی نه تاسو ته د حسد او کینې په سبب عذاب درکوي،او نه یې تاسو ته په عذاب درکولو کې څه ګټه شته دی،او نه ستاسو کفر څه ضرر ورسوې،چې تاسو ته په عذاب درکولو یې د ځان نه واړوي،بلکې الله تعالی خو بې نیازه دی،نو په دنیا او آخرت کې په تاسو عذاب ستاسو د ګناهونو او کفر په سبب په تاسو راځي چې علاج یې د زړه د اخلاصه توبه ویستل،شکرکول او په الله تعالی ،قرآنکریم او محمد صلی الله علیه وسلم باندې د زړه د کومې څخه ایمان راوړل دي.) ۱٤۷

ډاکتر محمد عثمان نظامی